مورچل

اووم کال ، شپږمه گڼه،پرلپسې ۵۸ گڼه،شعبان المعظم، ۱۴۳۴هـق- جون ۲۰۱۳م

دافغانستان دغميزې معقول حل !

ملت مصر و مصائب ديموکراسۍ !

خواجه رواش کې فدايانو څه وليدل ؟!!

دتعليم اوتربيې دکميسيون محترم رئيس له مورچل سره په خانګړې مرکه کې :

دښونځيوسوځول،په نجونو تيزاب شيندل داسلامي امارت دپالیسۍ خلاف عمل اوپه کلکه يې غندو !

تراويح مشروعيت اواحکام يې

مورچل

دمضامینو لړلیک

اووم کال پنځمه ګڼه، پرلپسې 57 ګڼه، رجب المرجب 1434 می 2013م

ګڼه	مطلب	ص
1	دافغانستان دغمیزې معقول حل	2
2	ملت مصر ومصائب دیمکراسي	4
3	دتعلیم اوتربیې کمیسیون رئیس له	7
4	اوکراین	15
5	خواجه رواش کې دفدایانو څه ولیدل	18
6	تراویح، مشروعیت اواحکام یې	20
7	داسلام غزوات اوسرایا	24
8	نظام اسلامي تنها راه حل معضلات ملتها..	28
9	موږ له هر هغه شي څخه ویره لرو چې	31
10	په زړه پورې واقعه	32
11	ذبیح الله مجاهد څو شیبې له خپل ولس...	37
12	دمورچل دار الافتاء	43
13	دخبر لیکنې ژورنالیستیکي آرونه	46
14	دشهید مولوي عبدالسلام ژوندته لنډه	55
17	دسیاسي بندیانو ډله ایزه وژنه	60
18	جنګي جنیاتونه	62
19	ام المؤمنین حضرت خدیجة الکبری	66
20	المرتضی، دامیر المؤمنین علی بن ابی	72
21	امریکا په خپل لاس بل کړي اور کې	77
22	رمضان، فصل نبردهای سرنوشت ساز	80
23	میاشتني خبرونه	82
24	دمورچل وږمې	128
25	انځوریز مورچل	
26	د تلفاتو میاشتني جدول	

میاشتنۍ، علمي، سیاسي اوجهادي خپرونه

دامتیاز خاوند:

دافغانستان اسلامي امارت
دفرهنګی چارو کمیسیون

مسؤل مدیر:

شکور (شفق)

کتنپلاوی:

حسن خپل، ایوب صافی،
حسن زوی، حکمت بغلانی،
زبیر مسافر، حافظ سعید

تخنیکي همکاران:

ارغوان ـــ صابر

ادرس اومکاتباتي پته:

پته: کابل ښار څلورمه حوزه
مجلې دفتر

E-mail: baakhtaraf@yahoo.com

بسم الله الرحمن الرحيم

سرمقاله

دافغانستان دغميزې معقول حل !

شک نشته چې دافغانستان د روان ناورين لا مل دامريکا په مشرۍ دناټودعسکرو دنامعقول اوناموجه يرغل اودافغانستان دمشروع او قانوني حکومت (دافغانستان اسلامي امارت)پر خلاف ددې لوريوله عداوته ډک چلند و ،داسلامي امارت دواک په کلونو کې چې امارت دخپل مشروعيت ټول ټول شروط پوره کړي وو ،دهيواد دپلازمينې په ګډون دافغانستان پر زياته خاوره تسلط ، دخپل ولس ډاګيز ملاتړ ،د ملل متحد دمعقولواوهغو قراردادونواو تعاهداتوچې له مقدس شريعت سره په تکر کې نه وه رعايت اونورهغه معيارونه چې له امله يې ديوه حکومت په حيث داسلامي امارت مشروعيت اودنړۍ دملتونوحقوقي ضمانت ترلاسه کيدای شو لا دمخه احتواء کړي وو ،خوددې ټولوالتزاماتواو رعايتونوسربيره بيا هم نړيوال کفري بلاک اوددوئ ځيره خوروهيوادونواسلامي امارت ته ديوه مشروع حکومت په ستر ګه ونه کتل اونه يې تر پايه تررول شوي حقوق بيرته ورکړل ،برعکس يې زمونږهيواد دنامعقولو وجوهاتوپربنسټ دبارودوپه لوخړوکې پټ ، اشغال اودبې ګناه افغان ولس لسګونه زره وګړي يې شهيدان ،معيوب ،زندانيان او ددوئ کورونه يې په کنډوالوبدل کړل .

اوس چې څه باندې دوولس کاله تيرشوي اوبهرنيانودخپلوعسکروډيری جنازې وړې ،مالي زيانونه يې وليدل اوپوځي ماته يې وخوړه ،نو «طوعا او کرها» يې داسلامي امارت په پوځي طاقت ،سياسي درايت او ولسي ملاتړ له اعتراف نه وروسته دسياسي حل په موخه داسلامي امارت دروازه وټکوله اوقطر کې يې دامارت دسياسي حضورلپاره په يوه ډيپلوماتيک دفتر سلا وکړه ،اشغالګرچې په پوځي ډګر کې مات شول ،نودخپلې ابرومندانه وتنې لپاره يې دسياسي حل له لارې چارې دخپل اشغال خاتمه له ډيپلواتيکولارو ممکن وګڼله !

که څه هم دداسې يوه نا معقول اشغال پروړاندې مسلمان ولسونه دخپل نجات اوازادۍ لپاره له وسله وال جهاد او شهادت څخه په غيربله لاره نلري او ديوې سپيڅلې ديني فريضې په صفت يې پر اداکولوځانونه مکلف بولي ،خوچې مقابل لوری په سوله ايزوخبرواشغال پای ته رسوي اومذاکرات کوي، نومجاهدين بيا لکه دجهادي شهکاريوپه څير دې ته هم چمتو دي ،اوداصادقانه خبرې اترې دخپل دين ددوهم اصل په بڼه پيژني «وان جنحوا للسلم فاجنح لها وتوکل علی الله » القران ،همداسې درسول الله صلی الله عليه وسلم په لاس دمکې له مشرکانوسره د(حديبيې)تاريخي صلح ،هغه غښتلی

سوله ایز اصل دی چې ترقیامته پورې یې مسلمه امت دیوه نبوي سنت په صفت دخپلو شرطونو په پوره کولوسره پرځای کولای شي ،همداسې دبیت المقدس دفتحې تاریخي سوله ایزه معاهده چې داسلام ددوهم خلیفه حضرت عمر رضی الله عنه په لاس له نصاراووسره لاسلیک شوې داټول هغه اسلامي تعلیمات دي چې اسلامي امارت ته ددې جرأت ور کولای شي چې داشغالګروسره داصولوپه رڼا کې خبرې وکړي او(داسلام دلواء)دهسکوالې په صورت کې دافغانستان غمیزې ته یو معقول حل پیدا کړي ،داددې اثبات هم دی چې اسلامي امارت که داسلامي خاورې دخپلواکۍ لپاره جهادي تګلاره پرمخ بوځي نوپه خبرو کې هم له چانه شاته ندی ،دادواړه هغه معقولې شرعي لارې دي چې دارتیا او خپلو شرطونودپوره کولو په صورت کې ترې ګټه اخستل کیدای شي .

دې وروستیو کې دناټوعسکروبرتانوي مرستیال(جنرال کارټر)خپل مشران پدې ملامت کړل چې ولې یې لس کاله مخکې له طالبانوسره سوله ونکړه !نومورې جنرال ګاردین ورځپاڼې ته وویل چې طالبانوسره دخبرو فرصت مو په (۲۰۰۲)زکال کې له لاسه ورکړی اوهغه وخت ورسره سوله کیدای شوه ،ددې له نظره که په ۲۰۱۴زکال کې خارجي عسکر له افغانستانه ووځي نودکابل اوسنی رژیم به په ډیر لږوسیمو کنټرول ولري .....

ددې برتانوي جنرال له څرګندونوڅخه داسې جوتیږي ، چې ددوئ یرغل نا معقول اودوئ نور دجنګ تاب نلري اوسولې ته ظاهرا ډیرلیوالې دي ، خو مشران یې ورسره غدر کوي ، چې دسولې نښه مواقع یې له لاسه وتلې او اوس چې مجاهدینوهیوادشموله جهادي پروسه پیل کړي نواوس به ددې ارتیاوي چې دمجاهدینو شرطونه ومني اوهم ډیرې اندیښنې ورسره شته چې دبهرنیانوله وتلو وروسته به یې په ګوتوجوړه شوې اداره ډیرژر راونغښتل شي او دکومې بقاء تضمین یې له چاسره نشته .خواسلامي امارت چې دخپل اصولي دریځ له امله نه پخوا دسوله ایز حل کوم تردید کړی اونه یې اوس کوي ،دادی ګوروچې همدا اشغالګردي چې دربې حل نه غواړې اونورهم دجګړې دادامې لاملونه زیږوي ،خواوس چې نوردخپلې فاحشې ماتې خوبونه ګوري ، دامارت اصولیت ته په سلامې یې نورهمدوئ دقضیې سیاسي حل غواړې اود اشغال غروریې مقدس جهاد ته سلامي شوی ،اسلامي امارت چې دخپلواصولو له مخې داشغال خاتمه اودشرعي نظام نفاذ او دخپل مسلمان ولس هوسایینه دخبرولومړنی شرط بولې اوپدې اصولوله هیڅاسره سودا نه کوي، نوپه څرګندوټکیونړیوالوته وایوچې اسلامي امارت سره دافغانستان دکشالې دمعقول حل یوازې دوه لارې شته لومړی جهاد چې همدا دمسلمه امت اوافغان ولس دعزت لاره بولي ، که مقابل لوری په صادقانه ډول اشغال پای ته رسوي اودمجاهد ولس مسلم دحریت حقونه نه ترپښولاندې کوي ، نودشرعي احکامو په رڼا کې چې افغاني عنعنات هم احتواء کوي اسلامي امارت ددې غمیزې سوله ایزې خبرې اترې دوهم معقول حل بولې اوپدې دواړو کې به داسلام ء لواء اودافغان ولس شمله هسکه ساتې ! انشاءالله تعالی

تبصره

ملت مصر

ومصائب دیمکراسي!

بتاریخ سوم ماه روان جولای سال جاری 2013 میلادی اردوی مصر به تحریک اجنبی ها رئیس جمهور منتخب مصر محترم محمد مرسی را با کودتای نظامی از قدرت خلع کرد ، نه تنها اینکه اردو به رای ملت و قانون مصر احترامی قائل نگردید بلکه زندانها را از اعضای حکومت قانونی این کشور پر کرد ، رهبران تنظیمهای اسلامی بخصوص رهبران حزب آزادی و عدالت را تحت تعقیب قرار داد ، بر مظاهره کنندگان در گارد ریاست جمهوری در حالی حملات و فیرهای بی رحمانه ای انجام داد که انها در حال اقامهء نماز صبح بودند ! بشمول اطفال و زنان دها تن از انان را به شهادت رسانده و بیشتر از هزار تن دیگر را مجروح کرد ! این عملکرد غیر عادلانهء اردوی مصر تاکنون ادامه دارد.

بجای اینکه اردو در کنار حکومت قانونی و رئیس جمهور منتخب بایستد و جلو اغتشاش کنندگان را بگیرد ،برعکس بر علیه حکومت قانونی و رئیس جمهور منتخب اقدام نموده و به حمایت از سیکولار ها و لیبرالها پرداخت ! اردوی این کشور کودتای نظامی خویش را زیر نام قیام مردمی به انجام رسانید ، و در این راه از کمبود و نبود بصیرت سیاسی بعضی از شخصیت های سیاسی و دینی سوء استفاده کرد !

همانند دکتور احمد طیب شیخ محترم جامعهء ازهر و دیگر اشخاص روحانی را در این مصیبت ملی و تاریخی با خود شریک ساخته و از انها به عنوان مشروعیت دهندگان و شاهدان این کودتای نظامی استفاده کردند ! بدین ترتیب در سطح جهانی و خصوصا در دنیای اسلام زیان بزرگ قانونی و شرعی به حیثیت جهانی و اسلامی ازهر شریف وارد

گردید ! برای اینکه این حیثیت دوباره اعاده گردیده و صدمهء وارده جبران گردد ، باید در حمایت و طرفداری از حق شیخ شریف الازهر بایستد و از موقف کنونی خویش بصورت علنی اظهار پشیمانی نماید !

اردوی مصر همانند امریکا برای توجیه عملکرد غیر قانونی خویش به مخالفان کودتا کنونی القاب دهشت گرد ، تروریست و دشمنان وطن داده و رهبران گروه های اسلامی را به ایجاد فتنه، استفاده از اسلحه ، خونریزی و .... و.... متهم کردند ! حاکمان جهان غرب که دیموکراسی را بزرگترین دست آورد نظام های خویش میدانند ، انتخابات و حکومتهای منتخب را حق مسلم ملت ها می شمارند ، نه تنها اینکه بر جنازهء امید ها و آرزوهای ملت مصر اشک نریختند بلکه کودتای نظامی را راه چاره برای بیرون رفت این از اوضاع جاری دانستند !

اگر کمی آنطرف تر نگاه کنیم ، مشاهده می کنیم زمانی که تنظیمهای اسلامی در انتخابات الجزائر کامیابی کامل را در این کشور بدست اوردند ، بجای اینکه حکومت به انها سپرده شود ، آنها را به محابس و قبرستانها فرستادند ! در فلسطین زمانی که حزب اسلامی حماس در انتخابات کامیاب گردید ، هیچ یک انرا به رسمیت نشناخت ، بلکی مهر دهشت گردی را به انها وارد کردند ، همچنین در ترکیه زمانی که نجم الدین اربکان از طریق انتخابات قدرت را بدست گرفت ، بزور و با استفاده از قدرت از صحنه دور گردید ! و اینست اکنون در مصر حزب آزادی و عدالت در انتخابات کامیاب گردید ، مگر نگذاشتند که زمان تعیین شدهء قانونی خویش را تکمیل نماید.

از قدرت خلع کردن حکومت منتخب مصر بصورت غیر اخلاقی و غیر قانونی و عکس العمل کند جهانی ، نشان می دهد که آوازه های دیموکراسی و شعارهای انتخابات یک

پروپاگندای فریب دهنده است ، و زمانی مورد تائید و قبول قرار می گیرد که تمثیل کنندگان خواسته ها و اراده های اهداف غربی ها به قدرت برسند ، در حالی که حاکمیت و قدرت انها هم ریشه ملی دارد ، و هم حمایت غرب، مگر زمانی که در نتیجهء همین نظام غربگرا ، قوتهای اسلامی به کامیابی برسند ، نتیجتا انها نه کفایت و نه هم رضایت ملت را با خود دارند !

برای اینکه این مصیبت کنونی ملت مصر به پایان برسد ، باید هر زودتر به رئیس جمهور منتخب مصر محترم دکتور محمد مرسی قدرت و حاکمیت قانونی دوباره سپرده شود ، رهبران احزاب سیاسی از زندان رها گردند ، و از دستگیری اشخاص و افراد دیگر خودداری شود ، زیرا تاثیر و نتائیج منفی اینگونه اعمال نه اینکه کشور و ملت مصر را با نابسامانی های بسیاری روبرو خواهد کرد بلکه در منطقه و جهان و خصوصا بشمول کشور عزیز ما افغانستان و دیگر کشورهای اسلامی و ملت ها تاثیر بسیار منفی خواهد داشت ، زیرا مردم به ترک کشور مجبور خواهند شد و بدین ترتیب منطقه و جهان بسوی ناامنی و هرج و مرج سوق داده خواهد شد.

دتعلیم او تربیې کمیسیون مسؤل : محترم مولوي محمد اقبال

له مورچل سره په خانګړې مرکه کې :

دښونځیوسوځول، په نجونو تیزاب شیندل داسلامي امارت دپالیسۍ خلاف عمل اوپه کلکه یې غندو!

درنو لوستو نکو داخل مو دمرکو په لړ کې دموضوع اهمیت ته په کتو سره دتعلیم او تربیې دکمیسون دمشر الحاج محترم مولوي محمد اقبال صاحب سره دتعلیم ارتربیې دکمیسون دفعالیتونو او نورو اړوندہ موضوعاتو په اړه ځانګړې او هراړخیزه مرکه کړې چې ستاسو توجه ورته را اړوو.

پوښتنه : ډیر محترم مولوي صاحب تاسو ته هرکلی وایو !

که له هرڅه وړاندې دمعارف کمیسیون دتشکیلاتو په اړه معلومات راکړئ ، دغه راز ددې کمیسیون د دندو په اړه هم که معلومات راسره شریک کړئ ؟

ځواب : الحمد لله وکفی والصلوة والسلام علی عباده الذین اصطفی امابعد فاعوذ بالله من الشیطن الرجیم یرفع الله الذین آمنو منکم والذین اوتوا العلم درجات ، صدق الله العظیم

له هرڅه وړاندې داسلامي امارت دمعارف کمیسیون په استازیتوب تاسو او ټولو لوستونکو ته مسنونه تحیه السلام علیکم وړاندې کوم.

ستاسو دلومړنۍ پوښتنې په ځواب کې باید ووایم چې داسلامي امارت دمعارف کمیسیون تشکیلات په لاندې ډول دي.

دکمیسیون عمومي رئیس ،دکمیسیون اعضاء چې عبارت د(۲۳) نفرو څخه دي ،

اداري رئيس ، علمي بورډ (علمي شوری) چې په (۱۲) نفرو جيّدو علماوو مشتمل دی.

دغه راز دمعارف کميسيون په ټولو ولايتو کې دتعليم اوتربيې رئيسان اوپه ټولو مفتوحه ولسوالیو اوهغو ولسوالیو کې چې دتعليم اوتربيې کارپکې روان ده دتعليم اوتربيې مديران لري چې ټول ولايتي رئيسان (۳۴) اوټول دولسوالیو مديران (۳۰۸) نفره کېږي. اوهم دهر ولايت لپاره يو يو تعليمي مرستيال مقرر شوی دی چې هغه هم (۳۴) نفره کېږي چې په دې توګه زمونږ دفعالينو شمير سوونو ته رسيږي.

او دمعارف دکميسيون دلائحې له مخې زمونږ دندې په لاندې ډول تشخيص شوي دي

۱- دکميسيون دضروري تشکيلاتو بشپړول.

۲- دابتدائي اولمړنيو زده کړو لپاره په کليوالي سيمو کې کليوالي مدرسې او مکاتب جوړول.

۳- دديني لوړو زده کړو لپاره ليليه مدارس اودرسونه جوړول.

۴- دقرآنکريم دقرائت ، تجويد اوحفظ لپاره دارالحفاظونه جوړول.

۵- دعصري زده کړو لپاره شرائط برابرول.

۶- دعالي تحصيلاتو دمؤسساتو نظارت کول.

۷- دجهاد ديتيمانو لپاره دارالايتامونه جوړول.

۸- د إفتاء اوقضاء په برخه کې کورسونه جوړول.

پوښتنه : په تيرو څو کلونو کې دمعارف کميسيون دمهمو فعاليتونو په اړه که معلومات راکړئ ؟

ځواب : تاسو پوهيږې چې مورږ په ډيرو سختو اوجګړ ايزو شرايطو کې قرار لرو ، چې له امله يې دمعارف کارونه له خندونو او مشکلاتو سره مخ دي ، خو بيا هم مورږ دالله تعالی شکر اداء کوو چې له شته امکاناتو په استفاده مورږ تراوسه دمعارف په برخه کې ډير څه کړي چې ځيني فعاليتونه په لاندې توګه يادولای شو.

دکليوالي مدرسو په برخه کې

څرنګه چې زمونږ اکثريت ملت په اطرافو اوکليوالي سيمو کې ژوند کوي اود ډېرو تعليمي اسانتياوو څخه بې برخې دی نودهغوی دکوچنيانو لپاره په خپلو کليو کې دابتدائي ،

ضروري ديني تعليماتو لپاره دکليوالي مدرسو جوړول دکميسيون له اهدافو څخه يو مهم هدف دی چې په لاندې ځانګړتياوو سره په دې برخه کې قدم اخيستل شوی دی !

الف: ددوی دتعليم لپاره دکليو امامان مؤظف شوې دي ترڅو په ورځ کې اقلاً له (۲) څخه تر (دوه نيم) ساعته پورې دخپل کلي کوچنيانو ته په مسجد يا يو کور کې درس ووايي.

ب: ترڅو چې ددوی لپاره يو ټاکلی نصاب جوړ ېږي مروّج ديني مضامين لکه

قاعده ، قرآنکريم ، شروط الصلاة ، قدوري ، پنج ګنج او دمجاهدينو دوخت دمکاتبو د لمړنيو درېو صنفونو کتابونه ورته ويل کېږي.

ج: پورتني کتابونه او ورسره نورتعليمي مواد لکه قلم ، کتابچه وغيره دکميسيون لخوا ورته برابرېږي.

د : دهجرت په ديارکې هم کوشش روان دی ترڅو په کمپونو کې هم زمونږ دمهاجرو کوچنيانو لپاره دتعليم زمينه برابره کړو.

هـ: ددغو کليوالي مدارسو لپاره دوخت اوشرائطو سره سم ددرېو کلونو يو نصاب جوړ شوی اوچاپ ته آماده دی.

ددې زده کړو (ليليه مدارسو) په برخه کې !

الف: دمدارسو دښه تنظيم ، دتعليم اوتعلم دکيفيت دلوړوالي ، او دطالبانو داخلاقي معيارونو د برابر ولوپه منظور په (۲۰) مادو کې يوه مسوّده دکميسون لخوا دمدارسو دمشورو اونظرياتو په پام کې نيولوسره ترتيب شوي اوټولو مدارسوته توزيع شوې چې ترعمل لاندې ده ، په دغه مسوده کې تعليمي کال ، دامتحاناتو وختونه ، دامتحاناتو نظم ، دطالبانو لپاره تعليمي اواخلاقي اصول ، دطالبانو ترمنځ دتقريري اوتعليمي مُسابقې مقررات روښانه شوې دي.

ب: دپورته مسودې په رڼاکې سږکال په ۲/۵/۴ ربيع الثاني / ۱۴۳۴ هـ ق چې د ۱۳۹۱ هـ ش کال ددلوې /۳۲/ ۲۸/۲۷ چې د ۲۰۱۳ ميلادي کال دفروري د ۱۴/ ۱۲/۱۵ سره سمون خوري دشپږمې درجې دطالبانو ترمنځ دډېرو زياتو مدارسو په سطح تقريري مقابله اومسابقه وشوه چې الحمدلله په پوره نظم اوترتيب اوبريالیتوب سره ترسره شوه.

اوښه په زړه پورې تقريرونه په عربي ، فارسي او پښتو ژبوکې وشول چې بيا ښو نمرو اخيستونکو طالبانو ته اوهم ټاکلي ممتحنه هيئت ته په زړه پورې انعامونه ورکړل شول.

ج: دعلمي بوډ (علمي شورى) لخوا ټولو ديني مدارسو لپاره دډېرغور اوڅيړنو وروسته د۱۴۳۳ هـ ق کال درجب المرجب دمياشتې په ۲۵ نيټه چې د۱۳۹۱ هـ ش کال دجوزا دمياشتې ، ۲۲نېټې سره سمون خوري دټولو ديني مدارسو لپاره يوجامع اومعياري واحد تعليمي نصاب ترتيب اوتصويب شو چې په ابتدائيه ، متوسطه ، اويوولسو درجومشتمل دی اودوخت اوضرورت سره سم مضامين پکې ځای شوي چې دغه نصاب سمدلاسه ټولو مدارسو ته توزيع اودمدارسو اواستاذانو لخوا ښه استقبال شو چې پدې لومړي کال کې ترډېره حده عملي شو.

د : په کال کې درې امتحانه واخيستل شول سه ماهي ، ششماهي اوسالانه چې په سالانه امتحان کې دلوې دورې (دوره حديث) او وړې دورې (موقوف عليه) دفارغينو څخه په مشترک ډول دمتحدوپرچوپه شکل کې امتحان واخيستل شو ، سره له دې چې دا لومړی ځل اولومړی کال وو اومشکلات هم زيات وو په راتلونکې کې به دا بهير نور هم ښه کيږي ، کوم فارغينو چې په امتحان کې برخه اخيستې کميسيون په پام کې لري چې هغوی ته رسمي اسناد ورکړي.

ديني ليليه مدرسې چې دتل لپاره زموږ دملک يوه علمي سرمايه ده اودنېکبختۍ خبره داده چې دغه لړۍ همېشه زمونږ دملت اوعامه مسلمانانو ترحمايې لاندې را روانه ده او اوس هم په دغه سختو امنيتي شرائطوکې دحالاتو په تناسب ديني ليليه مدرسې او درسونه موجود دي اوهم دهجرت په کمپونو کې زموږ دبا احساسه اوبادرکه علماء کرامو په زيار اوکوشش کفي مقدار کې مدارس تأسيس شوي اوپه فعاليت لګيادي چې ددغو دښه انسجام اوتنظيم پخاطر لاندې اقدامات ترسره شوې دي.

الف: دکميسيون لخوا وخت په وخت دمدارسو مسئولين اومهتممين راغوښتل کېږي او دتعليمي نظام دبهبود اوترقۍ اوپدې لارکې دپرتو ستونزو دحل په خاطر ورسره ګډې غوندې جوړېږي.

ب: ددیني ليليه مدارسو دنظارت اوکنترول لپاره يو علمي مجلس(علمي شورى) چې په (۱۲) نفرو عمده اوجيدو علماوو اوشيوخو مشتمل دی تأسيس شوی ترڅو وخت په وخت دکميسيون سره په همکارۍ کې په دغو مدارسو کې دوضع شوو اصولو اومقرراتو اوهم دمدارسو پرنصاب نظارت اوکتنه وکړي.

ج: په مختلفو سیمو کې د مدارسو د ښه تنظیم او پوره مراقبت په منظور د علماوو څخه نمایندګان ټاکل شوې دي ترڅو د مربوطه سیمې د مدارسو نظارت وکړي او د ضرورت په وخت کې د مدرسو د مهتممینو سره غونډې وکړي.

د عصري تعلیمي ادارو په برخه کې

د عصري زده کړو لپاره هم کوشش شروع ده ترڅو د امکاناتو ترحده ښه شرائط ورته برابر کړو او د موجوده مکاتبو پوره نظارت کېږي البته د دغو عصري ادارو او مکاتبو لپاره پر نولس (۱۹) مادویوه مسوده ترتیب شوې ترڅو دهغې په رڼا کې د مکاتبو هرارخیز نظارت وشي. د مثال په توګه

۱- د مکاتبو نصاب هروخت کنترولېږي او دا د علماوو دیوهیئت لخوا کتل شوي او په هغو کې لازم اصلاحات راوستل شوي او دغه د اصلاحاتو اوراق تقریبا د ټولو مکاتبو اداروته رسول شوی دی چې د مسئولو اشخاصو لخوا یې نظارت او تعقیب کېږي.

۲- تعلیمي پروګرام د مکاتبو لپاره د کمیسیون لخوا ترتیب شوی ، دیني او ضروري مضامینو ته زیات وخت ورکول شوی او په تقسیم اوقات کې رامخته شوي دي.

۳- په هرمکتب کې د ضرورت په اندازه دیني علماء او مجوّد قاریان مؤظف شوي ترڅو دیني مضامین او قرآنکریم دهغوی لخوا تعلیم شي.

۴- د شاګردانو د اخلاقي او تربیتي معیارونو د لوړوالي په منظور ورځني ، پنځلس ورځنی او څلور میاشتنی سمینارونه او کنفرانسونه په نظر کې نیول شوي دي چې د دیني علماوو لخوا ورته دیني روزنه ورکول کېږي.

۵- نامطلوبه اشخاص چې د اسلامي عقائدو او مقرراتو پرخلاف دغلامې اداړې سره سیاسي او مفکوروي روابط لري نظارت کېږي د تشخیص په صورت کې له اداري څخه ایستل کېږي.

۶- غیرشرعي او غیر افغاني یونیفارم مطلقاً بند دي.

۷- ګوندي او تنظیمي فعالیتونه چې د مسلمانانو په منځ کې تفرق راولي مطلقاً بند دي.

۸- د اسلامی تعلیم کتابونه چې عقیدوي او فقهي مسائل احتوا کوي په ټولو ټولګیو کې لازمي ګرځول شوي دي

۹- دعالي تحصيلاتو لپاره چې کوم شاګردان پوهنتونونو ته مراجعه کوي هغوی ته ابلاغ کېږي چې دخارجي دولتونو لخوا په جوړ شويو پوهنتونونو اوحربي ښوونځيو اوپوليسو اکادمي کې شموليت ممنوع دی.

د دارالحفاظونو په برخه کې.

د دارالحفاظونو په جوړولو کې هم دامکانات تو ترحده کوشش روان دی خود موجوده دارالحفاظونو لپاره په نظرکې دي ترڅو له يوې خوا دهغولپاره يو په زړه پورې نصاب ترتيب کړو. اوله بلې خوا دامتحاناتولپاره يومنظم پروګرام جوړاوفارغينولپاره يې ښه معياري سندبرابر کړو. ان شاء الله

۱۰- دعالي تحصيلاتو دمؤسساتو اوپوهنتونونو دنظارت لپاره مشخصه اداره موجوده ده چې دهغې لخوا يې نظارت کېږي اوهروخت ورسره په رابطه کې ده کوښښ کوو ترڅو دغه لړی او رابطه نوره هم منظمه اوګرندی کړو.

دجهاد دیتیمانو په برخه کې!

۱۱ـ دجهاد دیتیمانو لپاره په موجوده وخت کې دوه دارالایتامونه لرو چې د(۲۰۰) په شاوخواکې يتيمان پکې زده کړې کوي ددوی لپاره ښه صالح او پرهيزګره استادان ټاکل شوي ددوی دتعليم څخه علاوه ددوی داخلاقي تربيې لپاره هم پوره انتظام شوی اوپوره نظارت يې کېږي ، ددې څخه علاوه ددوی خوراک ، پوشاک ، اونورټول ضرورتونه يې کميسيون په غاړه اخيستي دي.

په راتلونکې کې کوښښ کوو که ممکن وو دغه دارالایتامونه نور هم دضرورت په اندازه ډېرکړو.

۱۲ـ د إفتاء اوقضاء په برخه کې هم موږ وعده کړې اوکوښښ کوو ترڅو په لوړه سطحه دتخصص ښه معياري کورسونه جوړ کړو اونامتو اوجيد علماء کرام داستادانو په حيث ورته وټاکو چې دغه کاربه هم زموږ دټولنې عمده علمي مشکلات اونيمګړتياوې رفع کړي

پوښتنه : دښمن هڅه کوي دمعارف له سيستم نه په استفاده دافغانستان نوی نسل ګمراه کړي او له همدې امله يې په نوي نصاب کې ځيني غلط افکار ځای په ځای کړي ، ددې توطيې په شنډولو کې دمعارف کميسيون تراوسه کوم ګامونه اخيستي دي ؟

ځـــواب : په دې اړه هم مونږ مخکې اشاره وکړه چې دښمنځيو په نصاب کې دښمن هڅه کوي چې په ډېر مرموز او مکارانه ډول داسې مضامين پکې ځای په ځای کړي ترڅو شاګردان بې لارې اوذهنيت يې ورخراب کړي خو دغه نصاب ترجدي څارنې لاندې دي اوهر وخت يې داصلاح لپاره دفني اومسلکي علماوو هيئت تر کل کېږي ترڅو هغه خرافات تشخيص اومحوه کړي او دموضوع اصلي تعبير داسلامي اصولو په چوکاټ کې روښانه کړي چې اوس هم دغه داصلاح پانې دسږ کال لپاره دټولو مکاتبو اداروته رسولی شوې دي اودمسئولو کسانولخوا يې پوره تعقيب کېږي.

پوښتـــنه : کله ناکله دهيواد په مختلفو سيمو کې ښوونځي سوزول کيږي ، يا دښوونځيو نجونې مسمومېږي او يا هم تيزاب ورباندې شيندل کيږي ، ستاسو په نظر دا کارونه څوک کوي ؟

ځـــواب : دښونځيوسوځول اويا دښوونځيو په نجونو تيزاب شيندل اويايې مسمومول داسلامي امارت دپاليسيو خلاف يو عمل دی اوهروخت يې دغه کارونه غندلي اورد کړې دي زمونږ دايقين دی چې دغه ډول کارونه داسلامي امارت ددښمنانو اودلاس پوڅي اداري کارده چې پدې اړه اسناد هم په مطبوعاتو کې خپاره شوې دي ترڅو په دې کارسره داسلامي امارت په ضد ديوې تبليغاتي حربې په توګه استفاده وکړي.

پوښتـــنه : دښمن تور لګوي چې مجاهدين دمعارف له مسئلې څخه سياسي او تبليغاتي استفاده کوي ، او له همدې امله کله ناکله دهيواد په مختلفو سيمو کې ښوونځي ترړ کيږي ، ددې مسئلې حقيقت څه دی ؟

ځـــواب : مونږ مخکې روښانه کړه چې اسلامي امارت کوښښ کوي ترڅو ديني اوعصري علوموته وده ورکړي اسلامي امارت دتعليم اوتربيې کميسيون دښوونځيو نظارت کوي خوترې يې نه بلکه دښمن په ځينو ځايونوکې داسې يو عمل ته لاس اچوي ترڅو ښوونځي بند شي اوبيا د تبليغاتي وسيلې په توګه ورڅخه استفاده وکړي .

پوښتـــنه : دمعارف کميسيون دکار په وړاندې عمده ستونزې کومې دي ؟

ځـــواب : دتعليم اوتربيې په وړاندې عمده ستونزې زمونږ په ملک کې ددښمنانو ديرغل په سبب سخت امنيتي شرائط ، اودمالي امکاناتو کمبود دي.

پوښتنه : د تعليم او تعلم په باره کې د اسلامي امارت رسمي پاليسي څه ده ، په دې اړه که معلومات راکړئ ؟

ځواب : د تعليم او تعلم په اړه د اسلامي امارت پاليسي ډېره روښانه او واضح ده لکه څنګه چې اسلامي امارت پخپله يوه علمي ټولنه ده نو ځکه غواړي زمونږ د ملت هر فرد او وګړی د علم او پوهې له نعمت څخه برخمن او د علم رڼا د ملک هر ګوټ ته ورسوي چې دهمدې هدف لپاره يې د تعليم او تربيې کميسيون تأسيس کړي ترڅو له دې لارې د علم او پوهې د تروېجولو لپاره ښه او مؤثر خدمت ترسره کړي.

پوښتنه :له محصلينو او د هيواد د نباري سيمو له تعليمي ادارو سره مو رابطې څنګه دي؟

ځواب : افغاني محصلين چې زمونږ وروڼه او اولادونه دي په هره اداره او هرځای کې چې وي د حالا تو او شرائطو په تناسب د امکان تر حده مونږ خپل روابط ورسره ساتو او وخت په وخت مونږ دوی ته د اسلام د اصولو په رڼا کې د اسلامي امارت پاليسي څرګندوو تر څو د يهودو او نصاراوو او نورو د نبمنانو د دسيسو بنکار نشي او د خپلو اسلامي او افغاني معيارونو دفاع وکړي ، کوښښ کوو چې رابطې نورې هم ښې ، منظمې او ګړندی کړو.

پوښتنه : که د معارف کميسيون د مسؤل په حيث کوم پيغام لرئ ، هيله ده راسره شريک يې کړئ ، ترڅو يې تر لوستونکو ورسوو .

ځواب : د تعليم او تربيې د مسئول په حيث زما پيغام دادی چې د هيواد هروګړی بايد د تعليم او تعلم په لارکې زمونږ سره هر راز مرسته او همکاري وکړي !هغه که د مشورې له لارې وي او که د تعليمي مواد و او مالي امکاناتو له لارې او هم بايد د د نبمنانو په تبليغاتو دوکه نشي، د د نبمن د د سيسو مخه ونيسي خپل اولادونه تعليمي اداروته سوق کړي ، زمونږ د ولايا تو او ولسوالیو مسئولينو سره همکاري وکړي ، اوله مجاهدينو څخه موهم هيله ده چې په دې اړه زمونږ سره خپله مرسته ونه سپموي ، او د ټولو علماوو او مسلکي اشخاصو څخه هم هيله کوو ترڅو د يوه سالم معارف د نورښه تنظيم او بهبود لپاره لا زمي مشورې زمونږ سره شريکې کړي ، پوره همکاري وکړي ، د يهودو او نصاراوو او نورو کفري کړيو د د سيسو مخه ونيسي او خپل ملت په دې اړه متنبه او باخبره وساتي.

اوکراین

دعبید تنویر ژباړه:

اوکراین دوسعت په لحاظ له روسي څخه ورسته داروپایي ټولنې دویم لوی هیواد شمیرل کیږي ، دغه هیواد د تاریخ په اوږدو کې دبیلابیلو جګړو اوشخړو په پایله کې تجزیه اودمختلفو هیوادولکه لهستان اوروسیې ترکنترول اوسلطې لاندې راغلی

د۱۹۱۷کال یعنې داکتوبر له انقلاب ورسته اوکراین دپخوانې شوروي اتحاد(سوسیالیستي) لومه ګیراوجزیې وګنل شو . تردې چې د۱۹۹۱کال د۸ میاشتې په ۲۴ نیټه کله چې شوروي اتحادونړیدا اوکراین دیوه خپلواک هیواد په توګه خپل موجودیت اعلان کړ.

اوکراین په هغه مهال چې دشوروي اتحادترسلطې لاندې هم وخو په ملګروملتونوکې یې دیوه مستقل هیواد په توګه دیوې رایې حق له ځان سره خوندي ساتلی وو ، نومورې هیواد دشوروي اتحادیو له هغو ځلورمهموارکانوڅخه شمیرل کیده چې هم یې دشوروي په تاسیس اوهم یې په انحلال کې کارنده رول درلود.

دیادونې وړه چې دشوروي اتحادله رنګیدوورسته اوکراین ۷۸۰،۰۰۰ سرتیري درلودل اوپه نړۍ کې دوسلواواتومي ځواک له مخې دریم هیواد بلل کیده ، خوپه ۱۹۹۲کال دمې په میاشت کې یې له روسیې سره دیوه ټرون له مخې خپلې ټولې اتومي اومهمې وسلې روسیې ته وسپارلې اوپه نړۍ کې رسماځان له اتومي اوممنوعه وسلوڅخه خالي اوخلاص هیواد اعلان کړ

داوکراین بیرغ :

داوکراین بیرغ په ۲ رنګونوباندې مشتمل دی پورته حصه یې شین ابي اولاندې برخه کې زیړ دي ، ویل کیږي چې ابي رنګ دابو اوزیړ داوراویادغنمومفهوم ورکوي

داوکراین مساحت اوجغرافیه :

اوکراین چې یوهمواره هیوادد ی اوزیاتره سیمې یې جلګه یزې دي ، 603700 کیلو متر مربع مساحت لري ، محلي نوم یې (آناوکراین) دی د (اوکرائین) په تلفظ سره چې معنادورستي قلمرواوسرحدلري .

داوکراین نفوس :

داوکراین دوګړوشمیره د۹۲ څخه تر۹۵ کلونوپوري ۵۲ میلونه تنه ښوول شوي ، په ۱۳۸۰ لمریزکال کې داوکراین دنفوسوشمیره منفي وه یاني د۴۸میلونوپه شاوخواکې حساب شوي ، په دغه سرشمیرنه کې ۵۴فیصده ښځې او ۴۶ فیصده نارینه یادشوي ، دارنګه ۳۲ میلونه اوکرایني وګړي په ښارونوکې او ۱۲میلونه په لیري پرتوسیموکې میشت بلل شوي . پلازمینه یې دکیف ښاردی چې 2/5 میلونه استوګن اوښاریان لري.

داوکراین موسم :

داوکراین شمال یخ اوجنوب یې معتدله هوالري ، دکیف ښارځمکه په کال کې له ۲ څخه تر ۳ میاشتوپوري په بشپړډول یخک وي

داوکراین مهم رودونه :

اوکراین ګڼ رودونه لري چې مهم یې (دینپر ، دونتس وبوګ) دي ، ددینپررود دروسیې اوبلاروسي له غرونوسرچینه اخلي دغه راز دینپرله ولګااودانوب څخه ورسته داروپاله سترورودونوګڼل کیږي ، دینپردکال په یخومیاشتوکې نیږدې ۳ میاشتې منجمدوي ، په همدې ډول له دینپرڅخه دبربښناپه برخه کې هم لویه استفاده کیږي اوخودانې داوبوبندونه ورته جوړشوي

داوکراین دخلکو نژاد :

اوکراین داسلاوشرقي له نژادونوڅخه جوړدي اوددغه هیواد ۷۳ فیصده تشکیلوي ، له هغه ورسته روسی نژاد په دوهم کتارکې راځي ، ویل کیږي چې په اوکراین کې ۵۰۰زره یهودان اوسیږي چې داوکراین دجمعیت ۱فیصد تشکیلوي ، نورمیشت وګړي بلاروسیان ، ملداویان ، لهستانیان ، مجاریان ، یونانیان ، رومانیان اوتارتاریان دي

داوکراین ملي ژبه :

داوکراین دخلکو ژبه داسلاوشرقي څخه جوړه اوروسی ژبي ته ډیرورته والی لري ، داوکراینې ژبې الفبااوروسیې ژبې الفباګډ مشترکات اوتلفظات لري اوډیرلږ تفاوت لري

داوکراین مذهب :

د۹۸۸ میلادي کال پسوري داوکراین وګړي تر ډیره بریده بت پرسته وو ، خو د(ولادیمیرپرنس) په مرسته اوکراینیانو له بت پرستی څخه مخ واړاوه اومسیحیان شول ، په کال ۱۰۵۴کې هغه مهال چې دروم پاپ دارتدوکس مذهب ته واوړید اومنحرف شواوله املهیې (اوکراین ، روسیه اوبلاروس) هم له مسحیت څخه دارتدوکس پیروي ته مخ واړاوه ،اوکراینې وګړي هم له هماغه وخته دارتدوکس کلیسا پیروان دي

په اوکراین کې مسلمانان :

کـه څه هم په رسمي ډول اوداوکراین دنفوسو په سرشمیرنه کې مسلمانان نه یـ دیږي ، خوتقریبي ارقام دادي چې اوکراین څه باندي ۲ میلونه مسلمانان لري چې زیاتره یې دکریمه نومي جزیري په ګردچاړیږکې میشت دي ، اوکراین ته داسلام مقدس دین دعثمـاني خلافت په مهـال رارسیدلی دي ، دیـادونې وړده چې مسلمانان اوس هم په اوکراین کې دجوماتونولـه کمبودسره مخ دي ، صرف دکیف په ښارکې یولوی جومات دجوړیدواوتکمیل په حال کې لیدل کیږي

داوکراین هیوادولایتونه :

دویش په لحاظ اوکراین په عین حال کې په یوخودمختاره جمهوریت (کریمه) سربیره نور ۲۴ ولایتونه په تشکیل کې لري

داوکراین طبعي زیرمي :

دزغـالواو وسپنې ډبري ، ګچ ، مالګه ، دمرمرو ډبري او دفسفرمعدني زخیرې هغه سرشاره طبعي زیرمي دي چې اوکراین یې دهیواد په بیلابیلوبرخوکې لري اوپه کرهنه سربیره یې داقتصادهمدغه بنیادي اومهمي سرچینې بلل کیږي.

خواجه رواش کې فدایانو څه ولیدل؟!!

بت شکن

لومړی مو دخپل مورچل لپاره دخواجه رواش دهوایې میدان شمال ته دوه نوې جوړیدونکې بیلډینګونه انتخاب کړل، خو دهغه ځای خلکو چې غالبا دګوډاګۍ اداري حامیان او دشمالي جنګ سالار پلویان به وو، راسره هوکړه ونه کړه، بیا موپر خدای ج توکل وکړ او یو بیلډنګ چې نوی جوړیده خوښ موکړ، له دوه اوونیو پرله پسې څارچې مو دټیکسي دیوه ډرایور به بڼه کاوه، دا سیمه څارله او فدایې مجاهدین مې هم پرې ګرځول، ترڅو بیا دبرید پر وخت خپل هدف غلط نکړي، پلان مو طرح کړ او سبا ورځ سهار څلور بجې مو دفدایې برید لپاره وخت وټاکه، چې فدایان باید پدې وخت چې لاهم دشپې تیاره خپره وي، دمیدان څنډو ته ورسوم، له خپل مرکز نه مو دیوې مزدالارۍ په توسط چې له بارودوډکه وه او یوه کرولا ډوله موټر چې فدایې مجاهدین پکې له بهرنۍ یونیفارم سره ناست وو، دخپل هدف په لورې حرکت وکړ، له ټولو کمربندونو او امنیتي ځنځیرونو نه تیر شو، خو چې میدان ته ورنږدې کیدو قسمت ته ګوره چې مزدالارۍ خرابه شوه او چې مو هرڅه پرې وکړل، مخکې نه تله، هک پک حیران شو، چې ورځ هم شوه او په سمه لویه لاره مو له بارودوډک موټر خراب شو، څښتن تعالی دلمر دوړانګو له خپریدو سره جوخت جوړه کړه او بیرته خپل مرکز ته نهیلې او ستومانه ستانه شو، ګورو چې ددې کور یوه ماشوم په لاس کې دهشتاد؟ ستنه ده او مونږ ته یې راکړه، مونږ چې فدایانو ته دبرید لپاره دوه میله هشتاد؟ چمتو کړي وو او دشپې مو پاک او غوړ کړل، ددې دواړو نه ستنې لویدلې وي، مونږ یوه شو چې دا ددې فدایانو دکرامت بیلګه ده، چې مزدالارۍ یې لاره کې خرابه او ګټه پرې دامرتب شوه، چې وسله مو بشپړ مرمت شوه، که همداسې بې له سوزن یا ستنې نه مورچل ته ختلی وی حمله به ضرور ناکامه وی، خو الله ج راسره دا مدد هم وکړ او په پوره اطمینان سره سبا دبرید لپاره چمتو شو، قاري ګل محمد چې دخواجه رواش دبرید تنظیمونکی او خورا فعال مجاهد دی، وایې چې دهرې ورځې په تیریدو سره به راته کار اسانیده او الله ج به راته لارې چارې اسانولې، هغه سختۍ چې مونن محسوسولې سبا دبرید په

ورځ بیا نوي اوبه لوړه حوصله مې فدایان دمیدان څنډوته وروسول ،قاري ګل محمدچې آمرصیب هم ورسره و،دیوه فدایې دخوب عجیبه منظره داسې راته بیان کړه چې : ددې برید نه مخکې د(علي اکبر) په نوم یوه یوه فدایې داستخارې نه وروسته خوب کې حضرت عیسی علیه السلام وکوت ،چې سباته ورسره په عملیاتوکې برخه اخلې او له فدایانوسره په بریدکې شریک دی ،چې دې خوب فدایان نورهم وهڅول اودیوې متوقع فتحې اوبرې هیلې یې لاربسې تاندې شوي ،شپه په یوه عجیب کیفیت کې سبا شوه ،سبامې بیا له ځانه سره په همدې مزدا لارۍ او کرولاډوله موټرکې شپږتنه فدایان او ورسره ددوئ وسلې اوبه منونو بارودو جوړه شوی لارۍ دهدف په لورې وخوځوله ،داځل په ډیره اسانۍ سره هماغه دوونویو جوړیدونکیو بیلډینګونو ته وروسیدو اوفدایان درې یوه اودرې بل بیلډنګ ته پورته شول ،ددوئ سوق او لاربنوونه چې زما پر غاړه وه ،دطرح شوي پلان خلاف ورسره تر بیلډنګونوپورې لاړم ،دوئ مې برید ته دپلان سره سم اماده اوزه ورته شاوخوا کې اوختم راوختم ،دانود(۲۰۱۲) زکال دجون دمیاشتې (۱۰)نیټه دسه شنبه ورځ وه ،دپلان سره سم فدایانو برید دسهارمهال څلور بجې پیل او دغرمې تر لسوبجوپورې یې وغځاوه ،چې پنځه نیم ساعته جګړه یې له صلیبي دښمن سره وکړه ،

دپلان سره سم یې لومړی دهوایې ډګرشمال ته هغه دوه برجونه ونړول، چې ددې میدان امنیت یې ټینګ کړی و ،اوبیا یې پرهغو الوتکوبریدونه وکړل ،چې دمیدان شمالې څنډه کې ولاړې وي او دیرغلګرو اکمالات یې کول ،شپږ واړوفدایانوښه په نره پنځه نیم ساعته یرغلګردښمن تر اورلاندې ونیول ،اوځمکه یې پرې سره کړه ،چې پایله کې یې (۱۵)اکمالاتي الوتکې ،(۲)بکتربند موټر،(٦)هغه بې پیلوټه الوتکې چې تریوه لوی تریال لاندې ساتل کیدې ،(۱۰) چینوک هلیکوپترې ،(۴)امنیتي پوستې اوددوئ دتیلو لویې سترې سترې ذخیرې له منځه لاړې ،دجګړې په جریان کې فدایې مجاهدینوچې شیبه په شیبه راته ددښمن زیان احوال راکاوه، پورتني تلفات ،پوځی او مالي زیانونه اشغالګروته واوښتل برید پداسې وخت کې پای ته ورسیدچې ټول فدایان شهیدان اومونږته یې له عبرته ډکې خاطرې په میراث کې پرېښودې ! روح دې ښاد او لاره دې یې روښانه وي

ابو یاسر

د تراویحو لغوي او شرعي معناوي

تراویح د ترویحة جمع ده له راحة څخه اخستل شوي. څرنګه چې په دغه مشروع او مسنون عبادة کې د هر وځلو رور کعتونو څخه وروسته د استراحت ناسته کیږي نو ځکه ورته تراویح وویل شوي.

التراویح: لغة جمع ترویحة، وهي من الراحة، وسمیت بهذا الاسم لأن المصلین کانوا یستریحون بالجلسة بین کل ترویحتین [ای بعد کل أربع رکعات]

او د شرعي په اصطلاح کې تراویح د روژې په مبارکه میاشت کې هغه شل رکعته لمانځه ته ویل کیږي چې د ماخوستن له فرضو او سنتوو روسته اداکیږي. دغه تراویحو ته په حدیثو کې د قیام اللیل نوم هم ورکړل شوی دی.

وشرعا: هي صلاة قیام اللیل في رمضان. وهي وإن اختصت بشهر رمضان، فإنها داخلة في عموم قیام اللیل، وقد جاءت نصوص تدخلها في عموم قیام اللیل. ونصوص أخری تخصها بقیام رمضان؛

د تراویحو لمونځ په رمضان المبارک پوري ځانګړی شوی یعني په نورو میاشتو کې نه اداکیږي، همدا راز د تراویحو لمونځ په شپه پوري خاص دی د ورځې له مخې نه اداکیږي

د تراویحو مشروعیت

د تراویحو د مشروعیت په اړه د عائشې رضی الله تعالی څخه روایت دی چې یوه شپه پیغمبر صلی الله علیه وسلم د شپې په یوه برخه کې مسجد ته راووت او په لمانځه ودریده

[خلکو چې پیغمبر صلی الله علیه وسلم په لمانځه ولیدل] نو په هغه پسې له شا په لمانځه ودریدل اوله پیغمبر صلی الله علیه وسلم سره یې په جماعت لمونځ اداکړ ،چې سهار شو خلکو نوروته ددغه لمانځه یادونه وکړه ،دوهمه ورځ چې پیغمبر صلی الله علیه وسلم په هغه وخت دلمانځه لپاره ووت اوپه لمانځه یې پیل وکړ نوبیا خلکو له شا ور پسې اقتدا وکړه اودپیغمبر صلی الله علیه وسلم سره یې په جماعت دغه لمونځ اداکړ په دغه شپه تروراندینۍ شپه ډیر خلک راغونډ شوي ؤ ،سهار خلکو ددي لمانځه یادونه وکړه نو په دریمه شپه دومره خلک راغونډ شول چې مسجد کې نه ځایېده ،په ځلورمه شپه پیغمبر صلی الله علیه وسلم مسجد ته نه ورغلی تردي چې دسهار لمانځه ته ورووت کله چې دسهار لمونځ ادا کړ نو خلکو ته یې مخ راوګرزول اودتشهد دکلمات تووروسته یې وویل: نن شپه مسجد ته ستاسو په راتلوزه خبروم لکن [زه له دي امله نه راغلم اودغه لمونځ موپه جماعت ادانه کړ]ویریدم چې دغه لمونځ په تاسو باندي فرض نشي اوبیابه یې تاسو له اداکولو څخه عاجزه شئ.

خو سره له دي چې پیغمبر ـ دتراویحو لمونځ په جماعت باندي له اداکولو څخه له دي امله چې فرض نشي ډډه وکړه ولي بیابه یې هم صحابه وته ددي لمانځه ترغیب ورکاوه .لکه په یوه حدیث شریف کې چې راځي چې پیغمبر ـ وفرمایل:څوک چې دتراویحو لمونځ په ایماندارۍ اواخلاص سره اداکړي نوورانديني ګناهونه به یې ټول معاف شي.

نوټولو صحابه وبه دغه دتراویحو لمونځ ځانته ځانته کاوه یعني په جماعت به یې نه کاوه تردي چې دحضرت عمررضی الله تعالی عنه دخلافت دوره راورسیده ،یوه ورځ حضرت عمررضی الله تعالی عنه له کوره مسجد ته راغی کتل یې چې ځینو صحابه وبه دتراویحو په لمانځه کې په نوروپسې اقتداء کړي وه اوځینوبه تنها ځانته دتراویحو لمونځ کول حضرت عمررضی الله تعالی عنه وویل:په خدای جل جلاله قسم زه ګمان کوم چې داټول صحابه په یوه قاري سره راغونډ شي اویو جماعت اداشي نودابه ډیر غوره وي

حضرت امیرالمومنین قصدوکړچې بیدټول په یوه قاري پسې اقتداوکړي نوابی بن کعب رضی الله تعالی عنه ته یې امروکړچې درمضان المبارک په میاشت کې دنوروصحابه ودتراویحو دلمانځه امامت وکړي بله ورځ چې مسجد ته راغی نوخلک ټول په یوه قاري پسې ولاړو نوحضرت عمررضی الله تعالی عنه ته یې ډیرخوندورکړاووی ویل دادهمدي عبادت ترټولو ښه نوښت دی

فعن عروة بن الزبير رحمه الله أن عائشة أم المؤمنين رضي الله عنها أخبرته، أن رسول الله

صلى الله عليه وسلم خرج مرة في جوف الليل فصلى في المسجد فصلى رجال بصلاته، فأصبح الناس يتحدثون بذلك، فاجتمع أكثر منهم، فخرج في الليلة الثانية، فصلى فصلوا بصلاته، وأصبح الناس يتحدثون بذلك، وكثر أهل المسجد في الليلة الثالثة حتى ضاق بهم المسجد، فلما كانت الليلة الرابعة لم يخرج إليهم رسول الله صلى الله عليه وسلم حتى خرج لصلاة الفجر، فلما قضى الصلاة أقبل على الناس بوجهه ثم تشهد وقال:« أما بعد فإنه لم يَخْفَ عليّ شأنكم الليلة، لكني خشيت أن تفرض عليكم، فتعجزوا عنها» فكان رسول الله صلى الله عليه وسلم يرغبهم في قيام رمضان من غير أن يوجبه عليهم ويقول: « من قام رمضان إيماناً واحتساباً، غفر له ماتقدم من ذنبه». وتوفي رسول الله صلى الله عليه وسلم والأمر على هذا

ثم كان الأمر على ذلك في خلافة أبي بكر الصديق، وصدراً من خلافة عمر بن الخطاب رضي الله عنهما. ثم إن عمر رضي الله عنه خرج ليلة من رمضان فطاف في المسجد، وأهل المسجد جماعات ومتفرقون، يصلي الرجل لنفسه، ويصلي الرجل فيصلي بصلاته الرهط، فقال عمر :والله إني لأظن لو جمعنا هؤلاء على قارئ واحد لكان أمثل، ثم عزم على أن يجمعهم على قارئ واحد ،فأمر أبيّ بن كعب رضي الله عنه أن يقوم بهم في رمضان، فخرج والناس يصلون بصلاة قارئهم فأعجبه ما رأى وقال: نعمت البدعة هذه. وسيجئ عن الدر المختار ۵۹۸\۲ في المسائل

دتراویحو لمونځ شل رکعته دی

دځلورو مذاهبو او جمهورو علماوو په نزد تراویح شل رکعته لمونځ دی ،او همدا شل رکعته لمونځ په دي امت کې له هري پيړۍ څخه بلي ته په تواتر سره نقل شوی دی ،په دي هکله ډيرحديثونه راغلي دبيلګې په ډول دابن عباس رضي الله تعالى عنه روايت دی چې پيغمبرصلى الله عليه وسلم به دروژي په مبارکه مياشت کې شل رکعته دتراویحو لمونځ کاوه اوبيابه يې دوتر لمونځ کاوه.

وجمهور الأمة على أن عدد ركعاتها عشرون عدا الوتر، وعلى هذا استقر العمل في الحرمين الشريفين ومعظم بلاد الإسلام عن ابن عباس τ ان رسول الله ρ كان يصلي في رمضان عشرين ركعة والوتر. اخرجه ابن ابي شيبة في مصنفه والبغوي في معجمه والطبراني في الكبير والبيهقي في سننه. احسن الفتاوى ۵۳۸\۳ وسيجئ زيادة على هذا في مبحث المسائل

دتراویحو دلمانځه حکم

دتراويحو لمونځ سنة مؤكده عيني دي په هرنارينه اوښځه باندي [يعني لكه دماسپينين دفرضو څخه وړاندي څلور ركعته سنت لمونځ يادسهار دلمانځه څخه وړاندي دوه ركعته لمونځ اونور...]له پيغمبرصلى الله عليه وسلم اوټولواصحابو څخه ثابت دى ،په يوه حديث كې پيغمبرصلى الله عليه وسلم وايي: چې بى شكه الله تعالى درمضان المبارک روژه نيول په تاسو باندي فرض كړي اومايې تاسوته دتراويحو دعبادت طريقه معلومه كړي ،يامسنونه گرزولي.

ان صلاة التراويح سنة مؤكدة لقول رسول الله صلى الله عليه وسلم: «إن الله فرض عليكم صيام رمضان، وسننت لكم قيامه». وأداؤها جماعة سنة كفاية أيضاً، لما ورد أن رسول الله صلى الله عليه وسلم أمّ المسلمين في أوائل رمضان، وفي العشر الأواخر منه، عدة مرات في الدر المختار وبذيله رد المحتار ٢\٥٩٢ التراويح سنة مؤكدة لمواظبة الخلفاء الراشدين للرجال والنساء اجماعا. لاحظ التفصيل في المسائل

دتراويحوپه لمانځه كې دجماعت حكم

دتراويحو لمونځ په مسجد كې په يوځاى په جماعت سره اداكول سنة مؤكده كفايه دي يعني كه يوه ډله خلګ يې په جماعت سره اداكړي نودنورو خلګو غاړي خلاصيږي . البته خودغه خلګ چې تراويح په جماعت سره نشي اداكولى نوبيابه يې تنها ضرور اداكوي اوايله كوي به يې نه ،

إن عمر رضي الله عنه خرج ليلة من رمضان فطاف في المسجد ، وأهل المسجد جماعات ومتفرقون، يصلي الرجل لنفسه، ويصلي الرجل فيصلي بصلاته الرهط. فقال عمر :والله إني لأظن لو جمعنا هؤلاء على قارئ واحد لكان أمثل، ثم عزم على أن يجمعهم على قارئ واحد ،فأمر أبيّ بن كعب رضي الله عنه أن يقوم بهم في رمضان، فخرج والناس يصلون بصلاة قارئهم فأعجبه ما رأى وقال: نعمت البدعة هذه .وسيجئ عن الدر المختار ٢\٥٩٨ في المسائل

فتوحيد صلاة التروايح بإمام واحد وجماعته هي من سنن الخليفة الراشد عمر بن الخطاب رضي الله عنه وقد حثنا رسول الله صلى الله عليه وسلم على التمسك بسنة الخلفاء الراشدين والتزامها ، فقال :عليكم بسنتي وسنة الخلفاء الراشدين المهديين من بعدي، عضوا عليها بالنواجذ ؛وقال صلى الله عليه وسلم:« اقتدوا باللذين من بعدي أبي بكر وعمر». فرضي الله عن أبي بكر وعمر ورضي الله عن سائر صحابة نبينا الكرام .مخوذ من فتاوى الشيخ ابن عثيمين

داسلام غزوات اوسرايا

خوار لسمه برخه

ابو ظهير

دعصماً يهودي وژل:

دعصماً په نوم يوه يهودي ښځه وه ، هغې به تل درسول الله ـ په باره کې له هجوي ډک شعرونه ويل اوهم يې ورته دډول ډول اذيتونو رسولو کوښښ کاو ، خلک يې په اسلام ، اومسلمانانو بد ګومانه کول . رسول الله ـ لا دبدر څخه نه و راستون ، هغې يووار بيا درسول الله ـ په اړه څو دهجوي شعرونه وويل ، کله چې هغه شعرونه درسول الله ـ يوه صحابي عمير بن عدی ● واوريدل هغه دزياتي غوسي نه دانذر کښنود که الله پاک رسول الله ـ بيرته روغ رمټ راوست زه به خامخا هغه (يهودي ښځه) قتلوم

کله چې رسول الله ـ دبدر څخه مديني منوري ته روغ اوکامياب راستون شو ، هغه (عمير) ● په شپه کې توره په لاس روان شو او دهغې کورته ورننوت داچې نومورې ● نابينا وه عصماً يې دلاس په ايښودو وموندله چې ترينه شاوخوا يې اولادونه ويده ول ، اولادونه يې پريښودل او دعصماً په سينه کې توره په زوره خښه کړه په بل لوري ترې وويسته...

ايښی نذر يې پوره کړ ، دسهار دلمانځه وروسته يې رسول الله ـ ته واقعه تيره کړه ، بيا يې له رسول الله ـ دا وپوښتل چې په دې کار خوبه زه ګنهګار نه يم ؟

رسول الله ـ ورته وفرمايل: لاَيَنتَطِحُ فيها عَنزانِ

په دې اړه دوه ليوان هم خپل سرونه نه جنګوي يعنې داداسې کار ندی چې پکې څوک دې اختلاف وکړي ، انسانان

خو در کنار لیوان ،ووزي هم په اړه ښکر جنګي نه کوي دبرحق پیغمبر په شان کې دسپکاوي مرتکب تن قتلول هیڅکله هم دملامتیا وړعمل ندی ، بلکې دلوی ثواب وړ کاردی ، چې په اړه یې هیڅ نزاع نشي نشته آن چې څاروي هم داعمل حق بولي .

په "مصنف حماد بن مسلمه" کې راغلي چې دې ښځې به دمیاشتنی ناروغتیا په وینو ککړ کالي راوړل په مسجد کې به یې غورځولاوپه دې به یې رسول الله ـ اوصحابه ووته اذیت ورکاو غرض داچې رسول الله ـ دعمیر < په دې ګام پورته کولو سره زیات خوشال شواونورو صحابه ووته یې وفرمایل:

اذا احببتم ان تنظروا الی رجل نَصَرَ الله ورسوله بالغیب فانظروا الی عُمیر بن عدی که تاسي دداسي تن لیدل غواړئ چې دالله ﷻ اودهغه درسول یې غایبانه مرسته کړي نو عمیربن عدی ته ګورئ!

حضرت عمر ● وویل: هغه نابینا وخوبیا هم په پټه دالله ﷻ داطاعت لپاره روان شو !رسول الله ـ وفرمایل :ده ته اعمی (ړوند) مه وایاست دابینا دی یعني په ظاهره اګر که نابینا دی خوپه زړه بینا دی له تاریخي پلوه دغه پېښه دروڼي پنځي ورځي پاتې وې چې پېښه شوه .

دقرقرة الکدر غزوه:

دبدر څخه دستنیدو وروسته دشوال په پیل کې د"سلیم اوغطفان" قبیلو داجتماع خبر رسول الله ـ ته راغی ، په دې سره سملاسي رسول الله ـ ددوه سوه کسانو سره یوځای ووت کله چې "کدرچیني" ته ورسیده ، هلته ورته معلومه شوه چې داسلام دښمنان له وړاندې څخه خواره شوي دي ، بیا تردرې ورځو پورې هلته نور هم تم شو ، درې ورځي وروسته له جنګ اوقتال کولو پرته مدیني منوري ته ستون شو دځینو روایتونو څخه دا هم معلومیږي چې دهغوئ په تعقیب پسي رسول الله ـ دصحابه وو یوه سریه روانه کړه ، هغوئ په غنیمت کې ځان سره پنځه سوه اوښان راوستل ، دشوال په پاتې ورځو اوذی قعد کې رسول الله ـ په مدینه منوره کې وو ، اوپه دې موده کې یې دبدربندیانو په سر فدیه واخسته اوهغوئ یې خوشي کړل زرقاني اتوک ۲۵۴مخ(

دابی عفک یهودي قتلول:

د همدې شوال په میاشت کې رسول الله ـ سالم بن عمیر ﷺ د"ابو عفک یهودي (دقتلولو پسي ولیږه، ابوعفک په دین یهودي وه اوبوډا وه چې دیوسل شل کلو په عمر وه ،هغه به درسول الله ـ په هجوه کې شعرونه ویل ، اوخلک یې درسول الله ـ دښمنی ته رابلل ، کله چې دهغه دښمني اوشرارت له حده واوښت رسول الله ـ وفرمایل: من لی بهذا الخبیث ؟

څوک دی چې هغه ځما لپاره (یعني یواځې ځما داحترام اوعزت لپاره)ددغه خبیث چاره وکړي

سالم بن عمیر ● وویل: یارسول الله ! ما له وراندې نذر اېښی دی چې یا به ابوعفک قتلوم او یابه خپله ووژل کېږم!
ددې وروسته سالم روان شو دګرمی شپه وه ابوعفک دغفلت په خوب ویده وه سالم بن عمیر ● ورته په سینه کې توره دومره په زوره خښه کړه چې دستر ګو په رپ کې داجل کومې ته ورغی ، ابوعفک چیغه وکړه څوچې خلک ورته راټلل ساه یې وتې وه .

دبني قنیقاع غزوه:

بني قنیقاع د"عبد الله بن سلام ● "تېراوخیل وه ،چې ډېر زړور اومیړني وو ، رزګري یې شغل اوپیشه وه . دشوال میاشتي په پنځلسمه نیټه ددوشنبې په ورځ رسول الله ــ دهغوئ بازار ته لاړ اوټول یې یوځاته غونډ کړل اوبیا یې ورته وویل: یامَعشر یهود احذروا من الله مثل مانزَل الله بقریش مِنَ النقمة وأسلموا فَانّکم قد عرفتم انی نبیٌ مرسل تجدون ذلک فی کتابکم وعَهَدَ الله الیکم

اې دیهودو ډلې ! له الله څخه وډار شئ څنګه چې په قریشو باندې په بدر کې عذاب نازل شو هسې نه په تاسې هم نازل شي ، اسلام راوړئ ولې په تحقیق سره تاسي خپله پوهیږئ چې زه دالله رسول یم کوم چې ستاسي په کتابونو کې هم شته او په اړه یې الله ﷻ له تاسي نه وعده هم اخستې هغوئ (یهودو) ددې په اوریدو سره غوسه شول اوپه ځواب کې یې وویل:

تاسې هیڅکله مه غره کېږئ چې یوناپوهه اوبې تجربې قوم (قریش) سره په جنګ کې موغبه ومومندله والله ! که چېرې زمونږ سره ستاسی مقابله ر غله درته به په ښه توګه معلومه شي چې مونږ ناربنه یو !

په دې سره الله ﷻ دآیت نازل کړ:

قد کان لکم أیة فی فئتین التقتا فئةٌ تُقَاتل فی سبیل الله واخری کافرةٌ یرونهم مثلیهم رأی العین والله یؤیدُ بنصره من یشأء انّ فی ذلک لعبرة لأولی لابصار (ال عمران ۱۳ایت (

په تحقیق سره دی تاسي ته لوی عبرت په هغو دوه ډلو کې چې سره مخامخ شولي (په بدر کې دجنګ لپاره) یوه ډله وه چې جنګ یې کاوه په لاره دالله کې اوبله ډله چې کافره وه ، لیدل دوئ هغوئ لره دوه چنده دهغوئ په لیدلو دستر ګو سره او الله مرسته کوي خپله چې هر چا ته یې اراده وکړي (دنصرت) بیشکه په دې (زیات اوکم لیدلو) کې خامخا عبرت)پند) دی له پاره دخاوندانو دبصیرت !

کله چې رسول الله ــ هجرت وکړ ،په مدینه منوره کې یې دبنی قنیقاع ، بنوقریظه اوبنو نظیر دریواړو سره داتعاهد وکړ چې مونږ به نه له تاسي سره جنګ کوو اونه به ستاسې له دښمن سره مرسته کوو ، خوترټولو لومړی بنی قنیقاع داعهد مات کړ اوپه نهایتي ژشته یې رسول الله ــ ته ځواب ورکړ اوجنګ ته تیار شول داخلک دمدینې منوري په اطرافو کې میشت ول ، رسول الله ــ په مدینه منوره کې پخپل ځای "ابولبابه بن عبد المنذر انصاري "پرېښود اوخپله دبني قنیقع په لور ووت . هغوئ

کلاګانوته ننوتل او په ځانو پسې يې دروازې بندې کړلې ، رسول الله ـ دشوال د۱۵ مې نيټې څخه تر ذی قعد پورې هغوئ کلابند کړل په ۱۶مه ورځ مجبور شول ،ودکلاګانو څخه راووتل ، رسول الله ـ هغوئ ته دمشکونو تړلو حکم کړ ، درئيس المنافقين عبد الله بن سلول په سوال اوزاريو دقتلو لو په ځای تړې مالونه اوتوکي واخستل شول اوجلا وطن کړای شول ،ددې وروسته رسول الله ـ مدينې منورې ته ستون شو ،دغنيمت مال څخه پنځمه ځانته واخيسته او پاتې څلور نور يې په غانيمنو وويشلې ، دبدر وروسته دالومړی غنيمت وچې رسول الله ـ پخپل لاس اخيستی عبادة بن صامت ● وايي :دبني قنيقاع سره حيفانه اړيکې وې ، کله چې ما دهغوئ شرارت اوله عهد په شا کيدل وليدل ورسره مې خپل اړيکې وشلول او تړې بيزاري اوتبری مې اعلان کړه:

يارسول الله اتبرّأ الی الله ورسوله واتولی الله ورسوله والمؤمنين وأبرأ من خلف الكفار وولايتهم البدايه والنهايه ۴توک ۳مخ (

يارسول الله زه ستا ددښمنانو څخه بيزاري اعلانوم ، دالله اودهغه درسول لورته دروم ، او الله دهغه رسول ،اومؤمنان خپل دوستان اوحليفان ګرځوم اودکافرانو ددوستی اورسره دکړې عهد څخه ځان باسم

ځېرنه :

په اوس وخت کې داحديث دزيات غور وړدی ولې ښکاره شوه چې څنګه دايمان لپاره دالله ،دهغه درسول او مؤمنانو سره محبت ضروري دی ، هم داسې دالله اودهغه درسول ددښمنانو څخه دنفرت ، بيزاری او اوبرآت اعلان هم ضروري دی البدايه والنهايه ۴توک ۳مخ(

د: تولی بی تبرا نیست ممکن!

مصداق هم دغه ځای دی ، حضرت مجدد الف ثانی ؒ پخپلو مکتوباتو کې دامسئله ښه روښانه کړې چې دايمان بپاره يواځې تصديق کافي ندی ، ځوچې دالله ﷻ ددښمنانو څخه تبری اوبيزاري ونکړای شي ترهغې يواځې تصديق دايمان لپاره بس ندی هم داراز دامام محمدؒ څخه نقل دي چې :"تبری عن الكفر والكفار" دايمان لپاره شرط لازم دی ځوچې يوتن دکفر اوکفارو څخه پوره بيزاري اوتبری ونکړي ترهغې دهغه دايمان لپاره يواځې تصديق کفايت نه کوي افغانستان چې اوس مهال دکفارو په لاس پريوتی ، دهېواد يولوی شمېر خلک ددې حکم تروعيد لاندې راځي ولې هغوئ په ښکاره دکفر اوکفارو سره ملګري دي ، دهغوئ دبري لپاره شپه ورځ خدمتونه کوي ، دمسلمانانو په ضد هغوئ ته څار اوجاسوسي کوي يوشمېر دملي اردو په نامه داسلام اومسلمانانو په خلاف ،ودکفر ددفاع لپاره عملاً جنګيګي ، چې وقعاً ددغو خلکو ايمان د زياتې اندېښنې وړ دی ضروري ده چې هغوئ بايد پخپل ايمان وپارشي نوربيا

نظام اسلامی تنها راه حل معضلات ملتها

مهاجر

دوران های گذشته خلافت اسلامی، چون ستاره ای درخشان در افق تاریخ ملتها و دولتها می درخشد. دورانی که سرشار از مودت و دوستی، الفت و برادری، امنیت و آسایش، آزادی و حقوق بشر و حتی حقوق حیوانات بود. خلافت خلفای راشدین وخلافت عمر بن عبد العزیز رحمه اللهو همچنین بعضی از خلفای اسلامی دیگر، نمادی از تبلور عزت و کرامت انسانی بود که از یهود و نصاری گرفته تا غلامان و بردگان همه وهمه دارای حقوق برابری از لحاظ بشری بودند. خلفای اسلامی خود از حال مردم با گشت زنی در مناطق آنان باخبر می شدند نان بیوه گان و هیزم پیر زنان را به دوش خود حمل مینمودند و خلیفه خودلباس های کهنه وپینه دار میپوشید. امنیت که یکی از موارد مهم زندگی بشر است و دولتها آن را در مراحل اولیه همه برنامه های خود قرار می دهند. آن روز تا جایی پیاده شده بود که خلیفه خود زیر درختی دور از نگهبان می خوابید و هیچ هراسی از دشمنی که بر او حمله کند نداشت و پیر زنی ضعیف از یک منطقه تا منطقه ای دور به تنهایی با کمال امنیت و آسایش سفر می نمود و خبری از دزدان نبود. آری این امنیت حتی به حیوانات درنده نیز سرایت کرده بود که شاید ما آن را افسانه ای بیش تصور نکنیم. اقتصاد که حرف اول را در اداره حکومت ها می زند. آن روز بجایی رسیده بود که زکات دهند گان دنبال فقیری می گشتند تا زکات شان را به او بدهند اما خیلی به مشکل فقیری می یافتند. طلا و جواهرات تا حدی در دست رس مسلمانان قرار گرفته بود که با ابریشم این پارچه گرانبها آب صورت و بینی را پاک می کردند. عدالت که حرف اول را در دولتها می زند آن روز تا جایی در جامعه به اجرا در آمده بود که خلیفه وقت، بخاطر دعوا با یک مرد یهودی به دادگاه کشانده میشد و قاضی نیز طبق دلایل ظاهری آن فرد یهودی، حق را به آن می داد و خلیفه نیز با کمال اطمینان می پذیرفت. عدالت محوری چنان در نظام اسلامی مطرح بود که خلیفه فرزند خود را که

شراب خورده بود در ملای عام حاضر نموده و حکم شرعی را بر آن اجرا مینمود.

بله! کجاست امنیت دولتهای امروزی برای ملتهای خود؟

بنابر ظلمی که بر ملتهای خود روا می دارند، گروه های جدایی طلب و ضد نظام های خود می سازند. با فقر و فاقه ای که دست و پای ملتهای خود را بسته اند – در حالیکه جیب های خود شان پر است– امنیت نسبی را نیز از مردم خود گرفته اند تا جاییکه دزدی و راهزنی یکی از موارد عام در هر قریه و شهری گشته است چه برسد در سطح بالاتر آن.

رشوه خواری و عدم اجرای عدالت از موارد آشکاری هست که در نظام های کنونی داد می زند.

ملتها، دنبال امنیت، عدالت، آزادی و اقتصاد خوب اند و از این بابت است که زمانی بدنبال اشتراکیت و شعار بظاهر شیرین کمونیستها می رفتند و گمان شان این بود که عدالت را در آن حاصل خواهند کرد اما با گذری چند از آن و تجربه دولتها، برای شان ثابت شد که با شکست مواجه گشته اند و زمانی به دنبال جمهوریت می رفتند – چنانچه امروزه نیز بعضی ها فریفته ان اند– و گمان شان این بود تا آزادی را در آن حاصل کنند اما دیدند که همه وهمه سرابی بیش نبودند.

آری، غیر از نظام اسلامی دیگر چاره ای برای جهانیان نمانده است و دارد پی می برد که در نظام اسلامی بسیاری از چیزها هستند که با فاصله ای که از دوران درخشان خلافت اسلامی داشته اند از چشم هایشان پوشیده مانده است و از همین است که نظام اقتصادی خود را به طرف بانکداری اسلامی سوق می دهند.

و مسلمانان نیز به این رشد فکری رسیده اند که راه حل تمام معضلات امنیتی، اقتصادی و عدالت محوری را غیر از نظام اسلامی در دیگر جایی نخواهند یافت.

نمونه کوچکی از این ادعا را می توان در دوران نزدیکمان، حکومت 7 ساله امارت اسلامی با وجود پایان نرسیدن جنگهای طرف شمال و مشغول بودن حکومت مرکزی با اداره جنگی داخلی و با وجود تحریم های بیرونی و با وجود نداشتن ارتش و سلاح های نظامی و با وجود نداشتن بسیاری از پرسنل های کاری و غیره، توانستند با صداقت در چار چوب پیاده کردن نظام اسلامی – که داشت آهسته آهسته به رشد ظاهری و معنوی خود می رسید– نمونه ای از امنیت، آسایش و عدالت را در افغانستان که جزء جهان سومش می شمارید، پیاده کنند، و بسیاری از دولتمردان همسایه بصورت آشکارا و بعضی ها غیر علنی انگشت تعجب به دهانگذاشته و نمونه امنیت آوردن شان سرزد زبانها گشت.

آری جهان باید دوباره برگردد به اصلی که روزی آن را تجربه کرد و مدینه فاضله ای که در عمل آن را با

چشمان خود دید. آن مدینهفاضله ای که جهان امروزی در بدست آوردن آن چه نقشه هایی که نمی کشد اما چیزی حاصل شان نمی شود جز اینکه نقشه های دیگری بریزند.

بله، جهان اسلام میفهمد که باید بر گردد به همان اجرای نظام اسلامی ولی متجاهلان و معاندان مگر میگذارند؟!!! زیرا با آمدن چنین نظامی، بازار شان را در کساد کامل می بینند ولذا نمی خواهند تا جهانیان باری دیگر از نزدیک نظام اسلامی را لمس کنند و افکار شان دیگر خریداری نداشته باشد.

آنها با مرتب کردن داستانهای خیالی زنده اند و به این طریق ثروت ملتها را به بهانه هایی بالا می کشند و یک روپیه افغانی به آنها داده و در عوض، صد افغانی دیگر را برای خود ذخیره میکنند.

استثمار گران و خون آشامان ملتها نمی خواهند تا نمونه نظام اسلامی در جهان پیاده شود زیرا می ترسند تا الگویی برای دیگر ملتها گردند و به همین سبب است تا در کشوری اعلام نظام اسلامی می شود فورا با دست ودندان حمله می کنند و پیروان و رهروان این خواسته را در لیست های سیاه ساختگی خود قرار می دهند که نمونه بارز آن امارت اسلامی افغانستان بود و نمونه های دیگری نیز هست مانند مسلمانان صومالیا که با یورش نیروهای فرانسوی و غیره مواجه شدند و مسلمانان عراق. و همکنون نیز مسلمانان مبارز سوریه را که خواهان برپایی نظام اسلامی هستند در لیست سیاه خود قرار داده اند.

اما گروه های تا دندان مسلحی را که هزارها بی گناه را در سوریه کشته اند و می کشند چون بر خلاف منافع خود نمی بینند لذا با نشان دادن چراغ های سبز خود، راه را برای رشد آنها باز می کنند.

این است عدالت نظام های پوچ غربی و این است اساس نظام های اروپایی.

و در حقیقت تنها این نظام اسلامی است که توانایی قیادت کل ملتها را داشته وعدالت، امنیت، اقتصاد سالم و دایم و رشد معنوی ملتها را در اساس برنامه های خود دارد.

به امیدی که همه ملتها و بخصوص بهار عربی رخش را به سوی بهار نظام اسلامی عوض کند و باری دیگر مدینه فاضله را با اجرای نظام اسلامی به جهانیان نشان دهد به امید احیای خلافت اسلامی در جهان وما ذالک علی الله بعزیز.

د "CIA" یو پخوانی مسؤول

مورسي له هر هغه شي څخه ویره احساسوو چې د اسلام کلمه پکې وي

احمد الله

د امریکا د مرکزي استخباراتو سي آي یو پخواني مسؤول د مصر په ولسمشر محمد مرسي باندې کودتا کې د امریکا رول ته اشاره کړې. مایکل شیور ((چې پخوا یې د "CIA" دهغه کنډک مشر وو چې د القاعدې د تنظیم د مشر اسامه ابن لادن رحمه الله دلټون دنده یې په غاړه درلوده)) ویلي: هغه پوښتنه چې ډیره مطرح کیږي دا ده چې آیا په اسلامي نړۍ کې به داسې یو اسلامي نظام وده وکړي چې د ډیوید کامیرون، باراک اوباما او د دیموکرات ګوند نورو مشرانو ته د منلو وړ وي؟ نومورې ددې پوښتنې په ځواب کې وویل: مورسي له هر هغه شي څخه ویره احساسوو چې د اسلام کلمه پکې وي، خو سره لدې هم دا به ډیره بې عقلي وي چې مورسي په مصر کې د یوه داسې نظام د قائمیدو هیله ولرو چې اسلامپال دې پکې واک ونلري.

شیور دا څرګندونې د خپلو هغو خبرو په ترڅ کې وکړې چې په اسلامي نړۍ په ځانګړې توګه په افغانستان کې یې د دیموکراسۍ د قیام لپاره د متحده ایالاتو دهلو ځلو په اړه کولې، خو د نومورې په وینا عربي او اسلامي وولسونه د امریکا هڅو ته خندونه ایجاد وي او د اسلامي حکومتونو د قیام لپاره هلې ځلې کوي.

نومورې دا هم جوته کړه چې له ځلوبښتو کالو راهیسې د امریکا خارجي سیاست په استبداد ولاړ سیاست دی. د نومورې په باور دا سیاست له پیل څخه ناوړه سیاست دی، خو په هر حال دا زمونږه ستراتیژي وه چې اوس له ماتې سره په مخامخ کیدو ده.

شیور دا هم وپوښتل: چې کله مورسي ته دا جوته شي چې د مثال په توګه د مصر دا حکومت د فلوریدا حکومت ته ورته ندی نو آیا مورسي به یې منو او که د له منځه وړلو لپاره به پکې مداخله کوو ترڅو داسې حکومت راولو چې زمورسي له خوښې سره سم وي؟

هغه څرګنده کړه چې په راتلونکي کې به په لیبیا، تونس او مصر کې د امریکا داوسنۍ اداري په خوښه حکومتونه قائم نشي، ځکه اوسنۍ اداري ته هغه حکومت د منلو وړ ندی چې اسلامپال پکې وجود ولري. د یادولو وړ ده چې د اخوان المسلمین د ډلې ډیری مشرانو د خپلو لاریونونو پر مهال په مصر کې د متحده ایالاتو سفیره ګرمه وګنله چې د مصر په وروستیو پیښو کې پوره لاس لري، چې په ترڅ کې یې په محمد مرسي باندې کودتا وشوه او له واکه لیرې کړل شو.

د امام ابو حازم يوه سيال: _____

په زړه پوري واقعه

کـه اسـلامي تـاريخ مطالعـه کـړو نـو زمـوږ اسـلافو صـحابه کرامـو تـابعينو ، امامـانو ، مجتهدينو اومتدينو علماء کرامو ددين په لاره کې داسي ثبات او استقامت درلودچې هيڅ کله هم ددنيا خوندونو اوديوه مستبد ځواک استبداد ته داسلام له لاري نه دي ورکاړه شوي.

هغوئ داسي صبر اوثبات درلود ،چې ورته دډيرپياوړي عقل اوغټ زړه خاوندان هم له حيرت څخه ګوته په غاښ دريږي اودلوی علم خاوندان هم داپوښتنه کوي چې هغه کوم اسباب وو چې ددوئ ددومره عظيم صبر اوثبات لامل جوړيدل.

هـوکي ! هغـوئ پـه واحـد الله ج بانـدي دټينـګ ايمـان درلودلودهغـه دحقيقـي پيژنـدلو اودرست معرفت له وجهي ددنيا هرڅه ته شکړي وه ،ځکه يوځل چې زړه دايمان په نورمنورشي اودايمـان ځليـدونکي ستوري دزړه پـه افـق راڅرګندشي اوداعتقادشمع پـه زړه کـې بلـه شي ،نوبياهغه له غرونوڅخه هم ټينګ وي اوهم دروند ، ټول مشکلات اوکړاوو نه که هرڅومره ډيرهم وي ،دنشت برابروي اوهغه ټول دخپل ايمان په مقابل کې لکه داوبوڅګ اويالکه ديوه طوفاني سيلاب په مخ کې دشګوبند شميري.

دخپل ايماني لذت اواعتقادي راحت اوطراوت په وړاندي هرقسم لذتونه چې له دنيا سره تړاؤ لري ورته لذت نه وايي.

غوره به وي چې دهمدي مقصد داثبات لپاره دحضرت ابوحازم تابعي رحمه الله اوخليفه سليمان بن عبدالملک قصه واورو !

چې په مسنددارمي کې په سند سره ذکرشوي ده :وايي چې يووارسليمان بن عبدالملک مدينې منوري ته ورسيد ، دڅوورځو له تيريدلو څخه وروسته يې لـه خلکوڅخـه پوښتنه وکړه ،

چې په مدینه کې اوس یو داسې څوک شته چې ملاقات یې له یوه صحابي سره شوی وي [یعني په اصطلاح تابعي وي] ؟

خلکو ورته وویل: هو ! یو سړی دا بوحازم په نامه موجود دی.

سلیمان سمدستي خپل قاصد پسې ولیږه ، ترڅو ابوحازم ورته راحاضر کړي ،کله چې ابو حازم راغی له دوديزو مناسباتو وروسته ورته سلیمان وویل: آیا دا نه سړیتوب اوبي وفایي نه ده چې دمدیني ټول مشهور خلک زما په راتلو خوشحال او ملاقات ته راغلل ، اوته رانغلي ؟

ابوحازم جواب ورکړچې ای امیرالمؤمنینه ! زه تا د خدای ج په امان اوپنه کې ورکوم ،چې داسي خبره ونه کړي ،چې هغه له واقعي څخه خلاف وي ، له نن څخه مخکې نه ته له ما څخه خبروي اونه ته مالیدلی وي ،نو په داسي حال کې په خپله دملاقات کولو سوال هم نه پاتي کیږي.

سلیمان یې څواب واړید ، نو ابن شهاب الزهري اونو رو حاضرینو ته یې وکتل ، امام زهري ورته وویل چې ابوحازم صحیح وایې: تاسو غلط یاست ، تردي وروسته سلیمان دخبرو مخ بدل کړ ،څه پوښتني یې شروع کړي اوویې ویل ای ابو حزمه ! داڅه خبره ده !چې مونږله مرګ څخه ویریږو ؟ ابوحازم ورته وویل وجه یې داده ، چې تاسو خپل آخرت وران کړی اودنیادي اباده کړي ،نو په دې وجه له ابادی څخه ورانی ته تلل نه خوښوي ،

سلیمان ومنله اوبله پوښتنه یې وکړه:چې سبابه دالله تعالی په مخ کې حاضري څنګه وي ؟

ابو حازم څواب ورکړ:چې دښو اخلاقو خاوندان به دالله تعالی حضورته داسي ځي لکه یو مسافرله سفرڅخه راستو ن اوبیا دخپل کورله غړو سره ملاقي کیږي ، اوبد عمل کونکي به داسي راوړاندي کیږي لکه تښتیدلی غلام [مریی]چې ونیول شي اوبیا دخپل مالک مخ ته راوستل کیږي ،

سلیمان چې داواوریدل نو په ژړاشو اوویې ویل: افسوس چې مورږته معلوم وای چې الله تعالی زمونږلپاره کوم صورت مقرر کړی ؟ ابوحزم ورته وویل:خپل اعمال په قرآن وړاندي کړه ،نو درک به درته ولګیږي ،

سلیمان پوښتنه وکړه چې د قرآن د کوم آیت څخه به دا معلومه شي ؟

ابوحازم ورته وویل: ان الابرارلفي نعیم وان الفجارلفي جحیم ، یعني بیشکه نیکان به په

نعمتونو کې وي او نافرمان ګنهګاران به په دوزخ کې وي ،

سلیمان وویل: چې دالله رحمت خولوی دی، حتی چې بدکاروته هم دخدای جل جلاله رحمت رسیږي ،

ابوحازم وویل: ان رحمة الله قریب من المحسنین ، بیشکه چې دالله رحمت نیکانوته نږدي دی

سلیمان پوښتنه وکړه ،ای ابوحازمه !دالله تعالی په بندګانوکې ترټولو لوی عزت والاڅوک دی ؟

ابوحازم ورته وویل: هغه خلک دي چې عقل سلیم اومروت ولري ،

بیایې داپوښتنه ترینه وکړه چې کوم عمل ډیرغوره دی ؟

ابوحازم ورته وویل: دفرائضو اوواجبتو اداء کول اوله حرامو څخه ځان ژغورل.

بیایې پوښتنه وکړه چې کومه دعا زیاته قبلیدونکي ده؟

ابوحازم وفرمایل: په کوم سړي چې احسان شوی وي دهغه دعاد احسان کوونکي لپاره قبلیدوته زیاته نږدي ده.

بیایې پوښتنه وکړه چې کومه صدقه ډیره غوره ده ؟

ابوحازم وویل: چې له خپل افلاس اوخواری سره سره یوداسي سائل ته ورکول چې پرهغه مصیبت راغلی وي اوداسي خرڅ کول چې په هغه سره نه مخکنی احسان ثابتول مطلب وي اونه وربانديصدقه ورکړل شوي ،تکلیف ورکړل شي

سلیمان: کوم کلام ډیرښه دی؟

ابوحازم: له کوم چاڅخه چې ستاویره وي ،یاهغه ته ست څه حاجت اوست امیدله هغه سره ترلی وي ، دداسي سړي په وړاندي پرته له کوم رعایت نه دحق خبره کول بهترین کلام دی.

سلیمان : کوم مسلمان ترټولوزیات هوښیاردی ؟

ابوحازم: هغه څوک چې دالله تعالی دفرمانبرداری لپاره کاروکړي اونوروته دداسي کولو دعوت ورکړي !

سلیمان: په مسلمانانوکې کوم سړی ډیربې عقل دی ؟

ابوحازم : هغه څوک چې دخپل وروړ دظلم مددګاروي ، مطلب داچې هغه دنورو خلکو ددنیاد سمولو لپاره خپل دین برباد کړي.

سلیمان : صحیح دي وویل.

سلیمان : په نورو واضحو الفاظو وویل چې زموږ په باب دې څه رایه ده ؟

ابوحازم: که مي نورمعاف کړي مهرباني به مووي ،

سلیمان: نه تاسو ضرورڅه دنصیحت کلمات راته وښایاست !

ابوحازم : ای امیرالمؤمنینه ! ستاپلرونو اونیکونو دتوري په زور په خلکو تسلط حاصل کړی و ،اوډیر خلک یې وژلي اوله دي ټولو کړنو وروسته له دنیا څخه ولاړل ، کاشکي تاسو ته پته وای چې له مرګ وروسته به هغوی څه وایي ؟ دوئ ته به څه وویل شي ،

په نوکرانو کې یونوکر چې دبادشاه دمزاج خلاف دابوحازم داپه ډاګه وینا واوریده ویې ویل: ای ابوحازمه تاسو داډیره بده خبره وکړه !

ابوحازم ورته وویل: چې ته غلط وایې بده خبره نه ده، بلکې داهغه خبره ده چې دکولو لپاره یې موږ ته الله تعالی حکم کړی ، ځکه چې الله تعالی له علماوو څخه عهد اوپیمان اخستی ،چې حق خبره به نه پټوي ، بلکې ترخلکو پوري به یې رسوي ، لتبیننه للناس ولاتکتمونه ،یعني خامخا به تاسو حق خبرترخلکو پوري رسوئ اوپټوئ به یې نه ،

سلیمان بیاپوښتنه وکړه اوویې ویل: زموږ دصحیح کیدلو طریقه څه ده ؟

ابوحازم : تکبرپریږده ، مروت اومیړانه په ځان کې پیدا کړه اوحقدارو ته دهغوئ حقونه په انصاف ورکړه !

سلیمان : ابوحازمه ! کیدای شي چې له موږ سره پاتي شئ؟

ابوحازم : په خدای سره پناه غواړم

سلیمان : ولي ؟

ابوحازم : ځکه چې زه ستاسو دمال دولت اوعزت طرف ته مایل نه شم ، چې بیادهغه په نتیجه کې ماته عذاب راکړل شي.

سلیمان : که ستاسو کوم ضرورت وي نو ویې ښایاست چې مورېې پوره کړو ؟

ابوحازم : یوحاجت شته هغه داچې له جهنم څخه خلاصون راکړه اوجنت ته مې داخل کړه !

سلیمان : داخوزما په اختیارکې نه دي ؟

ابوحازم : نوبیازه ستاڅخه دبل حاجت پوره کول نه غواړم !

په اخیرکې سلیمان وویل : ښه نوزمالپاره دعاء وکړه ، نوابوحازم داسې دعاوکړه . ای الله جل جلاله که سلیمان تاته خوښ وي .نودهغه لپاره ددنیا اوآخرت دواړوبهترکولو لپاره عملونه اسان کړه اوکه چیرې دی ستادښمن وي ،نوېې تروېښتانو ونیسه اودخپلې رضا دکارونولپاره یې راوګرځوه

سلیمان: ماته څه وصیت وکړه ؟

ابوحازم : دخپل پرودګارعظمت اوجلال په هغه درجه کې ساته چې الله تعالی دې په هغه مقام کې ونه ویني له کوم څخه چې یې منع کړی یې ، اوله هغه مکان څخه غیرحاضرنه شي کوم ته چې په هغه ستادورتلو حکم کړی دی ،

سلیمان ددې مجلس له ختمیدو وروسته سل [۱۰۰] اشرفی ډالی په توګه ابوحازم ته ولیږلې ، ابوحازم له یوخط سره بیرته ورولیږلې، چې په هغه کې یې داسې لیکلي و : که چیرې داسل اشرفی زمادخبروبدله وي ،نو دازما په نزدترویښو اوخنزیرزیات بیکاره شئ دی ، اوکه چیرې داپه دې وجه رالیږل شوي وي، چې په بیت المال کې زماحق شته ،نو زما په شان زرګونه عالمان اوددین خدمتګران شته ،که چیرې دې ټولوته همدومره ورکړي وي، نوېې زه هم اخستلی شم اوکه داسې هم نه وي نوبیاماته ددې ضرورت نشته !

دیادوني ده چې ابوحازم چې دخپل نصحیت عوض اواجرت اخیستل ته دویښو اوخنزیرحکم ورکوي دانبیي چې دده په آند اوهغه عصرکې دطاعت یاعبادت عوض اخستل جائزنه و.

درنو لوستونکو ! همداواقعه په څرګندوتګوکې راته ښیي چې زمونږ اسلافو هیڅ کله هم دمادیاتو ، مالونو ، دنیاوي ښکلاګانو اودکوم زورورپه وړاندې له حق ویلو څخه خپل ځانونه نه دي تیریکړي اوټینګ عزم ، ثبات اواستقامت یې ددین په لاره کې درلود

ذبیح الله مجاهد

خوشیبې له خپل ولس سره

السلام علیکم ! زما پوښتنه داده چې دقطر دفتر دپرانستو سره به داسلامي امارت اړیکې نورو هیوادونه هم غزیږي او که نه ؟ رحمتي

ځواب: وعلیکم السلام ! روښانه ده چې اسلامي امارت غواړي چې دنړۍ له ټولو هیوادونو سره ښې اړیکې تأمین کړي ، ددې هدف لپاره دنورو هیوادو خصوصا اسلامي نړۍ سره تینګې اړیکې جوړول ، هم زمونږ په ګټه ده او هم دنورو هیوادونو ، اسلامي امارت دنړۍ له ولسونو سره دښو اړیکو دلرلولپاره هره ممکنه لاره کاروي ، او دخپلو اړیکو ، دفترونو او استازو په وسیله به وشی کولای چې نړیوال داسلامي امارت په هدف ، هیلو او آرزوګانو آګاه کړي. مننه

اول مې سلامونه ومنئ ، سوال دادی چې دفتر خو پرانستل شو ، د جهاد په میدان کې خوبه ګومه وقفه یا اوربند له دښمن سره نه کیږي ، ځکه امکان لري امریکایان یې غوښتنه وکړي ؟ محمدیوسف

ځواب: وعلیکم السلام ! په قطرهیواد کې داسلامي امارت دفتر له ټولو نړیوالو سره داړیکو لپاره خلاص شوی ، خو که امریکایان دافغانستان اشغال ته دپای ټکی کیږدي او خپل پرغلګر ځواکونه له افغانستانه وباسي پخپله جګړه کمیږي او حتی دریږی ، ځکه کله چې امریکایان له افغانستانه لاړشي دلته شته اجیران او غلامان یې یتیمان کیږی او پخپله به دځان لپاره یوه داسې تګ لاره غوره کوي چې نور داسلامي حاکمیت سره مخالفت ونشي ، زمونږ په

هیواد کې دنویو جګړو لپاره لاره هواره نشي او نور دافغانستان د دوو لویو جهادونو دشهیدانو آرمانونه پوره او په هیواد کې داسلام تر بیرغ لاندې آرام ، سوکاله او آزاد ژوند ته زمینه برابره شي.

وعظ او تبلیغ

زمونږ ګران مجاهده وروره السلام علیکم---- څنګه چې ټولو ته معلومه ده دهیواد تر ۸۰ سلنه کلي او ولسوالي ګاني دمجاهدینو تر واک لاندې دي چې دمجاهیدینو هر شرعي امر په کې اجرا کیدای شي. اما دا پوښتنه ده چې ولې مجاهدین په خپلو ساحو کې د خلکو دیني زده کړو ته توجه نه کوي ؟ په کلي کې جومات شته ، امام شته امام معاش اخلي ،مګر په سلو کې که په یوه جومات کې دیني درس او دیني وعظ وي. په نورو کې نشه همدا علت دی چې زمونږ کوچنیان بې تعلیمه پاتې کیږي او په دیني مسائلو نه پوهیږي . تمیم مجاهد

ځواب ـ وعلیکم السلام ! تمیم وروره ستاسو غوښتنه خورا پرځای او له احساس ډکه ده ، واقعا چې زمونږ مساجد او هلته میشت ملا امامان خورا لوی مسئولیت لري او ددین په برخه کې ډیر څه کولای هم شي . خو ستاسو له غوښتنې سره سم داسلامی امارت دتعلیم او تربیې څانګې همداکار پیل کړی او له ډیرې مودې راهیسې په هغه ځایونو کې چې داسلامی امارت دمجاهدینو واک ټینګ ده او موانع نشته عملا همداسې پروګرامونه ترلاس لاندې دي او د پیاوړتیا لپاره یې هم لازیات کارونه روان دي ،په دې اړه دتعلیم او تربیې دپروګرامونو یوه کوچنۍ برخه لاندې ټ سوته نقل کوم چې دتعلیم اوتربیې دمسئولینو لخوا ستاسو دپوښتنې په رابطه وضاحت راغلي :

دکلیوالي مدرسو په برخه کې

څرنګه چې زمونږ اکثریت ملت په اطرافواوکلیوالي سیمو کې ژوند کوي اود ډیرو تعلیمي اسنتیاوو څخه بې برخې دی نودهغوی دکوچنیانو لپاره په خپلو کلیو کې دابتدائي ، ضروري دیني تعلیم تو لپاره دکلیوالي مدرسو جوړول دکمیسیون له اهدافو څخه یو مهم هدف دی چې په لاندې ځانګړتیاوو سره په دې برخه کې قدم اخیستل شوی دی !

الف: ددوی دتعلیم لپاره دکلیو امامان مؤظف شوې دي ترڅو په ورځ کې اقلاً له (۲) څخه تر (دوه نیم) ساعته پورې دخپل کلي کوچنیانو ته په مسجد یا یو کورکې درس ووایي.

ب: ترڅو چې ددوی لپاره یو ټاکلی نصاب جوړ پرې مروّج دیني مضامین لکه

قاعده ، قرآنکریم ، شروط الصلاة ، قدوري ، پنج ګنج او دمجاهدینو دوخت دمکاتبو د

لمړنیو درېو صنفونو کتابونه ورته ویل کېږي.

ج: پورتني کتابونه او ورسره نور تعلیمي مواد لکه قلم، کتابچه وغیره د کمیسیون لخوا ورته برابرېږي.

د: دهجرت په دیارکې هم کوشش روان دی ترڅو په کمپونو کې هم زمونږ دمهاجرو کوچنیانو لپاره دتعلیم زمینه برابره کړو.

هـ: ددغو کلیوالي مدارسو لپاره دوخت اوشرائطو سره سم ددرېو کلونو یو نصاب جوړ شوی اوچاپ ته آماده دی.

خو داچې تر اوسه څه شوي دي هغه کفایت نه کوي او لا باید دا دایره پراخه او لاهم عملي شي، زه ستاسو پوښتې د اسلامی امارت په تشکیلاتو کې داړوندې موضوع له مسئولینو سره شریکوم او هیله من یم چې لاګرندي ګامونه پورته کړل شي او یو بل زیری هم در کوم چې په نژدې را تلونکې کې به دتعلیم او تربیې دکمیسیون دعمومي مسؤل سره زمونږ دهمکارانو هر اړخیزه مرکه هم پر لیکه شي چې ت سو او نور هیواد وال به د اسلامي امارت دتعلیمي پرګرامونو څخه په بشپړ ډول معلومات ترلاسه کړئ.

السلام علیکم!

که چیرې طالبان په دې وتوانیږي چې افغانستان کې واک ته ورسیږي اویاهم په یوه نوعه ورګډ شي نو دامارت دریځ د افغانستان د مسلحو ځواکونو او نورو لس کلنو لاس ته راوړنو په اړه څه ده، آیا اردو به رنګوي اویا به یې ساتي؟ اوسنی اردو که هرڅاجوړه کړي خو بیاهم لښکر یې افغانی دی. مننه دلاور

ځواب- کله چې هیواد آزاد شي او یو واقعا سوچه اسلامي حاکمیت مینځته راځي نو خامخا باید په هیواد کې چې د اقتصاد په برخه کې کوم پرمختګونه چې زمونږ دډین او دهیواد ملي ګټې یې ایجابوي دهغو ساتل او لا تقویه کول زمونږ دنده ده، هر افغان هیله لري چې هیواد یې آباد او سوکاله وي، هر افغان هیله لري چې دهیواد والو ژوند یې مرفه او له آسانتیاوو ډک وي او په دې کې شک نشته چې مونږ له بل هر افغان څخه زیات دخپل هیواد او خلکو دپرمختګ لپاره ژمن یو. په هیواد کې چې د اقتصاد په برخه کې کوم پرمختګ شوي نه تنها هغه به ساتل کیږي بلکې دپیاوړتیا لپاره یې سعي کیږي، خو یو اصل مهم ده چې که په اقتصادي برخه کې مونږ شرعي موانع ولرو، لکه د سود معامله، د غیرمجاز تجارتونو مسئله، دهیواد دکانونو په برخه کې سهل آنګاري او یا د اسي اقتصادي تړونونه چې زمونږ ملی سرمایې ته زیان اړوي

دهغو ټولو لپاره به لازم مکانیزم او داسي شرائط برابرېږي چې نه په هیواد کې پانګه اچونکي کسان زیان وویني او نه زمونږ دیني اصول او هیوادني ملي ګټې له نظره وغورځول شي ، په یادو برخو کې به لازم اصلاحات راوستل کیږي.

پاته شوه د اردو او د هیواد امنیتي ځواک مسئله: دا باید تاسو ومنئ چې دکابل رژیم اوسنی امنیتي ځواک په ډیره بیړه ، په غیر معیاري شکل او دیو خاص هدف لپاره جوړ شوي چې هغه په هیواد کې دیرغلګرو سره همکاري او مرسته ده . نو طبعا به دغه امنیتي ځواک ژور ې اصلاح ته ضرورت لري . اوسني اردو ټوله په انفعالي شکل جوړه شوي او پکې ګمارل شوي کسان اکثره هغه ځوانان دي چې یا په نشه یې توکو روږد دي او یا په کلیو او کورونو کې دټولنې هغه بد خلک کې استخدام شوي چې هیله او آرزوي یې دځو روپو پیدا کول دی او بس ، نه کومه مشروع انګیزه لري ، نه دهیواد او اسلام په وړاندې له کوم تعهد نه خبردي او نه هم زړور تیا او غرور لري چې داټولې تشې دیوې اردو او امنیتي ځواک لپاره غټ عیب بلل کیږي ، ددغو مشکلاتو په وجه به اسلامی امارت دحاکمیت په صورت کې چې حالات دنورمال کیدو په طرف درومي مونږ به یو داسي امنیتي ځواک جوړوو چې هغه دافغانانو په لاس دافغانستان اودلته داسلامی ارزښتونو دتحفظ لپاره جوړ شوي ځواک وي . دهغو روحیه عالي وي . دهغو تعلیم او تربیه په خورا آزاده او سرلوړې فضاکې شوي وي ، دهغو تعهد او ژمنه دخپل دین او هیواد سره دومره قوي وي چې بل هیڅ شی یې هم په وړاندې ورته ارزښت ونلري ، لکه الحمدلله نن زمونږ مجاهدین او په خاص ډول فدایان چې دخپل دین دساتلو او دخپلو سرحداتو او آزادۍ لپاره هر ساعت سرښندنې ته تیار دي ، نو مونږ غواړو چې په راتلونکي امنیتي جوړښت کې ښه بدلونونه راولو او کوم شیان چې بیا مثبت مونږ ته پاتې کیږي هغه به هم وخت ته په کتو په خپل حال پاتې وی او د اصلاح او لا قوي کیدو هلي ځلي به یې کیږي.

سلام مجاهده وروره امید چې صحتمنده وسئ

زه غواړم دا در ته ووایم چې کاشکې تاسو په پنجشیر کښې دولایت دمقام پر ځای د مسعود په قبر باندې حمله کړې وای او هغه مو له مینځه ځغه وړی وای . په درناوي تورعقاب دکابل ځغه

ځواب ـ وعلیکم السلام ! وروره دپنجشیر په ولایت باندی برید خو په دښمن برید وو او دښمن ته یې درنه مرګ ژوبله واړوله ، ولی په قبرونو باندی برید او دقبرونو له منځه وړل دا سم کار نه ده ، په قبرونو کې خو مړی او سیږي او زمونږ دښمن چې مړ شي بیا یې مونږ څه کوو ، نوره

معامله يې الله تعالى ته سپارو ، الله تعالي دې خپل حساب ورسره وکړي . بل که مطلب مو داوي چې دهغو له قبرونو نه غير مجاز او غير شرعي استفاده کيږي، ددې کار دمخ نيوې لپاره نورې سهل او نرمې لارې هم شته چې زه فکر نه کوم چې بايد دومره جدي وګڼل شي چې څوکسان دې ځانونه پرې قرباني کړي ، نه بلکي د وعظ او نصحت دلارې او په لازم وخت کې دحاکميت د لارې نه موږ توانيږو چې دخرافاتو مخه ونيسو او دغير شرعي کارونونه خلک منع کړو .

مجاهد ورور سلامونه او نيکي هيلې !

زما سوال له تاسو نه دادی چې د اسلام يا د قران عظيم الشان په کومه پانه کې د مسلمانانو وژنه جايز ګڼل شوې؟ ستاسو په هر انتحاري برید کې بې ګناه غريب مسکيين خلک له منځه ځي. ټول دسره بې ګناه خلک ، د داسې بريدونو نه څه جوړيږي. د خدای لپاره لږ دې مظلومو خلکو باندی ورحميږئ . ارزو . وانه

ځواب ـ وعليکم السلام ! اګرکه ما په دې سلسله کې داسې پوښتنو ته په کراتو ځواب ويلی ، خو يو ځل بيا هم لازمه بولم چې تاسوته دومره وليکم چې دې ګناه مسلمان وژنه په هيڅ ځای کې هم نشته چې جايز شي ، او زموږ دبريدونو هدف کله هم هغه مسلمان نه وي چې هغه ديرغلګرو په پلوي نه وي ولاړ ، تاسوته به دک بل دغه وروستي بريدونه معلوم شوی وي چې هيڅ ملکی مرګ ژوبله يې نه لرله صرف دښمن په نښه شوي وو او له منځه ولاړ ، خو يو هغه کسان وژل دی چې ديرغلګرو سره همکاري لري دهغو په وژنه کې هيڅ کوم شرعي ستونزه نشته مسلمان خو دي ولې حمايت له کفارونه کوی ، دخپل هيواد داشغال دتداوم سبب دي او له اشغالګرونه مخ کې دوی دمجاهدينو په ضد اجرات کوي ، ددغو خلکو وژل شرعا واجب دي ترڅو مسلمانه ټولنه ددغسې اشخاصو له شره محفوظه کړل شي . دغو کسانوته شرعا ساعي بالفساد ويل کيږي چې فقهايي په اړه ليکي (ويجوز قتلهم ويثاب قاتلهم) ددوي قتل جايز ده او قاتل ته به يې الله تعالی اجر ورکوی.

يو هغه خلک وژل دي چې هغه ماشومان دي ،بې طرفه ښځې دي يا سپين ږيرې دی چې چيرت په کوم برید کې شهيد انيږي نو زه په يقين سره ويلای شم چې دهغو خلکو شهادت دهيڅ مجاهد قصدي عمل نه ده ، تاسو پوهيږي چې ديو بې ګناه سړی وژنه لوی جرم ده او هيڅ مجاهد هم چې دالله ددين کلک پيرو ده ، دې ته نه آماده کيږي چې بې ګناه خلک قصدا ووژني ، البته د څه تخنيکي ستونزو له امله ، يا د انفجار دلوی والی له امله ، يا دبريد په لاره کې دخنډونو دايجاد له امله که چيرې انفجار بې ځايه مينځته راشي او عام خلک شهيدان کړی دا

کملا د تأسف ځای ده او باید ځان هم تري وساتل شي خوداسې پیښو رامنځته کیدل ممکن دي اوپه ټولیزه توګه ځان نشي ورنه ساتل کیدای ، حتي په داسې پیښو کې پخپله مجاهدین هم دخپل ماین یا خپلې وسلې په وجه شهید انیږی چې ک ملا غیر اختیاری پیښه وي ، هرمجاهد ته عالیقدر امیرالمؤمنین او داسلامي امارت نورو محترمو مشرانوامر کړی چې باید خپل برید داسي تنظیم کړي چې ملکي خلکوته زیان ونه رسیږي ،تاسي مطمئن اوسئ چې مورږدي کار ته ډیر متوجه یو داسلامي امارت په چوکاټ کي دملکي تلفاتو دمخنوي دپاره باصلاحیته اداره جوړه ده که کله داسي پیښه رامینځته کیږي دوی یې هر اړخیزه څیړنه کوي او بیا لازم اجرا آت کوي .

خو تاسو هم باید دملکی تلفاتو موضوع له بې پرې پلوه ارزیابي کړي ، صرف در ادیوګانو او ددښمن په ادعاوو مه خطاوځي ، دسوء تبلیغاتو تر تأثیر لاندې مه راځئ ، دملکي تلفاتو په اصلي تعریف ، معنی او مصداق ځان پوه کړی بیا قضاوت وکړئ ، دملکي تلفاتو اصلي عامل ولټوئ بیا پریکړه وکړي او دملکي پیښو په اړه آزاد تحقیق وکړي بیا حکم وکړي ، اوس زمونږ ماتې خوړلی دښمن ورسره مله میډیا او لاسپوڅي هڅه کوي چې دمجاهدینو هربرید په ملکیانو برید وبولي ، دوي پولیسوته هم ملکیان وای ، سکورټیانو او دامریکایي ځواکونو ساتونکوته هم ملکیان وایي ، دوي دک بل رژیم په حساسو اداروکې یا په خورا مضرو اداروکې کارو کونو ته ملکیان وایي چې داسي نده ، هرهغه څوک چې په هرنامه او هرځای کې دخپل دین او هیواد په ضد ولاړ ده اوله کفارونه حمایت کوي هغه هدف دی او ملکی خلک ورته ویل له هیواد او اسلام سره خیانت ده .

مجاهدصاحب سلامونه

کیدای شي چې د قطر د دفتر په باره کښې معلومات را کړئ چې په دې دفتر کښې دطالبانو کم غږي شتون لري ډیره مننه . کریمي دهرات ولایت څخه.

ځواب . په قطر هیواد کي داسلامي امارت په دفتر کي داسلامي امارت دسیاسي کمیسیون لوړ رتبه اعضاء موجود دي چې په خپل مسلک کي کامل بلدیت لري او په خپلو اړونده چارو کي داسلامي امارت دمشر تا به څخه تر هدایت اخستلو ورسته اجرا آت کوي.



مفتي ابو ماريه.....

كه مجاهد دجنګ لپاره روژه ماته كړي كفاره ورباندي شته اوكنه ؟.

-الاستفتاء مجاهد ينوروژه نيولي وه،غرمه كې جنګ له امريكايانوسره شروع سو،مجاهدين سخت تړي شوو اخيريو دوومليګرو روژه وخوړله ،نوكفاره خوبه نه پرلازميږي ؟المستفتي يومجاهد.

الجواب حامداومصلياوبعد:په يادشوي صورت كې په دغه مجاهدينوكفاره نه لازميږي البته قضاء شته

لمافي الخانية ۱/۲۲۷:وكذارجل اذاكان بازاء العدووهويخاف الضعف على نفسه فله ان يفطر مقيما كان،اومسافرا.

وفي منحة الخالق على بحرالرائق ۲/۴۹۱:فان الغازي اذاخاف العجز عن القتال له الفطر ولومقيما.

وفي الوالجية ۱/ ۲۲۷:الغازي اذابارزالعدووعلم يقينا أنه يقاتل العدوفي شهررمضان،وهويخاف الضعف على نفسه ،فله أن يأكل قبل الحرب سواء كان مقيما ،امسافرا

وفي ردالمختارمع الدرالمختار ۳/ ۴۲۲: وعوارض الصوم...الى ان يقال:في الخلاصة :الغازي اذاكان يعلم يقينا أنه يقاتل العدفي شهررمضان ويخاف الضعف ان لم يفطر افطر.والله تعالى اعلم بالصواب.

مجاهد لپاره تيمم

الاستفتاء: محترم مفتي صاحب مورږ په يوه کرونده کې ځانونه پټ کړو ، په داسې حال کې چې کلې ته امريکايان راغلي وو ، مورږ ته به غالب اوبه نږدې وي ، خو مورږ ځکه نشو ورتلای اونه موتلاش کولی شوای چې خلکو ياهم دښمن ليدو ، نومورږ په تيمم لمونځونه اداء کړو نو دالمونځونه خوبه بيرته اعاده نه غواړي ،ځکه مورږ اوريدلي چې دتيمم کوم عذر من قبيل العبادوي هغه بيرته اعاده غواړي ؟ يوسائل

الجواب: په ذکرشوي صورت کې دغه تيمم صحيح دی ، اودلمانځه اعاده نشته. اومذکوره عذريعني خوف من العدوکه څه ظن هرمن جانب العباددی لکن په حقيقت کې من جانب الله تعالی ده.

في ملتقى الابحر ١\٥٨ يتَيَمّم المُسَافِر وَمن هُوَ خَارج المصر لبعده عَن المَاء ميلًا أو لمَرض خَافَ زِيَادَته أو بطؤ برئه أو لخوف عَدو أو سبع.

وفي رد المحتار ١\٢٣٧ باب التيمم: م ش. ثم اعلم أنه اختلف في الخوف من العدو هل هو من الله تعالى فلا إعادة، أو من العبد فتجب؟ ذهب في المعراج إلى الأول، وفي النهاية إلى الثاني، ووفق في البحر بحمل الثاني على ما إذا حصل وعيد من العبد نشأ منه الخوف فكان من قبل العباد ، وحمل الأول على ما إذا لم يحصل ذلك أصلا بل حصل خوف منه فكان من قبل الله تعالى لتجرده عن مباشرة السبب وإن كان الكل منه تعالى خلقا وإرادة. قال: ثم رأيت في الحلية صرح بما فهمته وأقره في النهر وغيره».

که يومجاهددښمن له وېرې په اشاره لمونځ وکړي نوبيرته يې اعاده شته اوکنه ؟

پوښتنه: محترم مفتي صاحب امورږ په يوه داسې سيمه کې ؤ چې دښمن راته نږدې ؤ ،مورږ لمونځ په اشاره وکړ دغه لمونځ موصحيح شوی اوکنه ؟ يعني اعاده غواړي اوکنه ؟

الجواب:: په ذکرشوي صورت کې ددغه لمانځه اعاده نشته.

في منحة الخالق على البحر الرائق ١\١٥٠ شرائط التيمم: وفي منية المصلي لو صلى

بالإيماء لخوف عدو أو سبع أو مرض أو طين لا يعيد بالإجماع.

وفي تبيين الحقائق ١٠١\١ باب شروط الصلوة م ش: ولو خاف أن يراه العدو إن قعد صلى مضطجعا بالإيماء، وكذا الهارب من العدو راكبا يصلي على دابته،

قرآن کریم په جیب کې ګرځول څرنګه دي؟

-الاستفتاء:له ډیرو مجاهدینو سره په جیب کې قران کریم وي نوله ماسره دا پوښتنه پیدا شوه چې په جیب کې د قرآن کریم ګرځول څرنګه دي؟ زه هم یو وړوکی قران کریم راسره ګرزوم ؟ کلیم الله.ربیع الاول۱۴۳۴

الجواب حامدا ومصليا وبعد:قرآن کریم په جیب کې ګرځول چې په مستقل غلاف کې وي پروانه لري، خوبيت الخلاء يا قضاء حاجت ته تلل ورسره مکروه دي..

لأن النبي صلى الله تعالى عليه وسلم(كان اِذا دخل الخلاء وضع خاتمه) [الحديث] أخرجه أبو داؤد .

وفي الموسعة الفقهيّة ٣٨/ ٧:ذهب الحنفيّة والحنابلة، وهو قول الحسن وعطاء والشعبي والقاسم ،والحكم،... الى انه لابأس ان يحمل الجنب أو المحدث المصحف بغلافه ،اومع حائل غير تابع له،لأنه لايكون ماساله فلايمنع منه كمالوحمله في متاعه،ولأن النهي الوارد انماهو عن المس ولامس هنا ،وقال:الحنفيّة:فلو حمله بغلاف غير مخيط به،اوفي خريطة وهي الكيس أونحوذلك لم يكره.

وفي ردالمحتار مع الدرالمختار١/ ٣٤٧- ٣٤٨ :ويحرم به أي:بالاكبروبالاصغرمس المصحف... الابغلاف متجاف غيرمشرز قال:علامه الشامي رح تحته أي:غيرمخيط به وهوتفسير للمتجافي... فالمراد بالغلاف ماكان منفصلا كالخريطة وهي الكيس ونحوها لأن المتصل بالمصحف منه الخ. والله تعالى اعلم بالصواب.

دخبرليکنې ژورنالستيک آرونه:

دخبر او غير خبر ترمنځ توپير

(پنځمه برخه) (شکورشفق)

(ډاکتر يونس شکرخواه) وايي چې لکه څنګه چې خبر پيدا کول او پسې ګرځيدل له ستونزو نه ډک وي ،همدا سې ورته خبري چوکاټ جوړول او پدې چوکاټ يا قالب کې اچول هم له کړاونونه ډک وي ،دلته به دخبر سبکونه يا قالبونه يوځه په تفصيل سره وليکو چې دخبر ليکونکيو لپاره دخبر ليکلو ژورنالستيکه چاره اسانه شي.

۱-هرم ډوله سبک:(Inverted Pyeamid)

۲-تاريخي سبک(Chaonoloygicalstyle)

۳-له ليډ سره يوځای تاريخي سبک (Combiation style)

۴-دحيرانونکې پای لرونکی سبک (Surpriseendiny)

---

(۱)-**هرم ډوله سبک** :پدې ډول سبک کې دخبر پيل دمهمو اوجالبو ټکو څخه کيږي ،يعنې دخبر په لومړي پراګراف کې مهم مواد وړاندې کيږي او همدا سې نور مواد دارزښت له مخې يو په بل پسې راوړل کيږي آن چې پای کې يې داسې بيان راځي چې موخه ورته وايي ،لاندينې شکل کې به وګورئ چې دخبر پای کې هغه ټکي کاريږي چې لږه پاملرنه ورته کيږي !



حقیقت کې دهرم ډوله سبک په چوکاټ کې وړاندې شوي خبرته ډیرو مهمو ټکیو ته لومړی پام اړول کیږي، چې ددې سبک شاته یو تاریخي ارزښت پروت دی ،دا سبک هغه مهال ډیر کاریده چې په نړۍ کې دتلګراف اختراع وشوه ،خبریالانو دامریکا دکورنۍ جګړې پر مهال د اړیکو دپاره کیدوله ویرې لومړی دخبر اصلي توکي مخابره کول اودارتباط دټینګتیا په په صورت کې به یې وروسته تفصیل وړاندې کاوه ،په هرحال په هماغه ډول چې ویل شوي پدې سبک کې لیدې دخبر توکي اوپه ترتیب سره نورټکي دمهمو الې اصل ته په پاملرنه سره لیکل شوي.

دخبر هرم ډوله سبک دوو موخو لپاره کارول کیږي ؛

الف: که لوستونکی دخبر له پیل سره مینه وښایې تر پایه به یې په چټکی سره دخبر دلوستلو تلوسه پیدا کیږي وخت به یې مصرف نشي.

ب: په طبعي ډول دپیښو په اړه دخبر وړاندې کول لکه چې خلک یې په خپلو منځو کې همدا ډول کاروي ،پدې سربیره دوه نورې ګټې هم لري ،الف:دخبر محتوی چې په لیډ کې ځاییږي نو تایتل جوړول هم اسانیږي.

ب:دمطالبو ډډیروالې پر وخت چې ځینې برخې یې کمیږي نو اصلي مطلب پر خپل ځای پاتې کیږي او دخبر دنوې والې له کبله ورځپانه کې نورو مطالبو ته هم ځای پاتې کیږي ،داچې په ورځپانو اومجلو کې اوږده اوږده مطالب لوستونکي ستومانه کوي او خلک دپخوا په نسبت کم وخت لري ترڅو اوږده مضامین ولولي نو دورځپانو لیکونکیو ترمنځ داسبک ډیر منلی او دخوښې وړ دی.

دهرم ډوله سبک کارونه : خبریالان او ورځپانه لیکونکي ددې سبک نه دسیمینارونو ،غونډو ،ویناوو او ورځنیو موضوعاتو څخه دخبر جوړولو په مهال ګټه اخلي ،خوله بده مرغه ځینې خبریالان دمرکې پر مهال په ناپوهۍ سره دهمدې سبک په ډول مهمې پوښتنې دمرکې په سرکې تر سره کوي پداسې حال کې کیدای شي داکار دمرکې لوړی واړوي او مرکه کوونکی ښایې داسې ځوابونه ورکړي چې سره تړلې وي.

(۲)تاریخي سبک :

دتاریخي سبک دپیژندنې په باب (ډاکتر شکرخواه)په خپل کتاب کې لیکي چې دې سبک کې د هرم ډوله سبک پر خلاف موضوعات دپیښیدو په لحاظ د خبرپه متن یا اخر کې راوړل کیږي ،پدې سبک کې خبریال لکه دیوه قاضي رول نه لوبوي چې پریکړه وکړي ، کوم خبر لومړی اوکوم خبر ورپسې ولیکي ،پدې توګه تر ډیره بریده په خبر کې دخبریال دنظر دخایه

کولومخه نیول کیږي ،او همدا رنګه د هرم ډوله سبک پر خلاف مطالب په تفصیلي ډول وړاندې کیږي ،خو تاریخي سبک هم لیډ لري چې خبرې سرکې لیکل کیږي خو دالیډ ځکه لیډ نشو بللای چې ډیر وي خو مطلب نشي افاده کولای.

دلته مهمه داندې چې کوم ټکی مخکې او کوم وروسته راوړل شي ،مهمه داده چې دې په زړه پورې لارښوونو نه ک رواخستل شي .داموضوع دفورمول نه په ګټه اخستنه توپیرلري ،خبر لیکونکي باید تل فورمول ته دشک په سترګه وګوري ،ځکه فورمول کارول دخبر نوې والی له نابودی سره مخ کوي.

ددې نه وړاندې چې لیډ سره یوځای تاریخي سبک مطالعه کړوباید دتاریخي سبک نه چې دګزارشونو ،مقالو تحقیق تواودغونډو څخه دخبرې جوړولوکې کار اخستل کیږي مطالعه اړینه ده.

(۳)لیډ لرونکی تاریخي سبک :داډول سبک څنګه چې له نامه نه یې ښکاري دپورتنیو دوو سبکونو یوځای کول دي او یوازې دښاري رپوټونو او پیښو په اړه کارول کیږي ،ددې لپاره چې پخپل ذهن کې ددې سبک لپاره یو انځور پیدا کړوبهتره ده ووایو چې دتاریخي سبک ډول چې پکې مطلب له پیل نه تر پایه پورې دپیښود پیښید وپه ترتیب سره لیکل کیږي په لاندې شکل سره به وي:



دلیډډول لرونکی تاریخي سبک شکل دپورتني شکل سره په لږ توپیر:

لی

لیډ لرونکی تاریخي سبک دورځپانه لیکونکیو په ځانګړې ډول دهغو په منځ کې چې ښایې رپوټونه اوپیښې را اخلي ځانګړی ځای لري.

(۴)-**دحیرانوونکې پای لرونکی سبک** : داسبک تر ټولو خوږ سبک دی پدې سبک کې دپیښې قلف دخبر په پای کې خلاصیږي او لوستونکی حیرانوي ،داسبک ددې لپاره دورځپانو لیکنې په ادبیاتو کې رامنځته شوچې دلوستونکې کومې لټونې ته ځواب ووایي ،یعنې دحیرانوونکې پای لرونکی سبک څخه هغه وخت کار اخستلای شو چې دې پیښې کې دحیرانی موضوع اخښل شوي وي.

دخبر تخنیکي جوړښت :

دژورنالیزم دفن پوهان یا استاذان دخبر تخنیکي جوړښت کې (۳) برخې اړینې بولي ،دوئ فکر کوي چې خبر ددې دریو برخو څخه په غیر نشی جوړیدلای ،خود(ژورنالیزم مطالعه)کتاب مولف (ایس ایم شاهد)بیا لیکي چې یو خبر له (۴) څلورو برخونه پرته په تخنیکي لحاظ نشي جوړیدای ،

(۱)-سرلیک یا (Lead)

(۲)-دخبر پیلامه (Intro).

(۳)-دخبر متن (Body)

(۴)-دخبر پای یا شالید (Endiny)

خوعام افغان ژورنالستان که داځلور مذکورتوکې دیوه خبر جوړونې لپاره اړین بولي نود(lead) کلمه دخبر دپیلامې په معنی بولي نوځکه وایي چې خبر کې یو سرلیک ،لیډ یا پیلیزه ،متن او شالید ضروري دي.

دخبر سرلیک یا تیټر:په نوې ژورنالیزم کې سرلیک دخبر هغه عنوان دی چې دخبر دشروع لپاره تاکل کیږي اوزړه راښکون پکې هغه وخت پیدا کیږي ،چې خورا ډیر مختصر اودپیغام لرونکی وي ،دسرلیک په لیکلو کې هڅه کیږي چې دامکان تر حده ډیر لنډ وي او خبري جوړښت کې سرلیک لیکل تر ټولو ستونزمن کار دی ،او دسرلیک لیکل دهغه چا کاروي چې پدې فن کې څوکلنه پخه تجربه ولري.

دیوه ښه سرلیک لپاره لاندې مشورې په نظر کې ساتل پکاردي !

(۱)-سرلیک چې څومره لنډ وي په هماغه اندازه غوره دی.(۲)-سرلیک بایددکوټلو

لغاتو لرونکی وي.(۳)سرلیک باید څرګند اودقیق وي.(۴)-په سرلیک باید دتکراري جملو له راوستلونه ډډه وشي.(۵)-په سرلیک کې باید منفي او سوالیه جملې ونه لیکل شي.(۶)-که سرلیک فعل ولري نو بنه دی ،خوچې فعل په مناسب ډول وکارول شي.(۷)- په سرلیک کې باید لغتونه مات نکړای شي.(۸)سرلیک باید له لیږ څخه راوستل شي ،یعنې په سرلیک کې باید له ټولو امکاناتونه کار واخستل شي.له شعري ذوق نه هم کولای شو پکې ګټه پورته کړو .(ډاکټر شکرخواه) ددې لپاره چې یو ایرانی ژورنالیست دی داسې بیلګه خپل کتاب کې ورته راوړي:که فرض کړو چې تهره شپه تهران کې باران شوی ،ددې خبر لپاره څه ډول سرلیک ولیکو ؟هغه به داسې جوړشي:

ټول تهران تهره شپه تر باران لاندې و ،تهران تیره شپه داوبو په باران ولامبل .آسمان تیره شپه په تهران وچاودید .تهران تیره شپه د سخت باران لاندې ساه وایستله !

ایس ایم شاهد)د سرلیک یا تیټرډولونه خپل کتاب کې پدې ډول راخلاصه کوي:

(۱)-داوږدوالي له مخې :یو کالمه ،دوه کا لمه ،درې کالمه ،څلور کالمه ،پنځه کالمه ،شپږ کالمه ،اووه کالمه او اته کالمه سرلیک.

دورځپانې هر مخ په اتو برابرو برخو چې ک لم ورته وایې ویشل کیږي ،ددې لپاره اوږد سرلیک داتو کالمونو برابر وي.

(۲)-دبنې له مخې:لېبل سرلیک ،ضمني سرلیک ،بغلي سرلیک ،څلیدونکی سرلیک او داسې نور.....

(۳)-دجوړښت له مخې سرلیک :الف- منزل لرونکی سرلیک لکه یو منزله دوه منزله...ب -څوړنده حاشیه ،ج-کش شوی خط (خط کشیده)سرلیک.

(۴)ددول له مخې:لکه قولي سرلیک (Quotation Lead) ،خوډاکتر شکرخواه بیا داسې وایې چې:(۱)دیوې کرښې سرلیک :چې څنګه یې له نامه ښکارې سرلیک په یوه کرښه کې ولیکل شي لکه داسې :

((**********))

(۲)ددویا څو کرښو سرلیک چې کله کلمې زیاتې وي بیا هم په دوو کرښو کې ځایه شي لکه دې شکل کې:

[[**********]]

[[**********]]

(۳)ترازوډوله سرلیک:داسرلیک دترازوپه ډول دی یوې او کله بلې خواته تمایل کوي لکه پدې شکل کې:

[[**********]]

[[**********]]

(۴)هرم ډوله سرلیک:ددې سرلیک ډول دهرم بڼې ته ورته اوتوکي په کې په ترتیب سره دپورتنې لورڅخه ښکته لورته لیکل کیږي لکه پدې شکل کې:



---

(۵)مثلث ډوله سرلیک:داډول سرلیک دهرم دبڼې پرخلاف یا عکس دیوې کلمې له لیکلو پیل کیږي اودمثلث په ډول پای ته رسیږي لکه پدې شکل کې:

مثلث ډول سرلیک

دخبر پیلامه :(Intro Lead)

دخبر پیلامه یا لیډ دخبر ډیره مهمه برخه ده چې دهر خبر دبري رازتر ډیره حده په پیلامه کې نغښتی دی ،په انګلیسي کې ورته (Intro)ویل کیږي چې د(Introduction)نه مخفف شوی دی ،څنګه چې دهر یوه هیواد لومړیتوبونه بیل بیل وي نو ضروري نده چې هر خبر لومړی کرښه دې په هر هیواد په زړه پورې وي ،بلکې پیلامه دهرې ژبې لپاره یو بیل ارزښت او معیار لري.

خبرعموما چې دسرلیک او شالید په ګډون څلور برخې لري ،باید ووایو چې داهغه خبر دی چې چاپې رسنۍ یې خپروي ځکه بریښنایې رسنۍ سرلیکونه نلري ،هلته دسرتکي مهم دي اوهغه پیلامه یا لیډ کې تر سره کیږي ،نوویلای شو چې دبریښنایې رسنیو خبریوازې دوه یا درې برخې لري او سرلیک لیکل ورته ضرورندي. دژورنلیزم دفن ځینې پوهان دبریښنایې رسنیولیډ یا پیلامې ددې ډول خبرونو سرلیک بولې خونور بیا داسې وایې ،څنګه چې مو مخکې وویل چې داد (Introduction)څخه مخفف دی اودا دپیژندنې په معنی راځي ،هره خبري پیلامه اړونده خبري کیسه ،خبر یا پیښه لوستونکیوته ورپیژني.

دپیلامې په اړه ګڼ تعریفونه شوي چې څو یې پدې ډول دي:

(۱)دخبر لومړی جملې یا څولومړیو جملوته یې دخبر پیلامه وایې -(۲)لوستونکي په ناڅاپي ډول لاندې کول اولوستوته یې پام اړول راړول دخبر دپیلامې دنده ده -(۳)پیلامه دخبردهغې برخې یا برخو لنډیزدی یعنې دخبردپیلامې په اوریدویا لوستواوریدونکی یا لوستونکی پوهیږي چې خبر دڅه په اړه دی ؟

پیلامه دخبر ډیره مهمه برخه ده،اودهرخبر دبري رازتر ډیره په پیلامه کې نغښتی دی ،څومره چې دیوه خبر پیلامه یا پیل ارزښتناک وي په هماغه اندازه یې اوریدونکي ګوري او اوري ،دجګړوپه اړه راپورورکونکی خبریال پیلامه دخبروسله ګڼې اودهغوئ په آند که خبریال په هماغه لومړي سرکې په لوستونکې ددې وسلې ګوزارونکړي نوداسې وګڼئ چې جګړه یې بیللې ده.

دخبرپیلیزه کې دخبرلیکلوکومه فارمولا یا کوټلې لاره نشته ،چې په مټ یې ټول خبریالان یوه پایله ترلاسه کړي بلکې له ګڼولارو کولای شوچې پیلزه ولیکو. همداسې دلیډ یا دخبردپیلامې اندازې په باب ژورنالستان ټول یوه خوله ندي ،ځینې وایې چې لیډ دې یوه جمله، ځینې دوه اونور یې دري جملې ضروربولې ،ځینو یې بیاد (۳۰)څخه تر(۲۰)توروپورې دحروفوپه حساب دلیډ اندازه تاکلې ،خوعام پوهان دخبر پیلامې لپاره کومه کوټلې اندازه ضرورنه بولې، بلکې دخبر

دارزښت او لوی والي په پرتله يې ليکل اړين بولي اوبس.

په عموي توګه دخبر دليدڼ لپاره دالاندينې اصول په پام کې نيول پکار دي:۱-ليدڼ يا پيلامه دخبر دډول له مخې ليکل پکار دي ،۲-لومړی کوښې داسې ليکل کيږي چې لوستونکيو ته خبر په زړه پورې شي ،داسې نه چې دلومړيو کرښو په لوستلو زړه توری شي ،۳-څومره چې شونې وي دخبر بيلامه دې لنډه وي ،۴-په پيلامه کې دخبر د(پايلې)دراوړلو هڅه کيږي ،۵-مدير خپله ټوله پوهه کاروي اودپيلامې دښه والي هڅه کوي ،۲-دپيلامې په پيل کې دخبر دښه والي مزاج په نظر کې نيول کيږي ،پداسې شکل چې کيرته داخبر دکوم چا دمرينې دپيښې يا بل کوم زيان په اړه وي ،نوپيلامې کې هم افسوسناک اوغمجن کلمات راوړل کيږي ،چې دې کې بيا دخواخوږۍ دلهجې خپلول پکار وي ،دارنګه که کوم خبر کې دټوکو اوخندا اړخونه وي ،نو پيلامه کې يې هم دخندا وړ کلمات راوړل کيږي ،که خبر معياري وي نو معياري کلمات راوړل کيږي اوخبريال بايد دخبر دليکلو پروخت دخبر خصلت(طبيعت)اعتدال(جذبه)اوټوليز مزاج ته ځانګړی پام وکړي.

دانسان دلچسپي دخبرونو دليکلو پرمهال د(پيلامي)رنګينې ته پام اړولو اوپه زړه پورې والي ته زياته وي ،دژوندۍ پيلامې کرښې دغسې خبرونو ته ښکلا ورکوي ،دتوضيحي پيلامې دليکلو پروخت دچا احساسات يا جذبات ژوبلول نوې پکار ،ځکه خبر يا ورځپاڼه دټولنې عکاسه اونبض نيونکې ده. په مکرره وړاندیز دادی چې دخبر پيلامه بايد دومره په زړه پورې وي ،چې لوستونکی دټول خبر لوستلو ته اړکړي اوترپايه يې له ځانه سره وساتي.

دخبر دليدڼ يا پيلامې دليکلو بيلابيلې لارې: دخبرپيلامه ليکل يوپنځونه ده اوترډيره ځايه دتقليد پرځای پر توليد ډډه وهي ،دیوه خبر پيلزه په شلو ديرشو لارو ليکل کيدای شي ،خوداهر څه دژورنالست له دلچسپۍ سره اړه لري اوعلاقه يې پکې مرکزي رول لري ،ښاغلي (ايس ايم شاهد)يې ليکلارې يا ډولونه په لاندې ډول بيان کړي دي:

دخبر دليدڼ يا پيلزې ډولونه:

(۱)**دلومړيو کرښو لنډيز**:هغه دی چې دلومړيو کرښو داړوند خبر حال د(لنډيز) په ډول راوړې ،يعنې په سرسري ډول دخبر پايله بيانيږي ،چې په ږښتينې ډول لنډ وي.

(۲)-**تمثيلي پيلامه**:هغه پيلامه ده چې پکې رنګين عبارتونه وکارول شي، اودخبر دجوړښت دمجازي يا اصطلاحي جوړولو هڅه کوي ،پداسې پيلامو کې ادبي وړتيا ډيره روښانه وي ،رنګيني پيلامې دليکنې لپاره دتخيل او ادبي وړتيا اړتيا شته ،ډرامايي انداز

ښه او محتاط استعمال اړين دی.

(۳)**نادره پيلامه** : هغه ده چې پکې روښانه ځانګړنه وي او دنوي طرزاوندرت عناصرپکې زيات وي لوستونکی ددغسې نا اشنا والې نه ډير خوند اخلي.

(۴)-**په نقل قول ولاړه پيلامه** :دغه ډول پيلامې عموما دهمدغو کسانو په ويناووا وخبرو پيليږي لکه: دبريتانيې دسفارت مخې ته ننني چاودنه ددطالبانو له لورې وشوه .طالبان کوښښ کوي چې تل داسې ديپلوماتيک ځايونه په نښه کړي....داخبره داسلامي امارت ويانداذبيح الله مجاهددخبريالانويوې غونډې ته دکنفرانس پرمهال وکړه.....

(۵)-**پوښتونکې پيلامه** :داډول پيلامه عموما لکه له نامه چې يې ښکارې په يوې پوښتنې پيليږي .لکه:دولسي وګړودشهادت لړی به ترڅو روانه وي ؟يا ددې نا امنيو پړه دچا په غاړه ده؟.

(۶)-**مکاني پيلامه** :داهغه ده چې پيلامه يې دخبرو په بنه وي ،يعنې ديوچادخبرومهمه برخه دپيلاموپه کرښو کې استعمال شي.

(۷)-**شاليدلرونکې پيلامه** :عموما دغه ډول پيلامې ديوې پيښې په مخښه يا شاليد پيليږي ، لکه دروغتيا وزيردرې کاله مخکې دروغتونو دحالت دښه کيدوموضوع دخپل کارد لومړيتوبونوپه توګه په ګوته کړي وه ،خولاهم ډيرى ناروغان دروغتونولدې اوسنى حالت اود ځښاک داوبواو درملو دنه شتون نه سرټکوي.....

(۸)-**پرتليزه پيلامه** :پدې پيلامه کې دپرتلنې له لارې شته توپيرونه په ګوته کيږي،لکه: کرزى ديوې خوا طالبانوته دسولې بلنه ورکوي او دبلې خوادطالبانوپه خلاف دجنګ نوې جبهې خلاصوي.

(۹)**نابيره ليدې**:داهغه ليدې دى چې په نابيره اوغير عادي پيښولیکل شوى وي ،لکه يوې وړې مرغۍ ديوې بوينګ الوتکې الوتنه له ځنډ سره مخ کړه.

(۱۰)-**بياني پيليزه** : داهغه ده چې دفطرت يا پيښود منظرو بيانولوهڅه پکې شوي وي

(۱۱)- **کارتوسي پيلامه** :داهغه ده چې دخبر لومړۍ کرښه په دري، ځلوريازيات نه زيات پنځو کلمو بيان شوى وي ،مګرهغه څو کلمې ډيرې اغيزمنې وي.

(۱۲)-**غير مسلسل پيلامه** : داهغه ده چې په هغې کې له غير ضروري ځنډنه پرته ديوه خبر دبيانولوهڅه کيږي ،پدې ډول پيلاموکې لنډې کلمې کارول کيږي، لکه دبريښنا قوي وړانګه ،په لوړغږ ويديل ،ديوالونه پرله پسې ډول رالويږي ،دمرګونوبازارتود شوى ،يعنې دکومې ناڅاپې پيښې ،زلزلې يا سيلاب...دکيفيت دښه کيدولپاره دڅوحيرانوونکيو کلمو په پيلولوخبر شروع شي . نوربيا.....

د شهید مولوي عبدالسلام ژوند ته لنډه کتنه

عبدالرؤف حکمت

دطالبانو داسلامي تحریک دبریالیتوب ، استقامت او ثبات یو راز دا بلل کیږي ، چې دا تحریک دمعاصر پُرفتن دوران له منځه دالله تعالی دهغو ترټولو صالحو او نیکو بندګانو څخه جوړ تحریک دی چې په اوس وخت کې یې خورا لږ مثالونه موندل کیدای شي ، دا تحریک چې لویه برخه یې ددیني مدارسو طالب العلمان او دیني علماء دي ، له همدې څخه څرګندیږي چې په دې تحریک کې دمعاصر دور ترټولو متدین ، پاک نفسه او سپیڅلي خلک راجمع شوي دي ، ددیني علومو دطالبانو په اړه سترمجتهد امام مالک رحمه الله فرمایي (که چیرې دقرآن او احادیثو دطالبانو په منځ کې هم اولیاء الله نه وي ، نو معنی یې داده چې دځمکې په مخ اولیاء الله شتون نلري)

دطالبانو په اسلامي تحریک کې ډیر داسې ګمنام اشخاص تیر شوي او لا اوس هم شته ، چې اعمالو ته یې په پام سره بې له شکه داولیاء الله حکم وربانديې کیدلای شي ، هغه دخدای تعالی دوستان چې ورځ په جهاد او دالهي دین په بي ریا او بې عوضه خدمت تیروي او دشپې دخدای تعالی حضور ته په سجده پراته وي ، که له یوې خوا دعلم ، تقوی ، دیانت او اخلاص بیلګې وي له بله اړخه دایثار ، شجاعت او جرأت مثالونه وي ، دالله تعالې دلارې دداسې صالحو لارویانو له جملې یو هم شهید مولوي عبدالسلام وو چې الله تعالی ورته د سیرت او صورت ښکلاوې په یورنګ ورکړې وي ، راځئ څو شیبې ددې شهید له ژوند او کردار سره پاته شو .

پیدایښت او دژوند لومړني مراحل

مولوي عبدالسلام اخندزاده دملامحمد صادق اخند زوی دمرحوم مولوي صالح محمد لمسی په قوم پښتون - بارکزی په۱۳۴۲دسرطان پر۱۵ دکندهار ولایت دنښ ولسوالی په شویز کلي کې په یوه دینداره او علم دوسته کورنۍ کې زیږیدلی دی.

لومړنۍ زده کړې یې په خپل کور کې ترسره کړي دي ، او دابتدائي زده کړو په شمول یې ډیرې زده کړې له خپل پلار او ترونو مولوي عبدالخالق اخندزاده صاحب او مولوي عبداللطیف اخندزاده صاحب څخه ترسره کړي دي.

ددوی کورنۍ له ډیره وخته دعلم او دینداری کور پاته شوی او تر ۷ پیړیو یې نیکونه علماء پاته شوي دي ، مولوي عبدالسلام لا دنوي ځوانۍ په مرحله کې وو چې روسي یرغلګرو په افغانستان برید وکړ ، او دعمومي هجرت په مهال ددوی کورنۍ له خپل اصلي ټاټوبي څخه دپاکستان سرحدي ښار چمن ته کډه شول ، دلته مولوي عبدالسلام صاحب خپلې زده کړې په نورالمدارس فاوقیه مدرسه کې پیل کړې او خپل ډیرې دیني زده کړې یې همدلته ترسره کړې ، نومورې دحدیثو دوره په چمن کې د شیخ الحدیث مولوي محمد علي صاحب په مدرسه کې ترسره کړه او همدلته یې دحدیثو سند ترلاسه کړ.

دروس ضد جهاد کې شرکت

مولوي عبدالسلام ځوان وو چې په افغانستان کې د کمونیزم په خلاف جهاد پیل شو ، نومورې چې له جهاد سره بې کچې مینه درلوده ددیني تعلیم سره سره یې په جهاد کې هم شرکت کاوو ، نومورې له پیله تر پایه په کندهار کې دحاجی ملاشیرین اخند په مشرۍ دطالبانو په لویه جبهه کې وه ، دا جبهه چې دکندهار ښار په شاوخوا سیمو لکه محله جات ، ارغنداب او ډنډ ولسوالیو کې یې فعالیت درلود ، مولوي عبدالسلام هم په کې دیوه مجاهد په صفت دنده اجراء کوله ، دډاکټر نجیب دحکومت په وروستیو کلونو کې نومورې د کندهار ـ کابل په لویه لاره د جبار او دوستم ملیشو په ضد جګړو کې هم شرکت درلود ، مولوي عبدالسلام له دیني زده کړو سره په څنګ کې ترهغه مهال جهاد ته ادامه ورکړه ترڅو کمونیستي واکمني نسکوره شوه.

د هرج و مرج په دور کې

د تنظیمي خپل منځي جګړو او ګډوډۍ په دور کې مولوي عبدالسلام صاحب چې دغه مهال فارغ عالم وو ، د کندهار ښار ته نږدې د دامان ولسوالۍ په خوشاب سیمه کې یې یوه مدرسه جوړه کړه ، او د دیني علومو تدریس یې پیل کړ ، دغه مهال نوموړي لسګونو مشرانو طالبانو ته دیني کتابونه تدریسول ، په دې سربیره څرنګه چې دغه مهال افغانستان د نورو برخو غوندې په کندهار کې عامه فساد او هرج ومرج پیل شوی ، خپلسرو قومندانانو خلک ځورول ، له خلکو یې پیسې اخیستې او یوه ستر اجتماعي فساد ته یې لاره هواره کړې وه ، مولوي صاحب د خپلې سیمې خوشاب په سطحه د منکراتو د مخنیوي لپاره هڅې پیل کړې ، او په دې لړ کې یې په خپله سیمه کې څو ځله سرکشو او بدکاره خلکو ته د ناروا اعمالو له املې سزاګانې هم ورکړې ، او د خپل توان په اندازه یې د خپلې سیمې په سطحه د بنکاره منکراتو مخه ونیوله ، مولوي صاحب د طالبانو د اتحاد او نظم لپاره هم هڅې پیل کړې او له ډیرو مشرانو او دیني علماء کرامو سره یې لیدنې کتنې ترسره کړې ، په همدې مهال د کندهار د ژړې د سنګ حصار په سیمه کې د ملا محمد عمر مجاهد په مشرۍ د طالبانو تحریک پیل شو ، چې د پیل په ابتدایي شیبو کې مولوي عبدالسلام صاحب له خپلو ۷۰ تنه طالبانو سره له نوموړي تحریک سره مل شو .

د طالبانو په اسلامي تحریک کې خدمات

د اسلامي تحریک د پیل په ابتدائي شیبو کې کله چې طالبانو د میوند په ولسوالۍ ولکه ټینګه کړه ، نو د مشرتابه لخوا مولوي عبدالکریم د میوند د ولسوال په حیث مقرر شو چې مولوي عبدالسلام صاحب یې د مرستیال په حیث دنده اجراء کوله .

تر دې وروسته نوموړي په نورو عملیاتو کې هم برخه درلوده ، تر څو چې کندهار ولایت په بشپړ ډول د طالبانو لخوا ونیول شو ، کندهار له فتحې وروسته مولوي عبدالسلام لومړی د کندهار د هوایي ډګر د مسؤل په حیث وتاکل شو او وروسته د کندهار د امنیه قومندان په حیث مقرر شو .

د غه مهال د کندهار امنیه قومندانۍ د ټولو جهادي تشکیلاتو مرکز بلل کیده او له وظیفوي اړخه یو مهم مقام وو له همدې املې خو د اسلامی تحریک مشر ملا محمد عمر مجاهد مولوي عبدالسلام صاحب چې د نوموړي خورا زیات اعتماد ورباندې وو او خورا

نږدې تعلقات او تعارف يې ورسره درلود دکندهار دامنيه قومندان په حيث وټاکه.

دغه مهال مولوي عبدالسلام صاحب دکندهار دامنيه قومندانۍ له رسمي وظائفو سربيره دامير المؤمنين ملامحمد عمر مجاهد ديوه نږدې مشاور او همکار په حيث هم دنده ترسره کوله ، نوموړی جيد عالم ، بادرکه مجاهد ، مدبر مشر او تروروستی کچې متقي او خدای ته تسليم انسان وو ، د ملامحمد عمر مجاهد لپاره يې د امين مشاور حيثيت درلود ، دنوموړي ملګري وايي چې په دې مهال له مولوي عبدالسلام صاحب سره دملامحمد عمر مجاهد دومره هميشني تعلقات اور اشه درشه وه چې اکثره وخت به چې ملاصاحب په خپل دفتر کې نه وو ، نو ملګرو به يې دمولوي عبدالسلام صاحب په ځای کې پوښتنه کوله او ډير وخت همالته پيدا کيده.

ملامحمدعمر مجاهد نوموړی دتيرجهاد له وخت څخه پيژاند ، دنوموړي د علم ، ديانت ، تقوا او اجتماعي درک په اړه يې له نږدې معلومات درلودل ، نوځکه يې دشهيد مولوي صاحب منزلت پيژاند او په قدر ورته قائل وو.

دمولوی عبدلسلام صاحب شهادت

په ۱۳۷۴ هـ ش کال کې کله چې دهيواد په لويديځ کې دهرات واکمن تورن اسمعيل خان لومړی په ګرشک برید وکړ او وروسته داسلامي تحريک مجاهدينو شکست ورکړ ، او دفراه ولايت ته يې په شا کړ ، دجګړو په همدې لړۍ کې په لويديځ کې دطالبان عمومي نظامي قومندان ملامحمد اخند زخمي شو ، په دې مهال مولوي عبدالسلام په خپله له يوشمير مجاهدينو سره د جګړې لومړني خط ته لاړ ، چې په همدې جهادي سفر کې نوموړی دفراه ولايت د آب خرما په سيمه دخوست په دره کې له دښمن سره په جنګ کې په شهادت ورسيد.

دشخصيت په اړه يې

شهيد مولوي عبدالسلام صاحب داسلامي امارت په سطحه يو له هغو کسانو څخه وو چې په بې ساري علمي استعداد او تقوی يې شهرت درلود ، نوموړي ته الله تعالی په علمي استعداد او سياسي درايت سربيره خورا متشرع شخصيت هم ورکړی وو ، دنوموړي ملګري او متعلقين اوس دده د تواضع ، خوش اخلاقۍ او حسن تعامل يادونه کوي ، همدا وجه وه چې نوموړی يې په ډير کشر عمر کې د ډيرو زړونو محبوب ګرځولی وو

، او دخپلې سیمې په سطحه یې بیساری محبوبیت او نفوذ درلود .

دنومورې تره مولوي عبداللطیف اخندزاده صاحب چې مولوي عبدالسلام یې له کوچنیوالي شاګرد پاته شوی وایي ، چې مولوي صاحب دتقوا او دیانت له اړخه یوبې جوړې سړی وو .نومورې وایي دمولوي صاحب دری صفات خورا ښکاره وو هغه داچې نهایي تقوا دار وو ، شجاعت یې درلود او الله تعالی خورا ښه علم ورکړی وو .

دشهید مولوي صاحب ددیانت او قرب الی الله اثار دنومورې له شهدت نه وروسته هم ولیدل شول ، هغه داچې کله دنومورې جسد دجنګ له میدان څخه هدیرې ته راوړل شو ، نو د دفن په مهال یې دنومورې اغوستی کوټ تر یې ایسته کړ، مګر ددې کوټ داسې خوشبویي پورته کیدله چې د جنازې ټولو خلکو احساس کړه له همدې امله خو دنومورې همدا کوټ جنازې ته حاضرو خلکو ترخپل منځ توته توته کړ او له ځانو سره یې یو وړ، چې دهرې برخې یې خوشبویي پورته کیدله.

دشهید مولوي عبدالسلام پلار ملا محمدصادق اخندزاده وایي چې دنومورې له شهادت څخه ۹ کاله وروسته یو وخت دده قبر ته ورغلم ، ګورم چې قبر یې لویدلی دی ، نو مې یو سهار وختي له ځان سره اراده وکړه ، چې دخلکو له راتګ وړاندې یې قبر جوړ کړم په همدې نیت مې قبر راوسپړه ، خو په دې وخت کې دمولوي صاحب جسد رالوڅ شو ، نومورې وایي چې دغه مهال یې ولیدل چې دمولوي صاحب جسد له ۹ کاله تیریدو وروسته هم نه دی خاورې شوی او داسې سالم پروت دی لکه په همدې شیبه چې دفن شوی وي.

دملا سیف الله اخند په نوم یو طالب چې له مولوي عبدالسلام سره یې ۱۵ کاله ملګرتیا کړې وایي ، چې نه یې یادیږي چې مولوي صاحب دې دجماعت لمونځ قضاء کړی وي ، بلکې په هرډول حالاتو کې دجماعت دلمانځه سخت پابند وو ، نومورې په ښه علم سربیره خورا ښه قرئت او حسن صوت هم درلود ، او په ډیر زړه وړونکي ترنم به یې اذان کاوو .

دغه دالله تعالی صالح بنده په داسې مهال په شهادت ورسید چې لا یې دځوانۍ عمر پای ته نه وو رسولی ، له نومورې څخه یوازې یوه لور پاته ده .

انا لله وانا الیه راجعون

د سیاسي بندیانو ډله ییزه وژنه

میوند سادات

دوروستیو راپورونو او دسیمه ییزو خلکو دوینا له مخي په روانه میاشت کي دکندهار ولایت په ارغستان، بولدک او تخته پول ولسوالیو کي دوه دیرش (۳۲) تنه طالب اسیران ددغه ولایت دامنیه قوماندانۍ مربوط او سرحدي پولیسو له خوا په ډله ییزه توګه وژل شوي دي.

دعیني شاهدانو په وینا چي: شپږتنه بندیان دارغستان په بالاژړه کي، او وه کسه شین نري کي او پنځه تنه توره ګاره کي، اته تنه دتخته پول بوزوڅوکۍ کي او شپږتنه اسیران دبولدک ولسوالۍ په ولسوالۍ په قرارګاکي دامنیه قوماندان (رازق) په شخصي زندان کي شهیدان شوي دي.

وژل شوي کسان لومړی په شخصي محبسونو کي شکنجه شوي او بیاله بند خونو څخه ایستل شوي په ډله ییزه توګه په بیلا بیلو ځایونو کي په شهادت رسول شوي دي.

سیمه ییز خلک وایي چي: داسیرانو په یادو شوو ډله ییزو وژنو کي دکندهار برحاله امنیه قوماندان (رازق) لاس لري. رازق تردې مخکي هم عام خلګ او طالبان ترنیولو وروسته وژلي او جسدونه یې په لیرو ځایونو کي غورځولي چي وارثان یې په میاشتو میاشتو له مرګ او ژوند څخه ناخبره وي.

رازق دکندهار ښار او بولدک ولسوالۍ په شخصي زندانونو کي، طالبان او دویش په مشهور بازار او منډیې کي هغه تجاران چي نوموړی (قوماندان) ته ټاکل شوی باج نه ورکوي په دغو زندانونو کي ساتي، هغه کسان بیا بیرته خوشي کوي چي ډیري پیسې ورکړي او دبیالپاره ټینګه ژمنه وکړي چي پرټاکل شوي وخت به معلوم رقم باج قوماندان ته ورکوي.

دسیمه ییزو خلګو څخه مي اوریدلي چي دقوماندان رازق په شخصي محبس کي په وارو اربندیانو ترشکنجو لاندي ساه ورکړې، حتی څوکیسې خومي داسي اوریدلي چي قوماندان رازق په مستقیمه لارښوونه او خپلو لاسونو دځینو بندیانو څخه لاسونه او پښې پرې کړي او په همدې ډول یې اسیران له ژونده بې برخي کړي دي.

دغه قوماندان دمخکو په غصب ،دمخدره موادو او وسلو په قاچاق ،اداري فساد او دملي تجارانو په تهديد او وژنه هم تورن دی.

دعامو خلګو سره زورزياتی او د سياسي اسيرانو انفرادي او ډله ييزي وژنې کې ظاهراً قوماندان رازق له لوري ترسره کيږي ،خو واقعيت دادی چې د کندهار ټول چارواکي په دغه وژنو او جنايتونو کې شريک دي ،ځکه دالومړی ځل نه دی چې بنديان وژل کيږي او يا د ولسي خلګو سره ندوړه چلند کيږي په ځلونو ورته پښې د دغه ولايت په مختلفو ولسوالیو کې ترسره شوي دي ،په ځينو سيمو کې يې په غبرګون کې خلګو لاريونونه هم کړي خونه يوازي داچې ګټه يې نه ده کړې بلکې همدا خلګ د طالبانو د پلوی په شک لانور ځورل شوي ،نيول شوي او شهيدان شوي دي. بهلګه يې تېره مياشت ميوند ولسوالی کې د مظاهره کونکو وژنه اونيونه ده !چې ديرغلګرو او داخلي عسکرو دهغه کرغيړن عمل چې د چاپې پرمهال يې يوه افغانه ميرمن وهلې او پنځه تنه ولسي وګړي يې بې پلمې بنديان کړي وو مظاهره وکړه.

د کندهار ځخه وروستي راپورونه ښيئ چې د دغه ولايت په مختلفو ولسوالیو کې د اربکيانو ،خادیانو او سرحدي عسکرو له خوا د علمیاتو پرمهال د ولسي خلګو سره خوراسخت چلند کيږي ،په دغه ولايت کې د کابل اداري دبيلابيلو ارګ نونو موظفو عسکرله لوري د ولسي خلګو د نيولو ،وهلو او وژلو وحشيانه لړی روانه ده . د کابل د منفورو رژيم په ملکي او پوځي ارګانونو کې تبعيض ،تعصب ،ډلبازي ،فساد او جاسوسي حاکمه ده ،ملي او بشري ارزښتونه ،سياسي اخلاق ،نيوا او د ملي ګټو به نوم څه نه پکې پيژندل کيږي .

د اسيرانو په تېره د سياسي بنديانو وژنه د بشري ،مدني او جنګي قوانينو څخه د اسي بنکاره بغاوت دی ، چې په هيڅ ډول نشي توجيه کيدلای. د ډيموکراسي عسکرچې د نړۍ په هره لويه او وړه پيښه کې د حقونو او قوانينو ناري وهي دلته په مستقيمه او غيرمستقيمه توګه د اسي وحشي کړنو کې بنکېل دي او يا يې ترپوزي لاندي ترسره کيږي، چې په نوروهيوادونو کې همدا ډول وحشت د خان لپاره د پوځي مداخلې اويرغل مجوز ګڼي .

خو په افغانستان کې بياهرڅه برعکس دي ، په پته او بنکاره په انفرادي او ډله ييزه توګه سياسي اسيران وژل کيږي ،په زندانونو کې د سياسي بنديانو شکنجه کول او په کلونو کلونو بې محاکمې په بند کې ساتل عادي دود ګرځيدلی دی او....

سید سعید

جنګي جنایتونه

(جـــــــــون)

دروان (۲۰۱۳ز.) کـــال دجـــون دمیاشـــتي پرلـــومړۍ نیټـــه اشـــغالګروځواکونو دشپنیو عملیاتو په لړکي دارزګان ولایت دچنارتوولسوالۍ په لنګرسیمه کي دچاپې پرمهال یوملکي وګړی شهید کړی دی.

دجـــون پـــر۴مـــه دمیـــدان وردګ ولایـــت کـــي پـــه سلهاووولســـي وګړودامریکـــایي یرغلګروپرضد لاریون کي دکاب ل- کندهارلاردترافیکوپرمخ وترله ،خلګووورسته له هغه په مظاهره لاس پـوري کړچي پـه نرخ ولسـوالۍ کـي یـې دیرغلګرودادې څخه ۸۰۰متره لیـري دهغـواووه لسـوتنوملکي هیوادوالـه جملې چي دغوځواکونونیـولي وودروژونـدي پاتـه کسانومړي هم ومونډل .

لاریـون کونکودولسـي وګرودوژنکوامریکـایي عسکرودورسـپارلویامحکمې غوښـتنه کوله ،خلګوخپلي سوله ییزي غوښتني تکرارولې چي ناڅاپـه دافغـان اردوپـه ډزوکي دوه تنـه مظاهره کونکي شهیدان اودري ژوبل شول چي له املـه یې مظاهره په تـوتریخوالي واوښته.

دمیـدان وردګـودوالي ویانـد عطاءالله خوږیـاني ددغودروکسـانودوژني دتائیـدترڅنګ ویلي چي خلګوپه دې وروسـتیوکي دلتـه دشپږونوروولسي کسانومړي چي نیـوواکګرومخکي بندیان کړي ووهم پیداکړي دي.

ویل کیږي چي دنرخ په ځینوسیموکي خلګو په هغوځایونوکي چي یرغلګرځه وخت پکي میشـت شـوي اواوسـیدلي ، دخپلوورکوشـوواوزنداني شـووعزیزانو دجسـدونودمونديې پـه

موخه کینډني پیل کړي دي ،ددې اوه لسو کسانو د جسدونو د موندني څخه وروسته هغه کورنۍ چې غړي اوخپل خپلوان یې یرغلګرونیولي ډیرناقراره شوي دي ځکه دوی هم فکرکوي چې خدای مکړه دکورنۍ زنداني شوي غړي به یې دلته یاهلته وژل شوي وي اوبیاترخاورلاندي شوي وي.

دجون پر۴مه دهرات ولایت د شینډنډ ولسوالۍ دشوزکي په سیمه کې داخلي عسکرویو سپین ږیری هیوادوال شهید کړی دی.

دجون پر۵مه یرغلګروځواکونو دشپنیو عملیاتو په لړکې داروزګان ولایت د چهارچینو ولسوالۍ دخودپه سیمه کې دچاپې په مهال ددوسپین ږیروپه شمول پنځه تنه ولسي هیوادوال شهیدان کړي دي .

دجون پر۷مه رسنیو دکونړ والي وحیدي له قوله خبرورکړچې:ددغه ولایت په مانوګي ولسوالۍ کې دیرغلګروپه هوایې بریدکي ولسي وګړوته مرګ ژوبله اوښتې ده ،په دغه بریدکې درې تنه دیوې نجلۍ په ګډون شهیدان شوي اوشپږتنه چې دوې میرمني پکې دي ژوبل شوي دي ،دوالي (وحیدي) له قوله داهم ویل شوي چې په دغه سیمه کې دبریدپه مهال مخالفین موجودنه ووا و ټول زیان ولسي وګړوته رسیدلی دی.

دجون پر۸مه اشغالګروعسکرودبلخ ولایت د شولګرې ولسوالۍ په جرسید سیمه کې چاپه وهلې ،دخلګوکورونه یې تلاشي کړي یوملکي وګړی شهید کړی اویوبل تن یې بندي کړی دی. دسیمه ییزوخلګوپه ویناچې یرغلګروځواکونو دتلاشۍ پرمهال مالي زیان هم ورته اړولی دی.

دجون پر۸مه اشغالګرود ننګرهارولایت د چپرهارولسوالۍ په کنډې باغ کلي کې درې تنه ولسي وګړي بندیان کړي دي.

دجون پر۹مه د بدخشان ولایت پدوردوج ولسوالۍ په غچ ن سیمه کې دنیواکګروپه بمبارکي دوه ماشومان شهیدان شوي اوولسي خلګوته زیات مالي زیان اوښتی دی ،دبدخشان ولایتي چارواکوهم په دغه سیمه کې دکوچنیانووژنه تائیدکړې ده.

دجون پر۱۰مه د فراه ولایت څخه په ترلاسه شووخبرونوکي ویل شوي چې:ددغه ولایت دبالابلوک ولسوالۍ اړوند دګراني په سیمه کې دداخلي عسکرودډزوله املهدوه تنه ولسي

وګړي (يونارينه اويوه ميرمن)ژوبل شوي دي.

دجون پر۱۲مه دنيواکګروځواکونو بمبارلـه املـه دميـدان وردګ ولايـت دسـيدا باد ولسوالي په پټان خپلوکلي کي ځلورتنه ولسي هيوادوال شهيدان شوي اويودښونځي زده کونکی ژوبل شوی دی .

دجون پر۱۵مه د فراه ولايت دفراه بنار اړوند دشمالګاه په سيمه کي داخلي استخباراتي کارکونکويو۲۵کلن سپين ږيری (جلات خان)اودکلي ملاامام بنديان کړي دي.

دجون پر۱۵مه يرغلګروځواکونود ميدان وردګ ولايت دسيدا باد ولسوالي په پټان خپل کلي دحاجي ببرک پرکورچاپه وهلي ،مـالي زيـان يې ورتـه اړولی اوپـه اخرکي يې دنوموړي حاجي صاحب دکورنی درې تنه غړي چې دخالدبن وليدد لهسې زده کونکي ووبنديان کړي دي

دجون پر۱۵مه دبدخشـان ولايت ځخه پـه ورکړل شوورا پورونوکي ويـل شـوي چي:ددغـه ولايـت د وردوج ولسـوالي پـه ځينوسـيموکي داخلـي عسـکروخلګ لـه خپلوکورنوځخـه پـه زورايستلي اودطالبانوپه مقابل کي يې مورچلونه پکي نيولي دي.

دجون پر۱۷مه اشغالګرود ميدان وردګ ولايت دنرخ ولسوالي په چين زايوسيمي کي چاپه وهلي ،دتلاشي پرمهال يې خلګوته مالي تاوان رسولی اوبيايې درې تنه عام کليوال له ځان سره دبنديانوپه توګه وړي دي.

دجـون پـر۱۷مـه داروزګـان ولايـت مرکزترينکـوټ اړونـد دخورماپـه سـيمه کـي نيواکګرود چاپې په ترخ کي يوتن ولسي هيوادوال شهيدکړی اوځلورتنه ملکي وګړي يې بنديان کړي دي.

دجـون پـر۱۷مـه د فـراه ولايـت دبـالابلوک ولسـوالي دګرانـي پـه سـيمه کـي دداخلـي عسکرودهاوان په ګولي يوه ښځه اوماشومه يې شهيده اويوه نجلي ژوبله شوې ده.

دجون پر۱۹مه دلوګرولايت د برکي برک ولسوالي په توکل کلاسيمه کي ديرغلګرودبې پيلوټه الوتکي پـه بريدکي درې تنـه ولسـي وګړي چي پلي روان ووشـهيدان شـوي دي ،سـيمه ييزوخلګورسنيوتـه ويلي چي په يادشوي بريدکي وژل شوي کسـان درې واړه عام کليوال وو.

دجون پر۲۱مه دهلمندولايت د ګرشک ولسوالي په حيدرابادسيمه کي يرغلګرو دچاپې

پر مهال دیوا تیاکلن سپین ږیري په شمول پنځه تنه ولسي وګړي ښندیان کړي دي.

دجون پر۲۲مه د نیمروزولایت ددلارام ولسوالي په بازارکي دداخلي پوځیانوپه ډزووروسته له هغه چي موټرېي دماین ښکارشویوه ښځه اویوسړی په شهادت ورسیدل.

دجون پر۲۲مه د ننګرهار یو تن قومي مشر امان خیري رسینوته وویل چي اربکیانویې دکورنۍ یوغړی بې موجبه وژلی دی ،نوموړي وویل چي اربکیانوته ترټولو هغه بداخلاقه کسان چي په غلاوو ،تښتونواوژنوکي لاس لري جذب شوي دي ،ده والي ګل اغا شیرزی دهمداسي کسنوپه ګومارنه دقومنوترمنځ په تړبګنۍ اوبې اتفاقۍ تورن کړ.

دجون پر۲۵مه د میدان وردګ ولایت د نرخ ولسوالي په شهاب الدین سیمه کي یرغلګرودچاپې پرمهال درې تنه ولسي وګړي داسیرانوپه توګه له ځان سره وړي دي.

دجون پر۲۹مه یرغلګروځواکونودمیدان وردګ ولایت دنرخ ولسوالي له سرکي سیمي څخه دوه تنه ولسي وګړي داسیرانوپه حیث له ځان سره وړي اویوبل تن یې بیاچي په دغه کلي کي میلمه وشهید کړی دی.

ماخذونه:

[بي بي سي راډیو ،ازادي - ،افغان اسلامي اژانس ،پژواک - ،بینواوییپانه ،لراوبر - ،روهي - ،اونن تکی اسیا

ام المومنين حضرت بي بي خديجة الكبرى

م نجم الرحمن 'فضلي'

په مکه مکرمه کې يوه کورنۍ په شرافت، ايمانداری او ربښتيا ويلو ډيره مشهوره وه، نومورې کورنۍ له بنو اسد قبيلې سره اړيکه درلوده ، چې هغه د قريشو قبيلوي پښه وه ، د همدغې کورنۍ د سرپرست نوم خويلد بن اسد وو ، د خويلد د کورودانې نوم فاطمه بنت زائده وه، له خويلد او فاطمه څخه خديجة ؓ زيږېدلې وه، الله تعالی ډير څه ورکړي وو ، څکه يې په ډير ناز پالنه کيده ، سيده خديجة ؓ د مور پلار تر سيوري لاندې د هغوی د محبت په غيږ کې را لويه شوه، سيده خديجة ؓ يوه سخي او د لوی زړه څښتنه وه ، څکه ورته د طاهره لقب ورکړی شو.

کوم وخت چې سيده خديجة ؓ پيغله شوه نو پلار يې د ودېدلو په فکر کې شو . لومړی يې خپل وراره ورقه بن نوفل ته د هغې د نکاح پيغام ورولېږه، ورقه بن نوفل يو شريف او عالم شخصيت وو ، په تورات او انجيل ډير ښه پوهيدو ، دا يو ډير ښه انتخاب وو مګر د نامعلوم علت له امله دا پيغام ونه منل شو ، له دې وروسته خويلد بن اسد د ابو هاله بن نباش تميمي انتخاب وکړ . د هغه اصلي نوم مالک وو ، له لنډو خبرو وروسته د دواړو ترمينځ عقد نکاح وشو ، له موده وروسته د سيده خديجة ؓ او مالک واده وشو ، د دواړو ژوند ډير په خوشحالي تيريده ، الله تعالي ﷻ سيده بي بي خديجة ؓ ته دوه لونې ورکړې، د يوې نوم يې هند او د بلې يې هاله کيښود ، څه موده وروسته د سيده خديجة ؓ ميړه (خاوند) مالک وفات شو ، سيده خديجة ؓ په ځوانی کې کونډه شوه، کله چې خويلد بن اسد خپله لور په

خوانی کې کونډه ولیده نو یې وغوښتل تر خو د هغې کور بیا اباد کړي، دا خل یې په عتیق بن عائذ مخزومي باندې نظر ولګید او د هغه انتخاب یې وکړ، د سیده خدیجة ﷺ او عتیق بن عائذ مخزومي ترمینځ واده وکړای شو، له دوی دواړو یوه بله انجلۍ پیدا شوه، د کومې نام چې هند کیښودل شو، د دوی دواړو ژوند ښه په خوشحالی مخ پر وړاندې روان وو، خو یوه ورځ یو ناڅاپه د عتیق بن عائذ مخزومي طبعیت خراب شو، علاج معالجه هیڅ کار ورنکړ، بالاخر عتیق بن عائذ مخزومي هم وفات شو او د سیده خدیجة ﷺ کور یو ځل بیا وران او د غمونو بهیر پرې را مات شو.

د لور په بیا کونډوالي د پلار زړه ډیر ودردید، مګر مخکې له دې چې پلار د خپلې کونډې لور کومه چاره وکړي په دې وخت کې حرب الفجار شروع شو، دا د قریشو او هوازنیانو ترمینځ جګړه وه، خویلد بن اسد هم په دې جګړه کې ګډون درلود او په همدغه جګړه کې یې د اجل غیشی وخوړ او د تل لپاره له دې فاني نړۍ څخه رخصت شو، دا له عام الفیل څخه شل کاله وروستنی پیښه وه، دا چې سیده خدیجة الکبری ﷺ ته د میړه (خاوند) له وفات کیدو وروسته د خپل پلار سرپرستي ور پاتې وه اوس نو دغه سیوری هم د دې له سر څخه لیرې شو، د میړه او پلار له مړینې وروسته سیده خدیجة ﷺ له سختو مشکلاتو سره مخ شوه، د هغې ﷺ د امدن ذریعه تجارت وو او د دغه کار پر مخ بیول ورته خورا ګران کار وو، مګر همت یې وکړ او خپل کار وبار یې په خپله تصرف کې واخیست، زیاتره وخت به هغې ﷺ خپل مال یو چا ته ورکړ او له قافلې سره به یې ولیږه.

په مکه مکرمه کې د قریشو په یوه عزتمنده کورنۍ کې د عبد الله بن عبد المطلب یو هلک پیدا شو، له پیدایښت د مخه یې پلار عبد الله وفات شو، دغه هلک یواځې د خپلې مور په سرپرستي کې وو، د هغه نام محمد ﷺ او احمد ﷺ کیښودل شو، دا وخت دی د شپږو کلونو و، چې مور یې بي بي آمنه ناروغه شوه او له دې نړۍ یې کډې بار کړې، اوس نو نوموړی هلک د خپل نیکه په سرپرستي کې شو، د عبد المطلب عمر یو سل اته کاله وو، کله چې محمد ﷺ اته کلن شو نیکه یې هم وفات شو، له دې وروسته د هغه ﷺ تره ابو طالب د ده ﷺ سرپرست جوړ شو، ابو طلب په خپله عیالدار وو او ډیر تنګ لاسی وو، خپل یتیم وراره ته د تعلیم ورکولو پر ځای یې غوښتل تر خو زر تر زره په کوم ګټور کار اخته کړی شي، له همدې امله کوم وخت چې ده ته دا خبر ورسید چې سیده خدیجة ﷺ غواړي تر خو د خپل تجارت له سامان سره یو اعتباري کس ولیږي نو یې هغې ته د خپل وراره د لیږلو سفارش وکړ.

حضرت سیده خدیجة ﷺ نهایت ډیره عقلمنده او هوښیاره بي بي وه، هغې ﷺ د مکې مکرمې ټول خلک پیژندل، د حضرت محمد ◄ بن عبد الله په هکله یې د خلکو نظرونه اوریدلي وو چې امین او صادق دی، حضرت سیده خدیجة ﷺ د خپل کاروبار لپاره حضرت محمد ◄ غوره کړه، اتفاقي یوه قافله د شام لوري ته تلونکې وه، سیده خدیجة ﷺ خپل مال ورکړ او حضرت محمد ◄ یې له قافلې سره ملګری کړ او خپل یو غلام یې هم ورسره ولیږه، د کوم نام چې میسره وو، حضرت محمد ◄ له ښه طني صفتونو سره سره ظاهري حسن او جمال هم درلود.

حضرت محمد ◄ له قافلې سره روان شو او دومره محنت یې وکړ، چې دوه چنده ګټه یې وکړه، میسره ورسره ملګری وو او په ډیر ژور نظر یې څاره، د هغه ◄ له اخلاقو ډیر متاثره شو او په زړه کې یې د محمد ◄ د محبت او عزت جذبه پیدا شوه، له همدې امله کله چې قافله واپس بیرته مکه مکرمه ته راغله او میسره له خپلې باداري سره مخامخ شو، نو یې د سفر ټول داستان ورته بیان کړ، د حضرت محمد ◄ نیک چلند یې هم ښه ورته بیان کړ، میسره د سفر پر مهال ډیر څه ولیدل، کله چې دوی په بصره کې د یوې ونې لاندې ارام کاوه نو دلته یو راهب راغی، د کوم نام چې (نطور) وو، کوم وخت چې نطور له حضرت محمد ◄ سره مخامخ شو نو یوه پیشنګوئي یې وکړه، هغه دا چې دی تر ټولو اخیرنی پیغمبر دی، له دې پرته (میسره) د سفر پر مهال دا هم لیدلي وو چې یوې وریځې د هغه ◄ پر سر مبارک سیوری کړي وو، چې دی ◄ یې له ګرمي څخه بچ ساتلو، سیده بي بي خدیجة الکبری ﷺ چې دا صفتونه واوریدل او هم یې دوه چنده زیاته ګټه ولیدله نو په زړه او ځان د هغه ◄ تابع شوله

حضرت سیده خدیجة ﷺ دوه میرونه کړي وو، چې وروسته له دواړو کونډه شوې وه، زړه یې مات شوی وو او کلک عهد یې کړی وو چې په راتلونکي کې به له هیچا سره واده نکوي، له همدې امله کله هم چې هغې ته د ډیرو ښو او مالدارو کورنیو لخوا د رشته لپاره کوم پیغام راغلی، دې یې هیڅ پروا نده کړې او نه یې کوله، په همدې ډول وخت تیریدو تر دې چې سیده خدیجة ﷺ د څلویښتو کلونو شوه، په دې وخت کې کله چې سیده خدیجة ﷺ د محمد ◄ حالات واوریدل نو د هغه ◄ له کردار څخه دومره متاثره شوه چې په زړه کې یې له هغه ◄ سره د واده کولو سوچ پیدا شو، په دغه سلسله کې سیده خدیجة ﷺ خپله نژدې او خوا خوږې ملګرې (نفیسه بنت منیه) راوبلله او د خپل زړه ټول راز یې ورته وویل، چې وروسته یې حضرت محمد ◄ ته ور ولیږله تر څو هغه ◄ ته د سیده خدیجة ﷺ له لوري د نکاح پیغام ورسوي، نفیسه دا ذمه واري پر غاړه واخیسته او حضرت محمد ◄ ته ورغله، له خبرو کولو وروسته

حضرت محمد ﷺ هوکړه ورسره وکړه او نفیسه بیرته د سیده خدیجة ؓ لوري ته په داسې حال کې چې د حضرت محمد ﷺ رضائیت هم ورسره وو راغله، په همدې ډول د دواړو ترمینځ خبر وشوه.

د نکاح په وخت کې د حضرت محمد ﷺ او سیده خدیجة ؓ رشته داران سره یو ځای شول، د حضرت محمد ﷺ تره ابو طالب او د سیده خدیجة ؓ د تره زوی ورقه بن نوفل د نکاح خطبه وویله، حق مهر پنځه سوه درهم وټاکل شول کوم چې اداء کړی شو، د نکاح کولو په وخت کې د سیده حضرت خدیجة الکبری ؓ عمر څلویښت کاله وو او د حضرت محمد ﷺ عمر پنځه ویشت کاله وو، له واده وروسته حضرت محمد ﷺ په مستقل ډول د حضرت سیده خدیجة الکبری ؓ کور ته نقل شو او هلته یې استوګنه غوره کړه، دا وخت یې مالي حالت هم ښه شو.

د حضرت سیده خدیجة الکبری ؓ ژوند ډیر په ارام تیریده، هر وخت به د خپل میړه د خوشحالولو لپاره د هغه ﷺ په خدمت کې اخته وه، د هغه ﷺ پوره اطاعت یې کولو او په هر کار کې یې سلاح مشوره ورکوله، حضرت سیده خدیجة الکبری ؓ د خپل میړه ډیر خیال ساتلو او تل یې د هغه ﷺ حوصله افزائي کوله.

سیده حضرت خدیجة الکبری ؓ ډیر اولادونه درلودل، له ابو هاله کوم یې چې لومړنی میړه وو دوه لونې پیدا شوې وې، چې د یوې نام هند او د بلې هاله وو، له دویم میړه عتیق څخه یې یوه لور پیدا شوې وه ،د کومې نام چې هند وه او له حضرت محمد ﷺ څخه یې دوه زامن او څلور لونې پیدا شوې وې، یو زوی یې له بعثت د مخه وو د کوم نوم چې قاسم وو او بل له بعثت وروسته وو، د کوم نوم چې عبد الله وو او هم یې له حضرت محمد ﷺ څخه څلور لونې پیدا شوې وې (۱) حضرت زینب ؓ (۲) حضرت رقیه ؓ (۳) حضرت ام کلثوم ؓ (۴) حضرت فاطمة الزهری ؓ

په ازواج مطهرات کې حضرت سیده خدیجة الکبری ؓ یو شمیر ځانګړي خصوصیات لري، د بیلګې په توګه هغه د حضرت محمد ﷺ لومړنی بي بي وه، کوم وخت یې چې نکاح ورسره کوله هغه د څلویښتو کلونو وه، خو بیا هم د هغې په ژوند کې حضرت محمد ﷺ بل واده ونکړ او بل دا چې له حضرت ابراهیم ● پرته د حضرت محمد ﷺ ټول اولادونه له هغې څخه وو.

پنځلس کاله وروسته کله چې حضرت محمد ﷺ پیغمبر شو او د نبوت د فرایضو اداء کول یې غوښتل ،نو تر ټولو لومړی یې حضرت سیده خدیجة ؓ ته دا پیغام واوراوه. هغه ؓ د پیغام له

اوريدو د مخه مؤمنه وه، ځکه چې له هغې زيات بل هيڅ کس د حضرت محمد ﷺ د صدق فيصله نه وه کړې، د صحيح بخاري په باب بدء الوحی کې دا واقعه په تفصيل سره ذکر ده.

تر هغه وخت پورې چې پنځه ګوني لمونځ نه وو فرض کړی شوی، حضرت محمد ﷺ نفلي لمونځونه اداء کول، سيده بي بي خديجة الکبری رضی اللہ عنہا هم له هغه ﷺ سره په نفلو کې ګډون درلود. حضرت ابن سعد فرمايي (مکث رسول الله ﷺ وخديجة رضی اللہ عنہا يصليان سرا) حضرت محمد ﷺ او خديجة رضی اللہ عنہا تر يوه وخته پورې په پټه ډول لمونځ کاوه.

کوم وخت به چې حضرت محمد ﷺ ته د مشرکين مکه لخوا کومه صدمه او تکليف ورسيد، نو د حضرت سيده خديجة رضی اللہ عنہا خوا ته په راتلو سره به هغه ليرې کړی شول، ځکه چې سيده حضرت خديجة رضی اللہ عنہا د حضرت محمد ﷺ د خبرو تصديق کونکې وه او د مشرکينو معامله به يې د حضرت محمد ﷺ په وړاندې ډيره نا چيزه او سپکه وړاندې کوله

دری کاله وروسته کله چې د الله تعالی ﷻ له لوري حکم وکړای شو، چې خپلو نژدې خپلو خپلوانو ته د اسلام بلنه ورکړه! نو حضرت سيده خديجة رضی اللہ عنہا په خپل کور کې يوه ميلمستيا جوړه کړه، د خوراک ځنښاک انتظام د حضرت علي کرم الله وجهه پر غاړه و، دغې ميلمستيا ته د بنی هاشم پنځه ځلويښت کسان را بلل شوي وو، دوی ټول د سيده خديجة رضی اللہ عنہا په کور کې سره را ټول شول، کوم وخت چې د خوراک ځنښاک معامله پای ته ورسيده، نو حضرت محمد ﷺ هغوی ته د خپل رسالت او د الله تعالی ﷻ د دين خبره وکړه او ورته وې ويل: په تاسو کې څوک ځوک زما ملګرتيا کولو ته تيار دي؟ بنی هاشمو د داسې بيان او خبرو توقع نه درلوده، هغوی ټول چوپ پاتې شول، حضرت علي ● په دې وخت کې ډير کشر وو، مګر را پورته شو او په ډير جرئت يې دا اعلان وکړ، چې دی يې ملګری دی، پاتې نور د ټول خندان خلک ډير سخت ناراضه شول، هغوی بد رد وويل او په تلو تلو کې يې د خپلې دغې بې عزتي د غچ اخيستو اخطرونه ورکول، مګر په دې موقع حضرت سيده بي بي خديجة رضی اللہ عنہا موجوده وه او د پخوا په څير يې دا ځل هم خپل ميړه حضرت محمد ﷺ ته ډاډ ورکولو او د هغه ﷺ حوصله افزائي يې کوله او له هغه ﷺ سره يې هر ډول مرسته کوله

خپلو خپلوانو ته د ميلمستيا او هغوی ته د اسلام د دعوت له ورکولو څه موده وروسته الله تعالی ﷻ حضرت محمد ﷺ ته د ښکاره او عام تبليغ کولو حکم وکړ، حضرت محمد ﷺ ټول خلک را وبلل او د صفا غره پر سر ودريد او هغوی ته يې د سپيڅلي مذهب اسلام په باره

کې خبرې وکړې او له همدې سره سره يې دا اعلان هم وکړ چې دی ◄ د الله تعالی له لورې پيغمبر غوره شوی دی، د دغه اعلان له کولو وروسته حضرت محمد ◄ ته د اذيتونو او مصيبتونو دروازې خلاصې شوې او له ډول ډول ستونزو او کړاوونو سره مخ شو، د مکې مشرکينو ډول ډول پلانونه هغه ◄ ته د نقصان رسولو لپاره جوړ کړل، د هغوی له اسلام سره دښمني دومره زياته شوه کله به هم چې حضرت محمد ◄ د باندې راووت نو د مکه مشرکينو به په ډبرو ويشتلو، مرداري او نجاستونه به يې ور شيندل، څو ځله پر ډبرو د ويشتو له امله د حضرت محمد ◄ پر مبارک سر او څيره باندې وينې روانې شوې، مګر هغه ◄ کله هم د صبر لمن نه پريښود له، حضرت سيده خديجة ﷺ به په خپلو لاسونو د حضرت محمد ◄ زخمونه پاکول، پټی او ملهم به يې پرې لګول، له خدمت او همدردي سره سره يې د هغه ◄ حوصله افزائي هم کوله

د حضرت سيده خديجة ﷺ په منقبو کتابونو دومره څه ليکلي چې جلا جلا کتابونو ته اړتيا لري او نشي کيدلای چې په دومره لنډ ځای کې راټول کړی شي، په صحيحينو کې راځي (په ټول جهان کې افضل ترين د نښځو مريم عليها السلام او خديجة ﷺ دي) په ابن هشام کې راغلي (وکانت له وزير صدق علی الاسلام) هغه ﷺ د اسلام متعلق د حضرت محمد ◄ ربښتونې مشاوره وه.

يو ځل حضرت جبرئيل عليه السلام له حضرت محمد ◄ سره ناست وو بې بې خديجة ﷺ راغله نو وې فرمايل (بشرها ببيت في الجنة من قصب لا صخب فيه ولا نصب) هغې ته په جنت کې د يوه داسې کور زيری ورکړه کوم چې د ملغلرو دی او په کوم کې چې نه شور شته، نه محنت او نه مشقت.

حضرت سيده خديجة ﷺ د پيغمبرې په لسم کال په رمضان المبارک کې په مکه مکرمه کې وفات شوه، په دې وخت کې يې عمر ۶۵ کلونه وو، له حضرت محمد ◄ سره يې کم زيات ۲۵ کلونه ژوند تير کړ، پنځلس کاله له پيغمبرې دمخه او لس کاله له پيغمبرې وروسته، کوم وخت چې وفات شوه په دې وخت کې د جنازه لمانځه حکم نه وو نازل شوی، د کفن له ورکولو وروسته په جنت المعلی کې خاورو ته وسپارل شوه.

رضي الله عنها

لیکوال د اسلامي نړۍ مفکر عالم مولانا سید ابوالحسن علي ندوي (رح)
ژباړه: ش "منصور"

المرتضی کرم الله وجهه

دامیر المؤمنین علی ابن ابي طالب • ژوند لیک

کورنۍ !اوپه راتلونکي نسل یې اغېزي:

بنوهاشم:

په قریشو کې دبنوهاشم کورنۍ حیثیت سرسبد ګل ته ورته و ،اګر که دتاریخ په کتابونو کې یې په اړه نیمګړي مواد موندل کېږي ،هو!کوم څه چې موندل کېږي دهغو په مخکې ایښودو سره مونږ ته دانتیجه په لاس راځي شو چې دقریشو دغه ښاخ (بنوهاشم) ته دخپل انسانې شعور اومیانه روۍ په وجه امتیاز په برخه وه ، ددینې اودماغي پلوه یې هم په نورو فوقیت لاره ،بیت الله (خانه کعبه) چې دالله (ﷻ) په نزد کومه مرتبه اومقام لري ، په هغه یې ښه پوخ ایمان درلود ، زیاتۍ اوظلم یې ګناه ګڼله ، ضد اوکینه یې شعار نه وه ،ښه لوړهمت یې لاره ، له کمزورو او بې وزلا نو سره یې د شفقت اومهربانیو څخه ډک چلند کاو ،سخاوت اوشجاعت یې مزاج و، لنډه داچې اخلاق ، شرافت ، ،حمیت ، همت اوهغو نورخصوصیات کوموته چې په عربې کې دفروسیت (chivalry) جامع لفظ کارول کېږي ، په پوره ډول یې په بنې هاشمو کې شتون لاره ، دهغوئ اخلاق اوسیرت درسول الله (ﷺ) دپلرونو اونیکونو ځانګړتیا وه ، اواسلام چې دکومو عالي اخلاقو بلنه ورکړیده ، ورسره ددوئ اخلاقو مناسبت لاره ، البته تریوه وخته هغوئ هم دخپل وطن دنوروقبایلو په جاهلانه عقایدو کې اودغیر الله په عبادت کې ـه هغوئ سره شریک وو (السیرة النبویه دمصنف ۷۵مخ چاپ ۷ ، دارلشروق جده)

درسول الله (ﷺ) اوحضرت علی (ع) بزرګوار نیکه عبد المطلب بن هاشم :

عبد المطلب بن هاشم دخپل تره "مطلب "وروسته دحاجیانو پاره داوبو رسولو او دهغوئ دمیلمه پالنې (

السقایه والرفاده) دنده درلوده ، نوموړي پخپل وخت کې دخپلوپلرونو اونیکونو پشان دخلکو دغه خدمتونه په ښه پراخه تو ګه سرته رسول ، چې له املـه یې دخلکو ترمنځ ښه باور درلود اوخلکو ورته دعزت او احترام په هغـه ستر ګه کتل چې په کومه دهغه وړاندینو مشرانوته هم نه کتل

عبد المطلب دخپل نیکه "قصي "پشان شتمن اودقریشو یواځینی مخدوم اومطاع نه و ، دغه وخت په مکه کې له هغه نه زیات شتمن ،ددونیاوي وجاهت اوحیثیت څښتنان نور هم وو ، البته هغه هم دمکې په سردارانو کې شمار وه ، ولې چې" سقایه اورفاده" لوړه څوکې وه ،هغه له ده سره وه ، هم یې خپل اړوند مسؤلیتونه په خورا ښه بیداري اوجذبه سرته رسول ، دخپل منصب له لحاظه نوموړی دزمزم کوهې متولي هم و ه او دزمزم اوبه چې دبیت الله سره کوم تعلق لري دهغه په وجه دنوموړي احترام به نورهم زیات کیده .

عبدالمطلب ته په دې چې" بیت الله دخدای (ﷻ) کور دی" ښه پوخ یقین وه اوپه دې یې ښه کلک باور چې هم هغه یې ساتونکی دی ، چې ددې یوه بېلګه دهغو خبرو څخه هم ترلاسه کېږي کومې چې نوموړي دحبشي له پاچا "ابرهه" سره کړي اوترې ددې قریشي سردار لوړ همت اوجلالي شخصیت په ښه تو ګه جوتیږي :

کله چې "ابرهه" په مکه یرغل وکړ ، اودبیت الله دسپکاوي او دهغه دعظمت دپایمالولو اراده یې وکړه ، په ترڅ کې یې هغه (ابرهه) دعبدالمطلب دوه سوه اوښان هم له ځان سره بوتلل ، عبد المطلب دخپلو اوښانو دخلاصون په موخه دابرهه دربار ته دورتګ اجازت وغوښته ، ابرهه هغه ته ددرناوي پخاطر له خپل تخت څخه ښکته شو او په فرش کیناست دعبدالمطلب څخه وپوښتل دکومې اړتیا له امله دې دلته دراتلو زحمت وکړ ؟ عبد المطلب وویل: دلته ځما دراتلو اړتیا دا وه چې ستا کسانو ځما دوسوه اوښان غله کړي اوهغه راته بیرته راکړه!

دعبد المطلب له خولې ددې خبرې په اوریدو ابرهه هغه تـه دحقارت په نظر وکتل او وې ویل: تـه ! ددوسوه اوښانو په اړه خبرو ته راغلی یې اوهغه کور له یادوباسي کوم پورې چې ستا اوستا دپلرونو اونیکونو دین تړاو لري دکوم دړنګولو په اراده چې زه راغلی یم عبد المطلب وویل:

انا رب الابل وان للبیت ربا سیمنعه

زه داوښانو څښتن یم او د "البیت " یوځښتن شته دی هغه به یې دفاع وکړي

ابرهه وویل: هغه ماله خپلې ارادې نشي ګرځولی عبد المطلب ځواب ورکړ: انت وذاک! ته پوه شه اوخپل دي کار !

عبد المطلب صاحب به خپل اولاد ته دظلم اوزیاتي کولو څخه دځانونو لري ساتلو داخلاقو اوشرافت داصولو خپلولو نصیحت کا و ، داتیا کلو په عمر عبد المطلب وفات شو ، هغه مهال رسو الله (ﷺ) داتو کلو په عمر وه ، ددې مطلب داچې چې نوموړی نیږدې په ۵۷۸ز کال کې وفات شوی دی ، تـاریخ پوهانو لیکلي چې په وفات یې تړپړو

ورزو دمکي باذار ترلی وه

دسیدنا علی (ﷺ) پلار ابوطالب :

دابوطالب بن عبدالمطلب بن هاشم بن عبد مناف زوکړه درسول الله (ﷺ) دبختوري زوکړي څخه ۳۵ کاله وړاندې شوي وه ، مشهور روایت دادی چې دهغه (ابوطالب) نوم عبد مناف و، خو پخپل کنیت باندې مشهور وه ، په یو ه بل روایت کې دادي چې دهغه نوم عمران وه . ځینې وایي : شیبه نومیده . نوموړی دقریشو په هغو ممتازو خلکو کې شماروه کومو چې به دخلکو په شخړو اوجنګونو کې دپریکړو کولو ورتیا لرله ، له دې وجې خلکو ورته تل پخپلو مسایلو کې رجوع کوله(بلوغ الارب فی معرفة احوال العرب ۱توک ۳۲۴مخ طبقات الکبری لابن سعد)

عبد المطلب دخپلې مرینې څخه وړاندې ابوطالب ته وصیت کړی و چې په رسول الله (ﷺ) به پام کوي . کله چې عبد المطلب وفات شو ابوطالب دوصیت سره سم درسول الله (ﷺ) پالنه پخپله ذمه واخیسته اوپه ښه پاملرنه اوتوجه یې درسول الله (ﷺ) پالنه وکړه ، یووار یې په کوچنیوالي کې ابوطالب رسول الله (ﷺ) ځان سره شام ته هم بوته . درسول الله (ﷺ) پلار او ابوطالب دواړه حقیقي ورونه وو ، یعنې دیوي مور اویوه پلار اولادوو . موریې "فاطمه بنت عمرو بن عائذ بن عمران بن مخزوم وه" (ابن هشام سیرت ۱توک ۱۷۹مخ)

ابوطالب کوم شتمن سړی نه و ه ، خو خپل وراره ورته دخپل ځوی نه هم زیات ګران وه ، له ځان سره یې اوساوه ، هرچېرې به چې ته ،ځان سره یې بیوه . ددې څخه وړاندې یې له بل هیچا دومره درناوی نه و کړی کوم چې هغه دخپل وراره کاوه . په خوږو کې به یې په خصوصیت سره ورته پام لرنه کوله

ابن اسحاق وایي :بواځې ابوطالب و چې دعبدالمطلب دوفات وروسته یې درسول الله (ﷺ) دپالنې کفالت وکړ اوتل یې دهغه ملاتړ اوملګرتیا کوله

ځنګه چې وړاندې تېر شول چې ابوطالب شام ته په یوه تجارتي سفر دروانیدو په حال کې وه ،چې له امله یې رسول الله (ﷺ) دهغه دجدایې په احساس غمګین شو ابوطالب چې ولیدل نوزړه یې دشفقت له جذبې راډک شو وې ویل :په خدای سوګند زه داماشوم نشم پریښودلی اونه دی ځما بیلتون زغملی شي ، ضروریې له ځان سره یوځای په سفر بوزم (ابن هشام سیرت ۱توک ۱۷۹مخ)

رسول الله (ﷺ) دخپل تره (ابوطالب) دمیرمنې فاطمه بنت اسد په اړه فرمایل :ځماد دمور دانتقال وروسته چې زه دچاله خیټې پیدا شوی یم ، هغه هم داځما مور ده . ابو طالب به چې کله میلمستیا وکړه دکور دنورو ټولوغړو سره به یې زه هم پکې شریکولم ، خوبیا به هم هغې (دابوطالب میرمنې) دخوږو څخه یوڅه شی جلا اپښودل چې هغه به بیا ما کوم بل وخت خوړل

دنومورې (حضرت فاطمه بنت اسد ﷺ) په اړه ابوعمرو وينادە :چې هغه دهاشمي کورنۍ هغه لومړی میر من ده چې دخیتي نه يې يو هاشمي پيداشوی دی (الاستيعاب فی معرفة الاصحاب لابن عبد البر ۲ټوک ۲۶مخ)

کله چې رسول الله (ﷺ)داسلامي دعوت لپاره پورته شو اوپه ښکاره يې دحق اعلان وکړ ، بوتانو اوبوت پالنه يې وغندله ، نوخلکو يې مخالفت شروع کړ ، تردې چې ټول درسول الله (ﷺ) په دښمنۍ کې سره يو شول خوابوطالب په يواځې سر درسول الله (ﷺ) دفاع اوملاتړ ته دوام ورکړ .

هرکله چې دغه معامله (اسلامي دعوت ، اودکفارو عداوت) نهايې زيات شو ،دقريشو مخورمشران ابوطالب ته راغلل اوورته وې ويل :جنابه !ته زمونږ مشر اوسردارې ، مونږ ستا ډېر قدر اواحترام کوو مونږ له تاغواړو چې خپل وراره (داسلامي دعوت څخه) وګرځوه خوتا داونکړل اوس زمونږ دصبر کاسه نوره ډکه شوې ده مونږ خپلو پلرونو اونيکونو ته په بددرډويل ، دخپلې پوهې اوعقل په سپکاوي ، دخپلوخدايانو په تحقير چې څومره صبر کولی شو هغه مو وکړ ، له دې وجې اوس تاته راغلي يو چې يا هغه (محمد ﷺ)پخپله ددې کاره منع کړه او يا مونږ ټول له تاسره جنګ ته تيارپو څو له مونږ نه يولوری ووژل شي . ابوطالب رسول الله (ﷺ) ته دهغوئ خبرې واورولې اوترې وې غوښتل چې په دوئ اوپخپل ځان رحم وکړه درسول الله (ﷺ) ځواب داو :محترمه کاکاجانه !

ا که چېرې داخلک راته په ښې لاس کې لمر اوپه کين لاس کې سپوږمۍ هم کېږدي او بيا راته ووايي : چې دا کار(اسلامي دعوت) مکوه ! زه به يې ونه منم ، ترهغه وخته به يې جاري وساتم چې يا الله (ﷻ) ماته غلبه ر،کړي اويا زه په دې لار کې قربان شم ابوطالب وويل :ځماګرانه وراره ! ته خپل کار روان وساته څه چې وايي هغه وايه !په خدای (ﷻ) سوګند زه به تا هغوئ ته ونه سپارم (ابن هشام سيرت ۱ټوک ۲۶۶-۲۶۵)

کله چې اسلام دعربو په قبايلو کې په خپريدو شو نوقريشو پخپل منځ کې سلا وکړه او دايې طې کړه چې يو داسې لېک وليکئ چې دبنوهاشم اوبنو مطلب په اړه پکې ليکلي وي چې ددې کورنۍ سره دې دغم اوښادۍ اړيکې وشلول شي ، ورباندې هيڅ شی به نه پلورل کېږي . اونه به ترې کوم څېز پيرل کېږي ، دغه پريکړه ليک

یالوظنامه په یوه کاغذ دلیکلو وروسته دکعبي دننه زوړند کړای شوه ، ټولو اومنله ، دبنوهاشم اوبنو مطلب کورنیو وګړي دابوطالب سره ملګري شول اودهغه سره هغوئ هم په شعب کې داخل شول (ابن هشام سیرت ا ټوک ۳۵۰.۳۵۱مخ)

داپینه دنبوت داووم کال دمحرم میاشتي ده تر دري کاله بنوهاشم په دې شعب کې محبوس وو ، په پته به ورته خلکو یوځه رسول په ښکاره مقاطعه وه په هرصورت هرځه چې پیښیدل هغه پینې شول بالاخر وینا هغه عهدپانه وخوړه په دې سره ورباندې عمل هم منسوخ شو (دتفصیل لپاره ابن هشام سیرت اودمصنف کتاب السیرت النبویه ۱۳۸.۱۳۹مخ)

دنبوت په لسم کال دشوال په منځ کې ابوطالب وفات شو ، دغه مهال هغه اتیا کلن وه ، په همدې کال درسول الله (ﷺ) میرمن حضرت خدیجه الکبری (رضی الله عنها) هم وفات وشوه ، ابوطالب اسلام قبول نکړ ، په دې کال رسول الله (ﷺ) ته پرلپسې مصایب پیښ شول له دې وجې یې دغه کال په عام الحزن سره یاد کړ

دعلی بن ابي طالب (رضی الله عنه) ورونه:

دابوطالب څلور ځامن وو ، طالب (دچاپه نامه چې نومورې کنیت ایښی و) دویم عقیل ، درېیم جعفر څلورم علی اودوه یې لونه وې ام هاني اوجمانه ، داټول دفاطمه بنت اسد (رضی الله عنها) دخیټې څخه وو ، اوپه دې ټولو ورونو اوخویندو کې دلسو ، لسو کالو وقفه وه له دې وجې عمی (رضی الله عنه) دجعفر (رضی الله عنه) څخه لس کاله کشر وه

طالب دبدر غزوي وروسته دشرک په حالت کې ومړ ، په یو روایت کې راغلي چې دمکي نه بیرون چېرې په سفر لاړ وه بیرته رانغی اوهیڅ خبرې ونه موندل شو ، هغه له هغو خلکو نه وچې په یوه سفر کې تر لاره رکه شوي وه ، له رسول الله (ﷺ) سره یې په زړه کې محبت کاو اوپه شان کې یې نعتیه اشعار هم ویلي وو ، بدرجنګ ته په نه زړه لاړ وه ، کله چې قریش درسول الله (ﷺ) مقابلې ته ووتل هغوئ ورته په طعنه کې وویل :اې هاشمیانو! مونږ ته ښه جوته ده چې له مونږ سره مجبوراً راغلي یئ کنه په زړه کې ستاسي همدردي دمحمد (ﷺ) سره ده په جنګ بدر کې له کفارو سره یوځای دمسلمانانو سره نه جنګیده . بیرته مکي ته چې ستون شو درسول الله (ﷺ) په باره کې یې داشعارو یوه قصیده وویله (الجوهرة في نسب النبي ﷺ واصحابه العشرة تایف محمد بن بکر بن عبد الله ابن موسی الانصاري انتلمساني المعروف بالبری مړ ۶۸۱ه چاپ دار الرفاعی الریاض لومړی چاپ)نوربیا

په خپل لاس بل کړي اورکې سوځيږي

حسن روی.....

په دنياوي ژوند کې پخپله پروسايلو دخير يا دشر حکم نشي لګېدای ، په وسايلو کې دخير او شر دواړه اړخونه شته بس تر اويې د کارولو سره دی که دخير ډپاره کارول کېږي نو پکې خير دی او که دشر لپاره ترې کار اخستل کېږي نو بيا شر دی.

دنړيوالو رسنيو همدا حال دی . ترې دانسانانو دښې بنوونی سالمې روزنې او انسانانو ته په ټولو چارو کې دسمې لارې دتعين ګټور کار هم اخستل کيدای شو او ترې دانسانانو دبې لارې کولو کار هم . چې متأسفانه اوس مهال نړيوالې رسنۍ زياتره دشر لپاره کارول کېږي : دنړيوالو رسنيو نه اوس يوه وسله جوړه شويده داسې وسله چې د لاس په لاس جنګېدواوډګر ته لاله راوتوړاندې پرې يو اړخ ته دماتی ور کولو کوششونه کېږي په ډېرې اسانۍ ترې دسونو زړو انسانانو درانپور ته کولو اوبيا دوبنو دسيلابونو روانولو کار اخستل کېږي ؛ رسنۍ چې دهمدې شوم هدف لپاره دوسيلې په توګه استعمالېږي ور ته دميډيا وار اصطلاح کارول کېږي.

ترټولو وړاندې دامريکا درسنيوو پراخو اغېزو ته پام شو او دخپلو اهدافو دلاسته راوړولو لپاره يې پراغيزمنې وسيلې تبديل کړې: داسې وسيلې چې پرې دميليونونو انسانانو فکرونه داسې بدلولای شي چې دظلم پر ضد نه يواځې داچې اوازونه پورته نکړي بلکې برعکس مظلومينو ته دظالمانو په نظر وګوري.

بې له شکه چې داسې رسنيو دبمونو او توغندو نه زيات هلاکت خپور کړی : په عراق کې دعامه وژنې دوسلو دشتون دروغ وو او که ټولې نړۍ ته دستر خطر په صفت دطالبانو دمعرفي کولو تبليغاتي کمپاين و ټول دهمدې نړيوالو رسنيو پرمټ وشول : شپه او ورځ به يې دروغ وېل خو داسې روغ به يې وېل چې ډېر ژر يې دخلکو په فکرونو اغېزې وکړې او پرې خپلو شومو اهدافو ته ورسيدل.

پر ټولنې داغيزو په لحاظ په رسنيو کې ترټولو ړومبی مقام دفلم دی : پر ليدونکو دفلم اغېزې ډېرې ټينې او جوړې وي ځکه خو دخپلو سياسي اهدافو دلاسته راوړلو په موخه دولتونه دفلم نه ډېر زيات کار اخلي ، په

ځانګړې توګه امریکا خو ډېرې هڅې کوي چې دهالي ووډ (دامریکا فلمي صنعت) پر مټ خپل کلتور او فکر نړۍ ته خپور کړي او له دې لارې خپل ډېر اهداف ترلاسه کړي: دروسانو پر ضد افغانستان جهاد په حق کې هالي ووډ ځکه فلمونه جوړول چې افغانستان دجهاد کامیابي سره ددوئ دروسانو دماتې خوړلو هدف ترلی و.

هټلر چې په ټولې نړۍ او ځانګړې توګه لویدیځ کې ور ته دتر ټولو نه دستر ظالم انسان په نظر کتل کېږي ترشا یې دفلم ونډه ډېره زیاته ده: ځان ته دټول لویدیځ دخواخوږۍ راجلبولو په موخه یهودو دهولو کاست (دهټلر په لاس دشپږ نیم میلیونو یهودانو دعامه وژنه) د دروغو نه ډکه خبره په نړۍ کې خپره کړه او بیا یې دخلکو زړونو ته ددې خبرې دښه کوزولو لپاره ډېر معیاري فلمونه جوړ کړل: په ټول لویدیځ کې به چې په هولو کاست باندې دجوړو شویو فلمونو دلیدلو نه پس لیدونکي دسینماګانو نه راوتل نو له ستر ګو به یې اوښکې روانې وې او دیهودو دمظلومیت دروغجن داستان به یې په زړونو کې په حقیقت بدل شوی و.

همدارازپه تیرو ۴ لسیزو کې فلم دانتقام اخستلو، دزور له لارې دهر څه کیدلو فکر، قاچاق، دمافیا دزور بسکاره کولو، دفحاشۍ او عریانیت، بدو ردو ویلو، دناوړه جملو او مکالمو داشاعت او عام کولو لپاره ډېر کار وکړ، دکابو ټولې نړۍ ۴ نسلونه تر ډېر اغېزمن شول او دډېرو خلکو اخلاق یې تباه کړل: دجرمونو په اړه جوړ شوي فلمونه دجرمونو دزدکړې تر ټولو بنه ذرائع وګرځېدل او ځوانانو تر ډېره دعز تونو لوټولو، قتل، اختطاف، غلاګانو، دلارو شو کولو او په رښا ورځ د کورونو لوټولو نوې نوې طریقې یادې او عملي کړې.

همدارنګه دمحبت (چې یو هرانسان خپل فطري احساس دی) په نوم جوړ وشوو فلمونو په ځوانانو هلکانو او انجونو کې دافراطي ازادۍ، عیاشۍ، عزت پلورلو او عزت لوټولو کلتور په ډېرې تېزۍ خپور کړ چې له امله یې اوس یواځې په امریکا کې په اوسط ډول په هرې یوې دقیقې کې ۳ میرمني خپل عزت پلوري او دزنا بالجبر شمېره خو بیا ډېره زیاته ده: دفلم او سینما له لارې په نړۍ کې په ډېر سرعت دشر خپریدلو وجه داده چې فلم ځوانان دهیر وینو نه هم زیات اغېزمن کوي: تشدد، لوټمار، ځان وژنه، عزت پلور عزت لوټول او نورې بدې چارې دیو فلم لیدلو نه پس دخام فکر لرونکو ځوانانو لپاره دومره په زړه پورې چارې وګرځي چې بیا په خپل حقیقي ژوند کې هر ځوان ددې ټولوبدوچارو دعملي کولو هڅې کوي چې په امریکا او نور لویدیځ کې له دې امله د تیرو ۲ کلونو راهیسې ډېر ستر شکایتونه رامخې ته شویدي.

هو یواځې په امریکا کې په تیرو څو کلونو کې دبدامنۍ کابو ۱۳ داسې پېښې رامنځته شوي چې په هرې پېښې کې دفلم دیوې صحنې نه اغېزمن شوی ځوان بلاموجبه په لسګونو تنانو وژلي دي.

دزیات پند اخستلوخبره داده چې زیاتره دا پېښې په تعلیمي اداره کې رامنځته شویدي او په هرې پېښې کې قاتل ځوان زده کونکی و.

په ۲۰۰۷ کې په ورجینیاټیک پوهنتون کې یو ۲۳ کلن محصل ناتر سه ډزې پیل کړې او په ځو لمحو کې یې د ۳۲ محصلینو او استادانو ژوند واخست :دا پېښه دیوې سلسلې بنسټ وګرځېد ،امریکایې بې لارو ځوانانو ته دا یوه نمونه شوه او په ۵ کلونو کې ۱۲ نورې داسې پېښې رامنځته شوې چې په هرې پېښې کې په لسګونو کوچنیان غلبیل شول.

په امریکا کې پوهان وایې چې په دې هرې پېښې کې دقاتل ځوان هدف یوائې دخپل وحشي فکر تسکین و، هغه فکر کوم چې دیو نه یو فلم دهمداسې صحنې نه دده دماغو ته راانتقال شوی و.

دامریکا دسنټر فار ډیزیز کنټرول اینډ پریوینشن(سي.ډي.سي)نومې اداره له لورې په یو خپور شوي راپور کې راغلي چې په امریکا کې هر پنځم ځوان ددماغي خلل بنکار دی،دراپور له مخې درواني مرضونو بنکار ځوانانو او کوچنیانو په شمېر ګې ډېر په تېزۍ زیاتوالی روان دی او په امریکا کې د ۱۳ نه تر ۲۰ سلنه ځوانان او کوچنیان درواني مرضونو بنکار ګېږي.

د(سي.ډي.سي) ددې راپور له مخې دامریکا ځوانانو کې درواني مرضونو دخپرېدا تر ټولو ستر لامل برقي رسنۍ او فلمونه دي : په پرله پسې ډول دجنګونو خبرونه اوربدل او دتشدد نه ډک فلمونه لیدل ددهن دعکس العمل بنکاره کولو سبب ګرځي چې ورووروپه ډېرېشمن بدلېږي او بیا همدا مرض دوحشت نه ډک عمل څرګندولو ته انسان اړیاسي . مثلا دخپل پلار یا مور وژل ،دکوچنیانو یا همزولو سکنجه کول او قتلول.

دیادولو ور ده چې په کوچنیانو کې درواني مرضونو ذکر شوې سلنه د۲۰۰۵ نه تر ۲۰۱۱ پورې دتر سره شویو سروېګانو او څېړنو په نتیجه کې معلومه شوېده : په څېړنو کې دا هم معلومه شویده چې په امریکا یې زیاتره ځوانانو کې درواني مرض بیا دځان وژنې سبب ګرځي ځکه خو ځان وژنې شمېره ورځ تر بلې ډېرېږي او دا دامریکا په ځوانانو او کوچنیانو کې دمرینې دوهم ستر سبب ګرځیدلی دی.

حقیقت دا دی چې دامریکا دا کوچنیان او نوي ځوانان ډېر د زړه سوي ور دي ،هغه امریکا چې دټولې نړۍ دقبضه کولو خوبونه وینې پکې کوچنیان دحقیقي شفقت،محبت او اساسي حقوقو نه دمحرومیالي اودامریکایې رسنیو دبې لارۍ کونکو پروګرامونو له امله درواني مرضونو بنکار کیږي چې خبره یې تر ځان وژنې رسېږي .

داسې بنکاري چې قدرت اوس امریکا ته دخپل هر عمل یو څه سزاور کول غواړي : امریکا چې دخپلو پلیتو رسنیو له لارې دټولې نړۍ دانسانانو دګمراه کولو هڅې کولې اوس یې همدې رسنیو خپل ځوانان دبې لارېتوب هغه حد ته ور سول چې له علاج نه یې دوئ ټول عاجز دي . کاش چې امریکایې واکمنان پدې پوه شي چې څوک دنورو کورونه سوځوي یوه ورځ به خپل کور هم داور لمبو کې وینې .

رمضان فصل نیردهای سرنوشت ساز با شیطان و فرزندان آن

محمود احمدنوید

در حالیکه موسم مبارک رمضان شریف فرا رسیده و مجاهدین جان برکف و سر به سنگران حق علیه باطل ، آمادگی های لازم در جنگ های سرنوشت ساز ، با اشغالگران خارجی و نوکران اجیر داخلی را در نظر می گیرند ؛ دشمنان شکست خورده و بزدل ، رمضان را سپر امن خویش قرار داده و به کرات و مرات به التماس افتیده و با صد خواهش و تمنا از مجاهدین ، انتظار توقف جنگ را دارند ؛ آنها با این بهانه که رمضان ماه مبارک و سراسر خیر و فضل است و نباید در این ایام جنگ و خونریزی صورت بگیرد ؛ طوری وانمود می کنند که انگار فقط آنها قدرشناس رمضان ، و ایام پربرکت آن هستند ؛ در حالیکه فراموش کرده اند جنگ علیه مواضع اشغالگران خارجی و نوکران وطنفروش داخلی ، یکی از بهترین و بزرگترین طاعات و عبادات می باشد ؛ "جهاد" واژه مقدسی است که در مفهوم وسیع آن خیلی از عبادت های دیگر شامل می شوند ؛ دشمنان اسلام و ملت افغانستان (که در این روزها سخت ترین ایام خود را در افغانستان سپری می کنند) به هرچیز به عنوان دستگیره دست می اندازند به این امید که ماشین جنگی مجاهدین را خاموش و یا کند کنند ؛ آنها با استفاده از الفاظ زیبا ، کلمات پاک و سخنانی بظاهر دلسوزانه سعی دارند افکار عامه را نسبت به جهاد مقدس فعلی و مجاهدین برحق ، گمراه ساخته و در واقع با سپر کردن مقدسات جان و مال خود را در امان ، و ظلم و طغیان ، قتل و جنایت ، کشتار بی گناهان و مردم ستمدیده (که توسط عساکر وحشی صفت آنها روزانه رخ می دهد) را مشروعیت ببخشند و امنیت و سلامتی سر خود را تضمین کنند ؛ و الا ، مگر مجاهدین قهرمان کشور با ملت خود می جنگند که به جنگ آنها شوم گفته شود و لازم باشد که در آن تقدس ماه رمضان شریف در نظر گرفته شود ؟؟؟

مگر مجاهدین بخاطر چوکی و منصب می جنگند که باید حرمت ماه های حرام را مد نظر بگیرند ؟

مگر جنگ مجاهدین ، نامی جز "جهاد مقدس" دارد که باید در ماهی خاص ؛ مثل رمضان شریف متوقف بشود ؟

مگر یکجا شدن فعل جهاد با فعل روزه از نگاه شرعی مشکل دارد که لازم شود در رمضان جهاد علیه اشغالگران و مزدوران آنها را ترک کرد ؟

جهاد ، جهاد است مرز زمان و مکان نمی شناسد تا کنار بر سرزمین مسلمانان مسلط هستند جهاد فرض عین می باشد ؛ بی کم و کاست و بدون چون و چرا ؛ و حق در ماه مبارکی مثل رمضان شریف که ثواب و پاداش هر عمل نیک چند برابر می شود ؛ آیا مگر برتر از عمل جهاد مقدس دیگر عملی هست ؛ آیا جهاد جزو بزرگترین عبادت ها نیست ؟ آیا برداشت تکالیف و سختی ها در راه جهاد از اعظم عبادات به حساب نمی آیند ؟ آیا گام های استوار و ایمان افروز مجاهدین ، در راه اعتلای کلمه الله و اعزاز دین حق ، و آزادی کشور اسیر ، جزو برترین اعمال و پرسودترین کارهای خیر محسوب نمی شوند ؟ آیا شهادت کمال نیست ؟ آیا برترین عبادت ، شهادت مخلصانه در راه رضای حق نیست ؟ آیا رمضان ماه عبادت نیست ؟ پس چه عبادتی برتر و بالاتر از قدم برداشتن در راه عزت دین ، شهادت ، جهاد و جنگیدن با سپاه طاغوتی دشمنان ؟؟؟

شکی نیست این ترفند دشمنان زیرک اسلام مقدس است که برای تحریف افکار عامه و نجات خویش از باتلاق جنگ افغانستان مطرح می کنند ؛ و مثل بمب ، در رسانه ها منفجر می شود ؛ این روزها که ایام ماه مبارک رمضان شروع شده ، حتا به یاری و مدد الله جل جلاله ضربات کنرشکن لشکر حضرت سیدنا خالد بن ولید – رضی الله عنه – علیه سپاه شیطان نیز افزایش پیدا می کنند و فرزندان غیور این سرزمین ، بسی حماسه های بی نظیر و تاریخی خلق خواهند نمود و علی رغم انف دشمنان خارجی و فریب خورده های داخلی "جهادمقدس" پر قوت تر از دیگر ماه ها ادامه پیدا خواهد کرد . ان شاء الله

اینکه "بان کوینش" نماینده خاص سازمان ملل برای افغانستان ، در مورخه 1392/4/17هش صراحتا از طرف های درگیر و کنایتا از مجاهدین خواستار توقف جنگ شده و به نقل از رسانه ها گفته : " ... خانواده سازمان ملل متحد در افغانستان فرا رسیدن ماه مبارک رمضان را به تمام مردم افغانستان تبریک می گوید و از تمام طرف های درگیر جنگ می خواهد که به تقدس ماه مبارک رمضان احترام قایل شوند و بگذارند که خانواده های افغان در جریان این ماه به امن و آرامش به عبادات خود ادامه دهند ... " باید در جوابش گفته شود که در افغانستان چیزی به نام جنگ و جود ندارد و اگر منظور شما از جهاد جاری است که هیچگ توسط فرزندان قهرمان میهن آزادگان جریان دارد ؛ باید بدانید که این جهاد هرگز لحظه ی آرامش برای شما دشمنان متجاوز باقی نمی گذارد و این آرزو را باید باخود به گور ببرید در حالیکه ملت مظلوم افغانستان در موجودیت عساکر و حشی صفت و ادوات جنگی و نظامی شما ، گاهی هم احساس آرامش و امنیت نمی کنند و بدترین ایام تاریخ خود را سپری می کنند ، با این حال شما با بی شرمی از فرزندان دلاوردل کشور می خواهید ، سلاح شان را به زمین گذاشته و به حرمت ماه مبارک رمضان ، مثلا جنگ را متوقف کنند ؛ شما از حرمت می گوئید ؟ از شما می پرسیم : کدام حرمت ؟ شما آگر معنی حرمت و انسانیت را می دانستید و می فهمیدید و آگر واقعا خیرخواه و دلسوز ملت افغانستان بودید ؛ اینهمه لشکرکشی نمی کردید و به اشغال خاک این مردم و کشتار ساکنین آن نمی پرداختید و یا حداقل این جنگ را پایان می دادید ؛ لازم نیست شما حرمت را برای این مردم ترجمه کنید ؛ چون این مردم خود معنی حرمت را می دانند که حرمت ، شرف ، حیثیت و هستی آنها در احیای جهاد مقدس و در گرو آن ، و فعال بودن این پروژه مقدس ، نهادینه شده و خود با تداوم جهاد ، حرمت و عزت از دست رفته خویش را از دست شما متجاوزین به حول و قوه الهی با افتخار و اقتدار ، بزودی باز پس خواهند گرفت .

کرزی حاکم تحمیلی و رئیس نظام فاسد و دست نشانده نیز در تایید سخن اربابان خود پیامی در مورخه 1392/4/18هش به مناسبت ماه مبارک رمضان به مجاهدین ارسال نموده که عینا عکس سخنان فرمایشی باداران وی می باشد ؛ به نقل از منابع خبری آمده : " ... (کرزی) یک بار دیگر از طالبان خواست، جنگ را پایان داده و به مذاکرات صلح حاضر شوند ... از طالبان خواست به کشتار و اذیت مردم افغانستان پایان دهند ... درین پیام خود از طالبان همچنان خواست، خود را از گرو بیگانه ها برهانند ... " این سخنان پراکنده مردی است که دیگر به پایان راه رسیده است ، او که در مدت بیش از دوازده سال ، خدمتکاری بی چون و چرا ، سرسپرده ی بی قید و شرط ، و غلامی تمام عیار ، برای دشمنان خارجی بوده است ؛ اکنون با ترس و وحشت ؛ مثل همیشه و عادت غلامان و غلامزادگان ، از موضع ضعف با التماس و تضرع از مجاهدین ، می خواهد که دست از سر کهل وی برداشته و بگذارند کشور و ملت عزیز افغانستان در آتش ظلم و اشغال دشمنان ددمنش همچنان بسوزند ، و کاری به کار کسی نداشته باشند ، او که با وطنفروشی ، در طی بیش از یک دهه ، همه ارزشهای ملت تاریخی افغانستان را در نوکری به غرب ، بر باد داده است ، حال با اصرار تمام ، از مجاهدین ، می خواهد دست از جهاد برداشته و به جنایتکاران خارجی فرصت جنایت پیشگی بدهند و در حالیکه روزانه مردم بی دفاع و بی گناه کشور هدف بمباردمان های هوایی و زمینی دشمنان خارجی و عساکر اجیر داخلی قرار می گیرند و خود از نوک پا تا فرق سر در همه چیز به غرب طفیانگر و متجاوزین خارجی وابسته اند ؛ با بی شرمی تمام به مجاهدین ، اتهامات ناروا و نادرست می زند ؛ اما که نه کرزی و نه اربابان خارجی او ، نه حرمت مقدسات می فهمند و نه حرمت انسان ، و همه این سخن ها و پیام ها در مناسبت های خاص فقط و فقط بخاطر کتمان شکست ، و حفظ روحیه شکسته شده نظامیان خارجی و داخلی ، و از همه مهمتر برای کتمان واقعیت های جنگ موجود در افغانستان بوده و در مسیر تحریف افکار عامه ، پلان گذاری شده اند که به هر حال با مقاومت ها ، فداکاری ها ، حماسه آفرینی ها و دلاوردلی های مجاهدین همیشه جاوید افغانستان و اجرای پلان های منظم و تاکتیک های دقیق و حساب شده نظامی ، تمام نقشه های شوم دشمنان نقش برآب شده و جهاد مقدس بر همان حدت و شدت سابق و بلکه بهتر و بیشتر از قبل در ایام خجسته رمضان شریف نیز ، همچنان ادامه می یابد ...

گرچه تحلیل تحلیل گران منافع غرب در مورد فعالیت های مجاهدین و سخن سخنوران کافردوست و اسلام دشمن در آستانه ماه مبارک رمضان ، بسیار زیاد است ؛ لکن ما به ذکر دو مورد فوق ؛ به مثابه مشتی نمونه خروار بسنده می کنیم ؛ و امیدواریم رمضان امسال با روزه روزداران و دعاهای خاص در مواقع حضور و افطار ، بهترین پشتیبانی ها از سرسپردگان راه اسلام و مجاهدین غیرتمند کشور بشوند و شاهد رمضانی سرشار از فتح و پیروزی و خبرهای خوشحال کننده از سنگرهای داغ جهادی باشیم و نیز شکست قطعی شیطان بزرگ و فرزندان او را با دو سلاح شیطان شکن ؛ روزه و جهاد هماند تاریخ پر افتخار دیروز خود به تکرار بگیریم . انشاء الله !

دافغانستان اسلامي امارت
دفرهنګي چارو کمیسیون

مورچل

میاشتني خبرونه

دتلفاتو میاشتنی جدول

اووم کال شپږمه ګڼه، پر لپسې 58 ګڼه ، شعبان المعظم 1434 هـ ق ، جون 2013م

دجهادي عملیاتو انځور ګر ولایتونه

شماره	ولایت	صفحه
1	غزني	111
2	زابل	122
3	پروان	94
4	پکتیکا	101
5	پکتیا	97
6	خوست	109
7	دای کندی	195
8	کونړ	125
9	کاپیسا	120
10	لوګر	134
11	میدان وردګ	1143
12	اروزګان	137
13	قندهار	196
14	فراه	192
15	کابل	119
16	ننګرهار	155
17	لغمان	131
18	هرات	180
19	نیمروز	189
20	بادغیس	186
21	کندز	166
22	بغلان	169
23	فاریاب	178
24	غور	188
25	هلمند	224
26	تخار	172
27	بدخشان	173
28	بلخ	174
29	سرپل	177
30	نورستان	165
31	جوزجان	175
32		

ارزگـــــــان

دهراودکې پوسته فتح اودقومندان په شمول 3 عسکرووژل شول

داروزگان ولایت ددهراودولسوالۍ اړوند دورجان په سیمه کې داجیر دښمن په پوسته دوسلوال بریدپه مهال پوسته فتحه،دقومندان درویش په شمول ۳ تنه عسکر مړه او ۴ تنه نور سخت ژوبل شول. 2013/6/1

دهراود غلچکي بریدکې یوپولیس ووژل شو

داروزگان ولایت ددهراودولسوالۍ په بازار کې یوتن پولیس دمجاهدینو له لوري دیوه غلچکي بریدپه ترڅ کې ووژل شو. 2013/6/2

دهراودکې 1 پوسته فتح 2 پولیس ووژل شول

داروزگان ولایت د دهراودولسوالۍ اړوند دورجان په سیمه کې دپولیسو په پوسته وسلوال بریدترسره شو.په بریدکې ۲ تنه پولیس مړه او یوامریکایي موټرسایکل غنیمت شو 2013/6/2

دهراودکې د اردوپه قرارگاه وسلوال بریدترسره شو

داروزگان ولایت ددهراودولسوالۍ اړوند ددرشانک په سیمه کې داجیري اردوپه قرارگاه وسلوال بریدترسره شو،په بریدکې دښمن ته تلفات واوښتل خوکره شمېره یې نه ده څرگنده شوې. 2013/6/2

ترینکوټ کې په پوسته برید3 پولیس ووژل شول

داروزگان ولایت دمرکز ترینکوټ اړوند دسرخوم په سیمه کې دښمن په پلې گزمه دماین چاودنه وشوه، چاودني له امله ۳ تنه پولیس ووژل شول.2013/6/3

خاص روزگان کې 12 اربکیان له مجاهدینوسره یوځای شول

داروزگان ولایت دخاص روزگان ولسوالۍ په مربوطاتو کې 12 تنه اربکیان (عیدمحمد، سهراب، محمد الله، مردان، نعمت، خدای بخش، خدایداد، غلام حیدر، سیدحسین، ببل، حسین اوولي محمد) دحقایقوپه درک کولو له اسلامي امارت سره یوځای شول. 2013/6/4

ترینکوټ کې یوپولیس ووژل شو

داروزگان ولایت مرکز ترینکوټ ته نژدې دمنارپه سیمه کې دمجاهدینوله لوري دیوه غلچکي بریدپه ترڅ کې یوتن پولیس ووژل شو. 2013/6/5

چوري کې دجاسوسي اداري 2 مهم غړي قتل شول

داروزگان ولایت دچوري ولسوالۍ په مربوطاتو کې دجاسوسي شبکي دوه مهم غړي هریو محمد هاشم او عصمت الله دمجاهدینوله لوري دیوه تکتیکي بریدپه ترڅ کې مړه او موټریې مجاهدینوغنیمت کړ. 2013/6/5

چهارچینو کې اشغالگرو 5 کلیوال شهیدان کړل

داروزگان ولایت د چهارچینو ولسوالۍ اړوند دخودپه سیمه کې اشغالگروچاپه ووهله چې دمجاهدینوله سخت بریدسره مخامخ شول،دبریدپه مهال دښمن ته تلفات واوښتل ،وروسته اشغالگرو دخپل عادت له مخي په سیمه کې د2 تنو سپین ږیرو په شمول 3 تنه کلیوال په شهادت ورسول اناالله واناالیه راجعون. 2013/6/5

خاص روزگان کې 1 پوسته فتح 5 پولیس ووژل شول

داروزگان ولایت دخاص روزگان ولسوالۍ اړوند دمتک خان په سیمه کې داجیر دښمن په 3 پوستو وسلوال بریدترسره شو.په بریدکې یوه پوسته په بشپړه توگه فتحه ،5 تنه پولیس مړه اودقومندان شاه محمودپه شمول څلور تنه نور سخت ژوبل شول ،په جگړه کې یوتن مجاهد دشهادت لوړمقام ته ورسید، 2013/6/6

خاص روزگان کې 2 پولیس ژوبل شول

داروزگان ولایت دخاص روزگان ولسوالۍ اړوند دگودرپه سیمه کې له پولیسو سره سخته جگړه وشوه چې په ترڅ کې یې ۲ تنه پولیس سخت ژوبل شول. 2013/6/6

چوري کې 2 عسکرله مجاهدینوسره یوځای شول

داروزگان ولایت په چوره ولسوالۍ کې دوه تنه عسکر (اهل الله او کریم الله) دحقایقوپه درک کولو له اسلامي امارت سره یوځای شول. 2013/6/6

دهراودکې په ټانک چاودنې 3 عسکر ژوبل کړل

دا روزګان ولایت د دهراود ولسوالۍ اړوند ددوو جې په سیمه کې داجیري اردو ټانک دماین بنکار شو. د چاودنې له امله ټانک تخریب او ۴ تنه عسکر سخت ژوبل شول. 2013/6/6

چهارچینو کې د چاپې په مهال 4 اشغالګر ووژل شول

دا روزګان ولایت د چهارچینو ولسوالۍ اړوند ددوان په سیمه کې له اشغالګرو سره سخته جګړه وشوه، په جګړه کې 4 تنه اشغالګر عسکر ووژل شول. د جګړې په مهال 3 تنه مجاهدین دشهادت لوړ مقام ته ورسیدل. انا لله وانا الیه راجعون. وروسته دښمن دسیمې 6 تنه کلیوال له ځان سره دبندیانو په توګه بوتلل. 2013/6/6

چهارچینو کې یو پولیس ووژل شو

دا روزګان ولایت د چهارچینو ولسوالۍ اړوند دهوشې بازار ته څېرمه دیو تن پولیس (لالا) په موټر سایکل دماین چاودنه وشوه، په چاودنه کې لالا ووژل شو او موټر سایکل یې وبجار شو. 2013/6/6

چنارتوکې اپولیس له مجاهدینو سره یوځای شو

دا روزګان ولایت د چنارتو ولسوالۍ اړوند دباریکې دکلي اوسیدونکي یو تن پولیس (زکریا) دحقایقو په درک کولو له اسلامي امارت سره یوځای شو. 2013/6/7

چهارچینو کې 7 تنه پولیس له مجاهدینو سره یوځای شول

دا روزګان ولایت د چهارچینو ولسوالۍ دساخر کوتل د پوستې 7 تنه پولیس (محمد ولي، نسیم، نیسم، صادق، رحمن، عالم ګل او نسیم) دحقایقو په درک کولو له اسلامي امارت سره یوځای شول. نومورو له ځان سره دیوه ثقیل په شمول 7 میله کلاشنکوفونه ترمجاهدینو پورې راوړسول. 2013/6/8

دهراودکې د دښمن پوستې تربیدلاندې راغلې

دا روزګان ولایت اړوند دباز ګیر اودهزک پر امنیتي پوستو پراخ وسلوال بریدترسره شو. په بریدکې د دښمن ته دور اوښتو تلفاتو په اړه دقیق معلومات نه دي ترلاسه شوي. 2013/6/8

دهراودکې په ټانک چاودنې 3 عسکر ووژل

دا روزګان ولایت د دهراود ولسوالۍ اړوند د تنګي د درجې په سیمه کې داجیري اردو ټانک په ماین والوزول شو. په پېښه کې ټانک ویجار او ۴ تنه عسکر مړه اودوه تنه نور سخت ژوبل شول. 2013/6/9

خاص روزګان کې یو عسکر له مجاهدینو سره یوځای شو

دا روزګان ولایت د خاص روزګان ولسوالۍ اړوند د پیروج دکلي اوسیدونکی یو تن عسکر (عمرخان) دحقایقو په درک کولو له اسلامي امارت سره یوځای شو. 2013/6/9

چنارتوکې 8 پولیس له مجاهدینو سره یوځای شول

دا روزګان ولایت په چنارتو ولسوالۍ کې 8 تنه پولیس (نجی الله، اشرف الدین، نازک، مرتضی، محمدعظیم، عبدالمطلب، عبدالمتین او عبدالرحیم) دحقایقو په درک کولو له اسلامي امارت سره یوځای شول. 2013/6/9

دهراودکې یوه کلیوال داشغالګرو ټانک په لاسي بم وویشت

دا روزګان ولایت د دهراود ولسوالۍ اړوند دزرتالي په سیمه کې یو تن بااحساسه کلیوال داشغالګرو په زغرو ال ټانک دلاسي بم بریدترسره کړ. دبریدپه مهال په ټانک اوربل شواو په بشپړه توګه وسوزول شو. 2013/6/9

دهراودکې پوسته فتح کړ مهمات غنیمت شول

دا روزګان ولایت د دهراود ولسوالۍ اړوند د تنګي په سیمه کې د پولیسو په یوه امنیتي پوسته وسلوال بریدترسره شو. په بریدکې پوسته فتحه، ۴ تنه پولیس مړه او ګڼ شمیر مهمات غنیمت شول. 2013/6/9

دهراودکې د جاسوسي شبکې 2 مهم غړي ووژل شول

دا روزګان ولایت د دهراود ولسوالۍ په بازار کې د دښمن د جاسوسي شبکې دوه تنه غړي ووژل شول. 2013/6/9

چنارتوکې له اربکیانو سره جګړه وشوه

دا روزګان ولایت د چنارتو ولسوالۍ د کرک توغې په

سیمه کې له اربکیانو سره سخته جګړه وشوه، په جګړه کې د دښمن د تلفاتو په اړه دقیق معلومات نه دي ترلاسه شوي. 2013/6/9

چوري کې یو پوځوانی قومندان ووژل شو

دا روز ګان ولایت د چوري ولسوالۍ اړوند د خوشغدیر په سیمه کې د مایین چاودنې یو تن پولیس (عبدالمحمد) ووژل شو او موټر سایکل یې ورویجاړ کړ. 2013/6/11

دهراود کې 8 پولیس له مجاهدینو سره یوځای شول

دا روز ګان ولایت په دهراود ولسوالۍ کې 8 تنه پولیس (غلام نبي، میرویس، داود، سیدعلي، داود، غلام علي، صلاح الدین اوزرګي) د حقایقو په درک کولو له اسلامي امارت سره یوځای شول. 2013/6/11

چهارچینو کې 1 عسکر له مجاهدینو سره یوځای شو

دا روز ګان ولایت د چهارچینو ولسوالۍ دشامنشد اوسیدونکی یو تن عسکر شیر محمد د حقایقو په درک کولو له اسلامي امارت سره یوځای شو. 2013/6/12

دا روز ګان په چنار تو کې ایمبولانس چورلکه راوغورځول شوه

دا روز ګان ولایت د چنار تو ولسوالۍ د کلاتک په سیمه کې داشغالګرو یوه ماهي ډوله ایمبولانس چورلکه د مجاهدینو له لوري رانسکوره شوه او یکي سپاره عسکر ووژل شول. له پیښې وروسته دښمن څلور تنه کلیوال له ځان سره د بندیانو په توګه یووړل. 2013/6/12

ترینکوټ کې دیوه سپي په شمول 2 پولیس ووژل شول

دا روز ګان ولایت د مرکز ترینکوټ اړوند کوټ والو له هدیرې سره په ګودا ګیو عسکرو هغه مهال د مایین چاودنه وشوه چې مایندونه یې لټول، په چاودنه کې مایین پیدا کونکی سپي او دوه تنه پولیس ووژل شول. 2013/6/12

خاص روزګان کې 1 عسکر له مجاهدینو سره یوځای شو

دا روز ګان ولایت د خاص روز ګان ولسوالۍ اړوند د پیروز د کلي اوسیدونکی یو تن عسکر عمر خان د حقایقو په درک کولو له اسلامي امارت سره یوځای شو. 2013/6/12

چنار تو کې یو عسکر له مجاهدینو سره یوځای شو

دا روز ګان ولایت په چنار تو ولسوالۍ کې یو تن عسکر (امین جان) د حقایقو په درک کولو له اسلامي امارت سره یوځای شو. 2013/6/12

ترینکوټ کې په پوسته وسلوال برید ترسره شو

دا روز ګان ولایت د مرکز ترینکوټ اړوند د لور درویشان په سیمه کې د قومندان باچا په پوسته وسلوال برید ترسره شو په برید کې د دښمن ته د اوښتو تلفاتو شمېره نه ده ترلاسه شوې. 2013/6/12

دهراود کې په امنیتي پوسته برید ترسره شو

دا روز ګان ولایت د دهراود ولسوالۍ اړوند د غار په سیمه کې د پولیسو په یوه امنیتي پوسته پراخ وسلوال برید ترسره شو. په برید کې د دښمن ته د اوښتي زیان معلومات نشته. 2013/6/14

خاص روزګان کې 2 پولیس او 2 موټر سایکل له منځه لاړل

دا روز ګان ولایت د خاص روز ګان ولسوالۍ اړوند د توشکانو د غونډۍ د پوستې په پولیسو د وه مایینونه وچاودېدل، په چاودنو کې دوه موټر سایکل ویجاړ، دوه تنه پولیس مړه او دوه تنه نور سخت ژوبل شول. 2013/6/14

ترینکوټ کې د پولیسو په پوسته برید ترسره شو

دا روز ګان ولایت د مرکز ترینکوټ اړوند د پای ناوې د حریم شاه په سیمه کې د پولیسو په پوسته وسلوال برید ترسره شو، په برید کې د دښمن ته مرګ ژوبله واوښته خو کره شمېره یې نه ده په ډاګه شوې. 2013/6/14

دهراود کې د دښمن پوسته تر برید لاندې راغله

دا روز ګان ولایت د دهراود ولسوالۍ اړوند د چنو په سیمه کې د پولیسو په پوسته وسلوال برید ترسره شو، په برید کې د دښمن ته د اوښتي مرګ ژوبلې کره شمېره نه ده څرګنده شوې. 2013/6/14

چنار تو کې 1 پوسته فتح او ګڼ مهمات غنیمت شول

دا روز ګان ولایت په چنار تو ولسوالۍ کې د پولیسو په 2 امنیتي پوستو پراخ وسلوال برید ترسره شو، په برید کې یوه

پوسته پوره فتحه او 6 کلاشنکوفونه، یوه دهشکه، یوراکټ، یوثقیل اونور مهمات پکې مجاهدینو غنیمت کړل 2013/6/15.

ترینکوټ کې په پوسته برید 3 پولیس قتل شول

داروزګان ولایت د مرکز ترینکوټ اړوند دلوړ درویشان دقلعه نو په سیمه کې دپولیسو په پوسته وسلوال برید ترسره شو، دبرید په مهال درې تنه پولیس ووژل شول 2013/6/15.

چهارچینو کې دقومندان په شمول 2 پولیس ووژل شول

داروزګان ولایت د چهارچینو ولسوالۍ اړوند دساخر په سیمه کې دپولیسو په رینجر موټر دماین چاودنه وشوه، دچاودني له امله موټر ویجاړ او دقومندان په شمول دوه تنه پولیس ووژل شول. 2013/6/15

خاص روزګان کې یو پولیس له مجاهدینو سره یوځای شو

د روزګان ولایت دخاص روزګان ولسوالۍ اړوند دسلطان محمد ناوې اوسیدونکی یو تن پولیس (مولاداد) دحقایقو په درک کولو له مجاهدینو سره یوځای شو، نوموړي یو میل کلاشنکوف 6 چانټي اودوه لاسي بمونه هم ترمجاهدینو پوري راورسول. 2013/6/15

چهارچینو کې 1 عسکر له مجاهدینو سره یوځای شو

داروزګان ولایت دچهارچینو ولسوالۍ اړوند دیمني کلي اوسیدونکی یو تن عسکر (باري) له مجاهدینو سره یوځای شو، نوموړي یو موټر سایکل هم ترمجاهدینو پوري راورساوه. 2013/6/15

چنارتو کې 7 اربکیان قتل 3 نور ژوبل شول

د اروزګان ولایت دچنارتو ولسوالۍ دچکجوی په سیمه کې له دښمن سره جګړه وشوه، کله چې سیمي ته نور اربکیان راورسیدل تر بریدلاندي راغلل، په برید کې یو رینجر موټر پوره تخریب، 7 تنه اربکیان مړه اودرې تنه نور سخت ژوبل شول په جګړه کې دوه تنه مجاهدین زخمیان شول. 2013/6/16

دهراود کې پوسته فتحه 7 اربکیان ووژل شول

داروزګان ولایت ددهراود ولسوالۍ اړوند دغاړو ناوې په سیمه کې دقومندان محمد الله په پوسته دوسلوال برید په مهال پوسته په بشپړه توګه فتحه او 7 تنه اربکیان مړه او څلور تنه نور سخت ژوبل شول، په جګړه کې درې کلاشنکوفونه یوه غټه مخابره اونور مهمات غنیمت شول 2013/6/16

ترینکوټ کې 1 پولیس قتل موټر اووسله یې غنیمت شوه

د اروزګان ولایت دمرکز ترینکوټ اړوند دساګي دښت په سیمه کې دپولیسو په کرولا موټر برید ترسره شو، په برید کې یو تن پولیس مړ موټر او یو میل کلاشنکوف یې غنیمت شو 2013/6/16

چوري کې 1 عسکر له مجاهدینو سره یوځای شو

داروزګان ولایت دچوري ولسوالۍ دعشزو دکلي اوسیدونکی یو تن عسکر (رفیع الله) دحقایقو په درک کولو له اسلامي امارت سره یوځای شو. 2013/6/16

ترینکوټ کې اشغالګرو 4 کلیوال بندیان او یو شهید کړ

داروزګان ولایت دمرکز ترینکوټ اړوند دخورما په سیمه کې اشغالګرو دچاپي په مهال څلور تنه کلیوال بندیان او یو تن یې شهید کړ، انالله وانا الیه راجعون 2013/6/17

چنارتو کې 4 پوستي تر برید لاندي راغلي

داروزګان ولایت دچنارتو ولسوالۍ دشفلاک په سیمه کې داجیر دښمن په څلور پوستو وسلوال برید ترسره شو، په برید کې دښمن ته داوښتو تلفاتو شمېره نه ده ترلاسه شوې، په جګړه کې یو تن مجاهد زخمي او یو تن دشهادت لوړ مقام ته ورسید، انالله وانا الیه راجعون 2013/6/17

چنارتو کې ماین 2 پولیس قتل 2 ژوبل کړل

داروزګان ولایت دچنارتو ولسوالۍ اړوند دګرم آب ددورجي په سیمه کې په اجیر دښمن دماین چاودنه وشوه، دچاودني له امله دوه تنه پولیس مړه اودوه تنه نور سخت ژوبل شول. 2013/6/18

ترینکوټ کې قومندان ژوبل 4 پولیس ووژل شول

داروزگان ولایت دمرکز ترینکوټ اړوند دډاکتر مانده په سیمه کې دقومندان جمیع الله په پیلډر سراچه دماین چاودنه وشوه، په چاودنه کې موټر ویجاړ، څلور پولیس مړه اونوموړی قومندان سخت ژوبل شو. 2013/6/18

ترینکوټ کې داشغالګر ماین پال ټانک دماین ښکار شو

داروزگان ولایت دمرکز ترینکوټ اړوند دبولاغ په سیمه کې داشغالګر وماین پاک ټانک دماین ښکار شو، په پېښه کې ټانک په بشپړه توګه تخریب شوخودمرګ ژوبلي په اړه یې دقیق معلومات نه دي ترلاسه شوي. 2013/6/18

دهراودکې دقومندان معاون قتل وسله یې غنیمت شوه

داروزگان ولایت ددهراودولسوالۍ اړوند دچینوپه سیمه کې دیوې امنیتي پوستي دقومندان ګوډامان الله معاون (بابی) دمجاهدینوله لوري دیوه غلچکي بریدپه ترڅ کې ووژل شو. 2013/6/19

خاص روزگان کې پوسته فتح 1موټر 4موټر سایکل غنیمت شول

داروزگان ولایت دخاص روزگان ولسوالۍ اړوند دپیروج په سیمه کې دقومندان حاکم فدایي په پوسته وسلوال بریدترسره شو، په برید کې پوسته فتحه دوه تنه اربکیان مړه اوبوبل سخت ژوبل په برید کې ددښمن یورینجر موټر څلور عرادي موټر سایکلان، دوه کلاشنکوفونه، اوګڼ شمیر نور مهمات مجاهدینوغنیمت کړل. 2013/6/19

خاص روزگان کې په ګڼو امنیتي پوستو بریدترسره شو

داروزگان ولایت دخاص روزگان ولسوالۍ دقلعه خود، شالي ناوي، اومتکزوپه سیمه کې داجیر دښمن په ګڼ شمیرپوستو هم غږي وسلوال بریدونه ترسره شول، په بریدونو کې دښمن ته درانه تلفات واوښتل خوکره شمېره یې نه ده څرګنده شوې. 2013/6/19

چوري کې په موټر سایکل سپاره 2اربکیان ووژل شول

داروزگان ولایت دچوري ولسوالۍ اړوند دکوتله په سیمه کې داربکیانوپه موټر سایکل دماین چاودنه وشوه، دچاودني له امله موټر سایکل تخریب او دوه تنه اربکیان ووژل شول. 2013/6/20

دهراودکې دقومندان په شمول5پولیس له مجاهدینوسره یوځای شول

داروزگان ولایت ددهراودولسوالۍ اړوند دتنګي په سیمه کې دیوې امنیتي پوستي ټول پولیس(باقي ،خان ، محمود ، اوزلمی) دقومندان(بورجان) په شمول دحقایقوپه درک کولو له اسلامي امارت سره یوځای شول ،نوموړوبومیل ثقیل ، شپږمیله کلاشنکوفونه اوګڼ شمیر مهمات مجاهدینوته راوړل. 2013/6/20

دترینکوټ دوه تنه پولیس له مجاهدینوسره یوځای شول

